افغانستان اسلامی امارت

دلوړو زده کړو وزارت

دعلمي چارو معینیت

سلام پوهنتون

د شرعیات او قانون پوهنځي

د فقه او قانون د ماسترۍ پروګرام


# د امنیت او عامه نظم پر وړاندې جرمونه د فقه او قانون په رڼا کې

(د ماسترۍ رساله)


محصل: قیام الدین "قانت"

لارښود استاذ : استاد وزیر محمد "سعیدي"


کال: ۱۴۰۲هـ.ش ـ ۱۴۴۵هـ.ق

افغانستان اسلامی امارت
دلوړو زده کړو وزارت
دعلمي چارو معینیت

سلام پوهنتون
د شرعیات او قانون پوهنځي
د فقه او قانون د ماسترئ پروګرام

# د امنیت او عامه نظم پر وړاندې جرمونه د فقه او قانون په رنا کې

(د ماسترئ رساله)

محصل: قیام الدین "قانت"
لارښود استاذ : استاد وزیر محمد "سعیدي"

کال: ۱۴۰۲هـ ش – ۱۴۴۵هـ ق

بسم الله الرحمن الرحيم

# سلام پوهنتون

## د شرعیات اوقانون پوهنځی

### د فقه اوقانون دیپارتمنت

### د ماسترۍ بورډ

---

# تـــصدیق نـــامـــه

ښاغلی قیام الدین د امین جان زوی د ID: **SH-MSF-S1400-778** نمبر ترونکی،د فقه اوقانون د نهمی دوری محصل د ماسترۍ مرحلي رساله چی عنوان یی: د امنیت او عامه نظم پر وړاندی جرمونه د فقه او قانون په رڼاکی د شنبې ورځ په ۱۹/۱۲/۱۴۰۲هـ ل نیټه یی په بریالیتوب سره دفاع کړه او د حکم پلاوي د ارزونی پر اساس د ۸۳ (نمرو په عدد) دری اتیا (نمرو په حروفو) مستحق وګرځید، له الله تعالی څخه ورته د لازیاتي بریا غوښتونکي یو.

د حکم پلاوي اعضاء :

| ګڼه | داستاذ نوم | عضویت | لاسلیک |
|---|---|---|---|
| ۱ | سر محقق سید حبیب شاکر | دحکم پلاوي عضو | |
| ۲ | دکتور محمد یونس ابراهیمی | د حکم پلاوي عضو | |
| ۳ | استاد وزیر محمد سعیدی | لارښود او دحکم پلاوي مشر | |

دماسترۍ د بورډ آمر

علمی مرستیال

# ډالۍ

دغه څېړنه په خورا درنښت سره!

خپلوقدرمنو والدينو ته چې د زده کړو د ترلاسه کولو زمينه يې راته برابره کړې.

محترمو استادانو ته!

چې د لوړو زده کړو ارمان يې را پوره کړ او په پای کې د ژوند ملګرې ته ډالۍ کوم.

## مننه او کور ودانی

د الله (جل جلاله) ډېر شکر، چې ماته يې د تحصيلي دورې د سرته رسولو توفيق را په برخه کړ.

د سلام پوهنتون د فقه او قانون ځانګې له محترمو استادانو او د ماستري بورد له محترمو غړو څخه، د زړه له تله مننه کوم چې د رسالې په ليکلو او اصلاح کولو کې يې وخت په وخت راسره خپلې لارښوونې شريکې کړي دي او زه يې دې موضوع باندې څېړنې کولو ته وهڅولم. په ځانګړې توګه د خپل لارښود استاد محترم وزير محمد سعيدي څخه د زړه له تله مننداوی يم، چې زما د رسالې په ليکلو کې خپلې لارښوونې او بې سارې همکارۍ نه دي سپمولې، د همدې همکاريو له برکته زما د ماسترۍ دورې رساله بشپړه شوه، د لوی الله (جل جلاله) له دربار څخه يې د تل لپاره موفق او سر لوړی غواړم.

په درنښت

قيام الدين قانت

**لنډيز**

د عامه نظم او امنيت پر وړاندې جرمونه د فقهې او قانون په رڼا کې تر سرليک لاندې د ماستري دورې دا رساله په درې فصلونو کې ترتيب شوې ده به لومړي فصل کې د جرم تعريف، ډولونه او ارکانو باندې څېړنه شوې، په دويم فصل کې په داخلي او بهرني امنيتي جرمونو باندې بحث شوی او په درېيم فصل کې د عامه نظم او امنيت پر وړاندې جرمونو په هکله معلومات راوړل شـوي دي. په دغو جرمونو کې د ځنګلونو او ځرځايونو عمدي حريق، انسـان وژنه او نسـل وژنې جرايم، عامه لارو امنيت ګډوډول، خيانت، جاسـوسي، توطيه يا د موجوده حکومت په وړاندې منفي تبليغات کول، په بهرنيو هيوادونو باندې تعرض کول، داخلي امنيت اخلالول او داسې نور... بلل شوي.

په اسلامي شريعت کې هر هغه عمل ته جرم ويل شوی چې د نه ترسره کېدو په هکله يې صريح دلايل راوړل شوي وي يا هر هغه عمل چې د ترسره کوونکي لپاره يې مجازات ټاکل شوي وي جرم بلل کېږي. په اسلامي شريعت کې د جرم پر ځای د ګناه کلمه ا ستفاده شوې د افغانستان د قوانينو له مخې هر هغه کړنه او عمل جرم بلل کېږي چې په دغې قانون کې يې د اجراء څخه منع راغلي وي يا يې اجراء کوونکي لپاره مجازات ټاکل شـوي وي جرم بلل کېږي.

د دې رسالې ارزښت او اهميت په دې کې دی، چې د هېواد د عامه نظم او امنيت په وړاندې جرمونه وپېژندل شي او مرتکبين يې په سزا باندې ورسېږي او په راتلونکي کې ترې نور خلک ځان وژغوري. بل دا چې دا ليکنه به د موجوده نظام سره د امنيت په ټينګښـت او د عامه نظم اخلالوونکو ته د مجازاتو په ورکولو کې مرسـته کوونکې واقع شي. دې ليکنې ته ځکه په ټولنه کې ډېره اړتيا ليدل کېږي، چې په افغانستان کې د دې مو ضوع په هکله چا تر او سه ليکنه نه ده کړې، دا لومړنۍ ليکنه ده او د ټولنې لپاره د ګټې له مخې اړتيا ډېره زياته ده. په زغرده ويلای شـم چې موضـوع نوې او ابتکاري ده د لومړي ځل لپاره پرې زه بريالی شـوم، چې بحث او څېړنه پرې وکړم چې د نورو ليکنو څخه زما ليکنه جلا کوي. د څېړنې په پايله کې ثابته شــوه، چې د عامه نظم او امنيت په وړاندې جرام هم د فقهې له نظره يې مرتکبين د مجازات وړ دي او هم د افغانسـتان د جزا کوډ له مخې يې ترسره کوونکي په سـزا محکومېږي، د څېړنې ميتود او ډول کتابتوني دی معنا دا لومړی د موضــوع اړوند معلومات په کتابونو، مقالو او رســالو کې لوســتل شوي د تحليل او تفسير څخه وروسته ترې په دې رساله کې استفاده شوې. د څېړنې کليدي کلمې عبارت دي له:

**کليدي کلمې:** عامه نظم، جرم، اسلامي فقه، د افغانستان جزا کوډ، امنيتي اخلالوونکي، مجازات.

## د مطالبو لړلیک

**عنوان** **مخگڼه**

سریزه ........ ۱
د څېړنې طرحه ........ ۱
د څېړنې تاریخي شالید ........ ۲
د څېړنې موخې او اهداف ........ ۳
د څېړنې اړتیا او ارزښت ........ ۴
د څېړنې پوښتنې ........ ۴
د څېړنې میتود او کړنلاره ........ ۵
د څېړنې پلان ........ ۵

## لومړی فصل

## د جرم معنا، ډولونه او د مجازاتو له مخې یې کموالی او زیاتوالی

لومړی مبحث: په فقه او قانون کې د جرم مفهوم ........ ۶
لومړی مطلب: په فقه کې د جرم مفهوم ........ ۶
دویم مطلب: د افغانستان په قوانینو کې د جرم مفهوم ........ ۷
درېیم مطلب: د جرمونو د زیاتوالي او کموالي ډولونه ........ ۱۰
دویم مبحث: په جرم باندې پیل کول او د هغې حالات ........ ۱۷
لومړی مطلب: په جرم باندې پیل کول ........ ۱۷
دویم مطلب: په قباحت باندې پیل کول ........ ۱۹
درېیم مبحث: فاعل، شریک او د جرمونو معاون ........ ۲۰
لومړی مطلب: د جرم فاعل ........ ۲۰
دویم مطلب: د جرم شریک ........ ۲۰
درېیم مطلب: د جرم معاون ........ ۲۱
څلورم مطلب: د جرم ترتیبوونکی ........ ۲۳

## دوهم فصل

## د داخلي او بهرني امنيت په وړاندې جرمونه

لومړی مبحث: اصطلاحات ........ ۲۷
لومړی مطلب: ملي خيانت ........ ۲۷
دويم مطلب: جاسوسي ........ ۳۰
درېيم مطلب: په عامه خدماتو باندې د موظف کس بې احتياطي او غفلت ........ ۳۳
څلورم مطلب: تبليغ يا توطيه ........ ۳۴
دويم مبحث: د ډيپلوماتيکو اړيکو په وړاندې جرمونه ........ ۳۴
لومړی مطلب: په بهرنيو هېوادونو قلمرو باندې تجاوز کول ........ ۳۵
دويم مطلب: د جگړې په وخت تړون ته نه پاملرنه ........ ۳۷
درېيم مبحث: د تاسيساتو او وسايلو تخريبول ........ ۳۹
لومړی مطلب: د پيسو اخيستلو په بدل کې ........ ۴۰
دويم مطلب د هېواد مالي اعتبار او ملي امنيت ته گواښ پېښول ........ ۴۱
څلورم مبحث: داخلي جنگونو ته لمن وهل ........ ۴۳
لومړی مطلب: په اسلامي فقه او قانون کې د غصب مفهوم ........ ۴۵
دويم مطلب: د تبعيض لپاره تحريک کول ........ ۵۲
درېيم مطلب: دولتي تاسيساتو اشغالول يا نيول ........ ۵۵
څلورم مطلب: د دولتي نشان يا بيرغ سپکاوی کول ........ ۵۷
پنځم مطلب: عامه تسلط کې گډون کول ........ ۵۸
شپږم مطلب: د مظاهرو، اعتصابونو او غونډو په وخت تاوتريخوالی کول ........ ۵۸

## درېيم فصل

## تروريزم، نسل وژنه، تېری کول او د عامه نظم او امنيت جرمونه

لومړی مبحث: د تروريزم پېژندنه ........ ۶۳
لومړی مطلب: د تروريزم د تمويل جرم ........ ۶۴
دويم مطلب: د تروريستي سازمان مجازات ........ ۶۹
درېيم مطلب: د تزويري اسنادو وړاندې کول ........ ۷۴

دوهم مبحث: د نسل وژنې جرایم ........................................................................... ۷۷
لومړی مطلب: په اسلامي شریعت کې د ژوند کولو حق......................................................... ۷۸
دویم مطلب: د انسانانو په وړاندې جرمونه ..................................................................... ۹۰
درېیم مطلب: انتحاري حمله.......................................................................................۹۶
درېیم مبحث: جنگی جرمونه.......................................................................................۹۶
لومړی مطلب: د جنگي جرمونو مرتکب ......................................................................... ۹۷
دویم مطلب: د جنگي جرمونو مجازات ........................................................................... ۹۸
څلورم مبحث: په دولت باندې تېری کول ....................................................................... ۹۹
لومړی مطلب: د دولت په وړاندې تجاوز کولو جرم ........................................................... ۹۹
دویم مطلب: د دولت په وړاندې د متجاوزینو مجازات .......................................................۱۰۳
پنځم مبحث: د عامه نظم او امنیت په وړاندې جرایم .........................................................۱۰۳
لومړی مطلب: قصدي (عمدي) حریق ...........................................................................۱۰۴
دویم مطلب: د غیر عمدي حریق مجازات ......................................................................۱۱۰
درېیم مطلب: د واکمنې مرجع له اجازې پرته د منفلقه یا چاودېدونکو موادو جوړول ...............۱۱۰
څلورم مطلب: په عامه لاره کې مزاحمت........................................................................۱۱۳
نتیجه گیری........................................................................................................۱۲۰
وړاندیزونه.........................................................................................................۱۲۱
د قرآن کریم د آیتونو فهرست ...................................................................................۱۲۲
د أحادیثو فهرست ...............................................................................................۱۲۷
د أعلامو فهرست.................................................................................................۱۳۱
ماخذونه ...........................................................................................................۱۳۲

## سریزه

إنَّ الْحَمْدَ لِلهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ، وَنَعُوذُ بِاللهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلاَ مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلاَ هَادِىَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أما بعد:

دا رسـاله چې د عامه نظم او امنیت پر وړاندې جرمونه د فقهې او قانون له نظره سرلیک لاندې لیکل شـوې لومړی په کې د جرم پېژندنه شـوې او وروسـې بیا د عامه نظم او امنیت پر وړاندې چې کوم جرمونه په افغانسـتان کې وجود لري، لکه د انسـانانو وژل، خیانت کول، جاسـوسي، تبلیغ یا توطیه د دولت په وړاندې خلاف تبلیغات کول، ځنګلونو ته عمدي یا قصدي توګه باندې اور اچول، په عامه لارو کې مزاحمت کول خلک په غذابول هغوی وهل او ټکول او پیسې، مالونه ترې په زور سره اخیستل، د عامه تاسیساتو تخریبول او ورانول، عامه اماکنو او وسایلو ته زیان رسـول او داسـې نور... ټول هغه جرمونه دي چې په اسـلامي شریعت او د افغانسـتان په جزا کوډ کې ورته جزا ټاکل شـوې معنا دا هر هغه څوک چې دغه ډول اعمال ترسره کوي د هغوی جرم ته په کتو مرتکب په مجازات باندې رسېږي. د رسالې ابتکار او نوښت همدا دی چې د اسلامي امارت سره به دا لیکنه د امنیت او عامه نظم په ټینګښت او د ګواښـونو او خطرونو په راکمولو کې مرسـته وکړي او د عامو خلکو لپاره یې د دې رسـالې ګټه دا ده چې د عامه امنیت او نظم په وړاندې جرایم به وپېژني او له ارتکاب څخه به یې ځانونه وساتي.

## د څېړنې طرحه

د امنیت او عامه نظم پر وړاندې جرمونه د حقوقي مفاهیمو له جملې څخه دي چې د وخت په تېرېدو سره په بل شـکل باندې تغیر شـوي دي، دا ډول جرایم پخوا په روم هېواد کې رامنځته شـوي مګر په داسـې شـکل نه و لکه څرنګه چې نن ورځ به ټولنه کې موجودیت لري. رومي لیکوال سیسرون خطیب په نظر سیاسي جرام د دوه هدفونو لپاره په کار وړل کېدل، یو په عموي مالونو باندې تجاوز او تېری کول او دوم د سـیاسي تهدید لپاره. د امپراطوري د ختمولو لپاره به له هر ډول حاکمیتونو څخه استفاده کېده چې همدغې رامنځته کوونکو ته یې مجرمان ویل کېدل نن ورځ په ډیموکراسي نظامونو کې هم دغه ډول جرایم د لیدنې وړ دي. لکه څرنګه چې سـیاسي مجرمان که څه هم د بهرنیو هېوادونو له لورې ورته سیاسي پناه ورکول کېږي، بلکې د دې کار سره سره د امتیاز څخه هم برخمن کېږي.

په افغانسـتان کې چې څلویښـت کلونه په جګړې کې تېر شـوي تر اوسـه پورې یوازې د عامه امنیت او نظم په وړاندې د جرایمو په هکله بحث او څېړنه د جزا کوډ په یوې برخې کې د سـیاسي جرایمو په هکله ډېر لږ څه ویل شوي. همدارنګه د ۲۰۰۴ میلادي کال اساسي قانون سیاست او سیاسي فعالیتونه د ښاریانو له حقوقو څخه شمېرلي دي. د دغه ډول فعالیتونو لپاره یې هیڅ ډول ځانګړی ممنوعیت نه دی ذکر کړی. د افغانستان د جزا کوډ هم د سیاسي جرایمو په هکله هیڅ څه نه دي وضـع کړي. په دغې کوډ کې هغه جرایم چې د دولت او حکومت په ضـد باندې

ترسره کېږي د داخلي او بهرني امنيت او تروريزم تر نامه لاندې تعريف کړي دي، ځيني ناســم انځورونه هم په دې برخه کې چې د رژيمونو لپاره سياسي جرايم بلل کېږي وړاندې شوي ان تر دې پورې چې د عامه امنيت ضد ځيني جرايم د همدغې کوډ د ۲۱۶ مادې په اســاس د هغې مرتکبين په شــديده جزا باندې محکوميږي دا يوه قضــايي لاره ده، د دې تيزس له عنوان څخه معلوميږي چې د ســياسي جرايمو څېړنه د فقهې او قانون له نظره يوه ډېره اهميت لرونکې مو ضوع ده. زموږ په هېواد کې ډېر دا سې خلک شته چې سياسي جرايمو ته لمن وهي مگر نه له شريعت نه خبر لري چې د خپلې ســزا څخه بايد خبر شي. ځکه په شريعت کې تخريبوونکي او لوي جرم ترسره کوونکي نه يواځې دا چې په الهی عذاب باندې اخته کېږي، بلکې د الله تعالی قهر او عذاب عام دی. د هېواد ټولو اتباعو لپاره بايد يو دا سې قانون ترتيب او تنظيم شي چې د ټولنې د ټولو ا شخا صو حقوق په کې خوندي شوي وي په دې تيزس کې هڅه شوې ده چې سياسي جرايم د فقهې او قانون له نظره تشريح شي بايد يادونه وکړم چې دا مو ضوع يوه نوې او ابتکاري موضوع ده.

## د څېړنې تاريخي شاليد

لکه څرنگه چې مخکې مې يادونه وکړه چې تر او سه پورې په دې مو ضوع باندې د افغانستان په داخل کې نه په پښــتو ژبه کومه ليکنه شــوې او نه په دری (فارســی) ژبه بلکې د افغانســتان په جزا کوډ کې دې جرايمو ته پاملرنه شوې او يو څه تشريحات پرې شوي دي اما دلته په دې رساله کې د فقهې برخه چې ا سلامي شريعت سره تړاو لري هم څېړل شوې دلته د هغې ليکنو يادونه شوې چې دې موضوع ته يې په جزيي توگه اشاره کړې ده:

۱. الأحکام الکبری، د عبدالحق أشبيلی (ابن الخراط) اثر چې په (۵۸۱هـــ) کال چاپ شوی په شپږ جلده کې دی.
۲. عمدة الأحکام من کلام خير الأنام، د عبدالغني مقدســی کتاب چې په ۶۰۰ هجري کال کې چاپ شــوی په دوه برخو کې چاپ شوی دی.
۳. الاحکام الکبری د مجدالدين أبی البرکات ابن تيمية کتاب چې په ۶۵۲ هجري کال يې په څو جلدونو کې چاپ کړی دی.
٤. المنتقی من أخبار المـصطفی ( صلی الله عليه و سلم) د مجدالدين لبی البرکات ابن تيمية کتاب چې په ۶۵۲ هجري کال کې چاپ شوی د کبايرو ډېر مختصر احکام په کې دي او په يو جلد کې چاپ شوی دی.
۵. الامام في بيان أدلة الأحکام د عز بن عبدالســلام کتاب چې په ۶۶۰ هجري کال يې د دوکتور علی بن محمد شريف په څېړنه باندې چاپ کړی دی.
۶. الامام فی أحاديث الأحکام د ابن دقيق العيد کتاب چې په ۷۰۲ هجري کال چې په دې کتاب کې د مســند ا حاديثو ځينې اړوند متون ذکر شــوي دي کتاب يې تر اوســه پورې نه دی چاپ شــوی، خو ډېر لوی

ا ستنباطات او فایدې لري مگر د تکمیلولو څخه مخکې یې ځینې برخې په الاهتمام کتاب کې شرحه شوي دي ابن تیمیه د دې کتاب په اړه ویلي دي دا د اسلام کتاب دی.

٧. المحرر في أحاديث الأحكام د ابن عبدالهادی کتاب دی چې په ٧۴۴ هجري کال په یو جلد کې په دارالعطاء کې عادل الهدبار او محمد علوش لخوا چاپ شــوی ذهبی او ابن حجر وایي چې دا کتاب د ابن دقیق العید د کتاب لنډیز دی ځینې تعلیقات یې ډېر مهم دي چې د أحادیثو احکام په کې ذکر شــوي په ۱۳۲۴ هجري کال خپور شوی دی.

٨. د ا سلام په قوانینو کې نوي موندنې چې د محمد حسن مرعشی شو شتری کتاب دی په ۱۹۹۴ میلادي کال کې یې په ۲۸٦ مخونو کې چاپ کړی په دې کتاب کې اسلامي احکام بیان شوي دي.

٩. د اســلام جنایي حقوق د څلورو مذاهبو په پرتلنې او مقایســې سره چې د عرفي حقوقو سره یې کړې ســید اســماعیل صــدر پرې تعلیقات لیکلي او اکبر عفوري ژباړلی دی لیکوال یې عبدالقادر عوده دی، په ۱۹۹۴ میلادي کال خپور شوی د روا او ناروا جرایمو په هکله الهی احکام لري.

۱۰. د ملي امنیت او ارامتیا په هکله کتاب چې ضــیاء الدین پیمانی لیکلی په ۱۹۹۵ میلادي کال په ۱۲۱ مخونو کې چاپ شــوی په دې کتاب کې هغه ســیاسي جرایم کې خلک له شــخصيـ او عمومي حقونو څخه بې برخې کوي تشریح ورکړل شوې ده.

اما زه په ډاگه ویلای شــم، چې زما رســاله او څېړنه د پورتنیو څېړنو سره بشــپړ توپیر لري، ما د عامه نظم په وړاندې جرایم چې د یو هېواد امنیت گواښي او زیان ورته رسوي په دې رساله کې د افغانستان د جزا کوډ او اسلامي فقهې له نظره څېړلي او د عامه نظم او امنیت په وړاندې د جرمونو د مرتکبینو مجازات هم په دې رســاله کې څېړل شوي دي.

## د څېړنې موخې او اهداف

امنیت او عامه نظم پر وړاندې جرمونه د فقهې او قانون له نظره تشرــیح کول د قرآن کریم او نبوي احادیثو او بېلا بېلو تفسیرونو او د اهل سنت د څلور واړو مذاهبو په اساس ترسره کول به لاندې اهداف ولري:

١. د دې څېړنې له سرته رســونې څخه موخه د افغانســتان د غیور ولس خبرول دي له امنیتي جرایمو له جملې د عامه امنیت او نظم په وړاندې جرمونه د اشخاصو پورې تړل شوي باید خلک ترې ځانونه وساتي.

٢. د امنیتي جرایمو ځینې هغه برخې تشریح شوي، چې هغه تخریبوونکې او د هېواد نظامونو ته په زیان باندې تمامېدای شي.

۳. دا اثر د افغانســتان د موجوده نظام او حکومت لپاره هم گټور واقع کېدای شي، هغه څه چې د افغانســتان په قوانینو کې د هغې په هکله لږ څه ویل شــوي، دغه ډول موضــوعات په دې تیزس کې د فقهې او قانون له نظره یو څه پراخه تشریح شوي دي.

٤. په دې څېړنه کې هڅه شــوې ترڅو عامه امنیت او نظم اخلالوونکي مجرمین لومړی د اســلامي شریعت له مخې تشریح شي او ورپسې د افغانستان د قوانینو له مخې تشریح شي او په وروستیو کې د شریعت او قانون ترمنځ د ارتباط او اختلاف ټکو ته هم په کې اشاره شوې ده.

## د څېړنې اړتیا او ارزښت

د امنیت او عامه نظم پروړاندې جرمونه د فقهې او قانون له نظره یوه نوې او ابتکاري موضــوع ده، ځکه د افغانستان هیڅ قانون تر اوسه دې جرایمو ته پاملرنه نه ده کړې، که څه هم د جرایمو یو لوی ډول او برخه ده، خو متا سفانه تر او سه په دې اړه نه په ا ساسي قانون کې او نه په کوډ جزا کې کوم څه ویل شوي دي، اما دغه جرایم بیا په کوډ جزا کې د نورو عنوانونو لاندې تشرــیح شــوي دي، نو د دې ډول موضــوعاتو څېړل به حتماً د ډېر اهمیت وړ وي.

بل دا ما چې تر کومه مطالعه کړې او پلټنه مې کړې تر اوسه پورې هیڅ داسې موضوع او لیکنه ما پیدانکړه چې ټاکل شوې مو ضوع دې په کې تر بحث او څېړنې لاندې نیول شوي وي نه په پښتو ژبه او نه هم په فارسي ژبه په همدې اساس دې ډول موضوعاتو څېړلو ته ډېره اړتیا لیدل کېږي په افغانستان کې موږ ډېر داسې اشخاص لرو چې سیاسي جرمونه ترسره کویو اما هغوی د دې پرځای چې محاکمه شي او د قانون منګولو ته وسپارل شي، په بهرنیو هېوادونو کې ورته پناه ورکول کېږي او امتیاز هم ترلاســه کوي. هغه اشـخاص چې د سـیاسي جرایمو له جزا څخه ناخبره دي د دې موضوع په لوستلو او مطالعه کولو سره به هغوی معلومات ترلاسه کړي چې د سیاسي جرایمو سزا څه ده؟ هم به خپله ځان ورځنې و ساتي او هم به په راتلونکي کې نورو ا شخا صو ته د دغه جرم د نه ترسره کولو دعوت ورکوي نو پر همدې اساس د دې موضوع څېړل ډېر د اړتیا وړ ده.

## د څېړنې پوښتنې

**اصلي پوښتنه**

د فقه او قانون له نظره کومو کارونو او اعمالو ته د امنیت او عامه نظم پر وړاندې جرمونه ویل کېږي ؟

**فرعي پوښتنې**

۱. په اسلامي شریعت کې د امنیت او عامه نظم پرووړاندې جرمونو ترسره کوونکو لپاره څه ډول سزا ټاکل شوې ده؟

۲. د افغانستان په قوانینو کې د عامه نظم پر وړاندې جرمونو لپاره څه ډول جزا ټاکل شوې ده؟

۳. د امنيت ګواښونکي مجرمين د بخښنې وړ دي او که نه؟

## د څېړنې ميتود او کړنلاره

د امنيت او عامه نظم پر وړاندې جرمونو تشريح کول د فقهې او قانون له نظره موضوع چې دلته پرې څېړنه ترسره شوې د ليکنې لپاره يې د کتابخانه يي ميتود څخه استفاده کېږي ساحوي څېړنې او نمونې اخيستنې نه لري، پر همدې اساس د څېړنې ډېر کار د کتابونو څخه استفاده کول دي د قرآن کريم، نبوي احاديثو، فقهې کتابونو او د افغانستان د قوانينو څخه په کې استفاده کېږي همدارنګه هغه اثار هم د يادونې وړ دي چې اوسنيو پوهانو د دې موضوع په هکله ليکلي دي.

## د څېړنې پلان

د عامه نظم او امنيت پر وړاندې جرمونه د فقه او قانون له نظره تر سرليک لاندې د ماستري دورې رساله چې په دريوو فصلونو کې ترتيب شوې لومړنی فصل يې درې مبحثونه لري په لومړي مبحث کې درې مطلبونه راوړل شوي چې په درې واړو مطالبو کې په فقه او قانون کې د جرم د مفهوم پېژندنه تشريح شوې. په دويم مبحث کې دوه مطلبونه راوړل شوي چې په دواړو مطالبو کې په جرم باندې پيل کول او د هغې حالات څېړل شوي او په درېيم مبحث کې څلور مطلبونه راوړل شوي چې په څلور واړو مطلبونو کې د جرم فاعل، شريک، معاون او ترتيبوونکی تشريح شوی.

د رسالې دويم فصل کې بيا څلور مبحثونه راوړل شوي لومړنی مبحث څلور مطلبونه لري چې په دې مبحث کې ځينې اصطلاحات لکه: خيانت، جاسوسي، بې احتياطي او غفلت او تبليغ يا توطئه تشريح شوې، په دويم مبحث کې دوه مطلبونه راوړل شوي چې په دواړو مطالبو کې د ډيپلوماتيکو اړيکو پر وړاندې جرام تشريح شوي، په درېيم مبحث کې دوه مطلبونه راوړل شوي چې په دواړو مطالبو کې د تاسيساتو او وسايلو تخريبول څېړل شوي او په څلورم مبحث کې شپږ مطلبونه راوړل شوي چې په شپږ واړو مطالبو کې داخلي جنګونو ته لمن وهل څېړل شوې دي.

د څېړنې درېيم فصل کې پنځه مبحثونه ترتيب شوي په لومړني مبحث کې درې مطلبونه ځای پر ځای شوي په درې واړو مطالبو کې د تروريزم د تمويل په هکله تشريحات راوړل شوي په دويم مبحث کې درې مطلبونه راوړل شوي چې د نسل وژنې جرايم تشريح کوي او په دريم مبحث کې دوه مطلبونه راوړل شوي چې په کې جنګي جرمونه تر څېړنې لاندې نيول شوي دي په څلورم مبحث کې دوه مطلبونه راوړل شوي چې په دولت باندې تېری يا تجاوز کول په کې تشريح شوي او په پنځم مبحث کې پنځه مطالب راوړل شوي چې په کې د عامه نظم او امنيت پر وړاندې جرايم په کې تر څېړنې لاندې نيول شوي دي.

# لومړی فصل

## د جرم معنا، ډولونه او د مجازاتو له مخې یې کموالی او زیاتوالی

دا فصل په لاندې مبحثونو ویشل شوی دی:

لومړی مبحث: په فقه او قانون کې د جرم مفهوم.

دویم مبحث: په جرم باندې پیل کول او د هغې حالات.

دریيم مبحث: فاعل، شریک او د جرمونو معاون.

## لومړی مبحث: په فقه او قانون کې د جرم مفهوم

**تمهید:** په دې مبحث کې لومړی د فقه له نظره د جرم معنا او مفهوم باندې بحث او څېړنه شوې او له هغې وروسته د افغانستان په جزا کوډ کې چې د جرم لپاره کومه اصطلاح کارول شوې په هغې باندې څېړنه شوې یعنې د فقه او قانون له مخې به د جرم مفهوم روښانه شي.

### لومړی مطلب: په فقه کې د جرم مفهوم

جرم د عربي کلمې له (ج ر م) څخه مشتق شوې یا راوتلې کلمه ده د قطع کولو یا پرې کولو په معنا ده، یا د ونې څخه د میوې شلولو ته وایي، بارولو ته هم وایي، کسب کول، د گناه مرتکب کېدل او همدارنگه یو نامنل شوي غیر اخلاقي عمل ترسره کولو ته هم ویل کېږي. ([1])

یا جرم په لغت کې گناه یا خطا ته هم ویل کېږي، عصیان، معصیت او داسې نورو مترادفو کلمو باندې تعبیر شوی دی. ([2])

الله جل جلاله په قرآن کریم کې د جرم په هکله فرمایلي دي:

**﴿وَإِذَا جَآءَتْهُمْ ءَايَةٌ قَالُوا لَن نُّوءْمِنَ حَتَّى نُوءْتَىَ مِثْلَ مَآ أُوتِىَ رُسُلُ اللهِ اللهُ أَعْلَمُ حَيْثُ يَجْعَلُ رِسَالَتَهُ سَيُصِيبُ الَّذِينَ أَجْرَمُواْ صَغَارٌ عِنْدَ اللهُ وَعَذَابٌ شَدِيدٌ بِمَا كَانُواْ يَمْكُرُونَ﴾**.([3])

ژباړه: کله چې هغوی ته کوم آیت راشي، نو وایي: موږ به یې تر هغه پورې و نه منو، ترڅو په خپله موږ ته هغه څه را نه کړل شي چې د الله رسولانو ته ورکړل شوي دي. الله ډېر ښه پوهېږي چې د خپلې پیغمبرۍ کار له چا څخه واخلي او په څه شـان یې واخلي. هغه وخت نژدې دی چې دا مجرمان د خپلو چلو په مجازات کې د الله په وړاندې له رسوایي او سخت عذاب سره مخامخ شي.

په اصـطلاح کې جرم عبارت له هر هغه عمل څخه دی چې په شریعت کې له هغې څخه منع راغلې وي، همدارنگه دنیوي جزاگانې هم ولري لکه: حد، تعزیر، قصاص، دیت، کفاره یا اخروي سزا لري، کېدای شي یو څوک د شرابو په څښلو یا د روژې په خوړلو او یا هم د لمانځه په نه ترسره کولو یا د نورو منع شـویو شـیانو او اعمالو په استفادې کولو سره د سزا وړ وبلل شي نو ویلې شم چې په فقه کې جرم د معصیت یا گناه سره مترادف کلمه ده.([4])

---

[1] - خلیل بن احمد.(ب.ت). کتاب العین، ج ٦ ، القاهره: مصر. دارالحدیث. ص ١١٩.

[2] - ابن اثیر، النهایة في غریب الحدیث والاثر، ذیل ماده مرتبط با جرایم.

[3] - سورة الانعام، آیت نمبر (١٢٤).

[4] - حسینی، محمد بهاء الدین، تفسیر فرقان، چاپ اول، سال انتشار ١٣٩٠هجری شمسی، انتشا رات: سنندج، انتشارات آراس، بخش کتاب اما غزالی، ج ١ ص ٧٠۴.

جرم د حقوقو په اصطلاح کې هر هغه عمل چې په قانون کې هغه ته جرم ویل شوی وي او د امنیت یا روزنې په وړاندې خلاف عمل وبلل شي هغه ته جرم ویل کېږي. ([1])

ابن حزم (رحمه الله)([2]) جرم په دې ډول تعریف کړی دی:( جرم په اصـطلاح کې عبارت دی له هر هغه عمل څخه چې په شریعت کې ترې منع راغلې وي او د دنیوي سـزا لکه: حد، تعزیر، قصـاص، دیت او کفاري یا اخروي جزا لرونکی وي ده هم ویلي چې په فقه کې د جرم مترادفه کلمه معصیت یا گناه ده).([3])

په فقه کې جنایت یا جرم د شر په معنا هم راغلی دی او په شرعي اصـطلاح کې هغه فعل ته ویل کېږي چې د هغه د حراموالي لپاره سـبب ذکر شـوی وي لکه د احرام جنایت یا جرم، په حج او عمره کې احرام نه کول یه ډول جنایت او جرم دی او د حج او د عمرې له کارونو خلاف کار دی د حج له واجباتو څخه یو یې احرام تړل دي، مگر هر هغه څوک چې احرام ترې هیر شـو، یا یې له فکر نه ووځي چې وایې خلي او یایې واغوندي نو دغې شـخص مکروح کار وکړی ځکه د ده مثال داسـې دی لکه څرنگه چې یو ماشـوم باندې احرام تړل واجب نه دي دا قول د حنفي، مالکي او حنابله و دی دوی درې واړو ویلي چې دغې شـخص ډېره لو یه خطاء او تېروته وکړې ده، لاکن خطاء یې داسې نه ده چې په دې سره حج فاسد شي اما د حنابله وو په قول بیا هغوی وایي چې په دې شخص باندې قضاء ده ځکه په واجباتو کې تکلیف ورکول نشته او دویم دا چې بالغ شوي شخص دا کار کړی دی. لاکن شافعي (رحمه الله) وایي چې د احرام په پرېښودلو او نه کولو کې فدیه او قصا داوړه شته لاکن داسې به نه وي چې یو سړی تې بغیر له احرام نه قصـداً او عمداً حج یا عمرې ته حاضر شي یعنې په قصـدي او عمدي توگه پرېښـودل مکروه نه دي، ځکه دا بیا په قصد کې قصد کول دي او دا قول مشهور قول دی.([4]) نو په پورته ډول که یو سړی سهواً یا عمداً د دین ا سلام خلاف کار وکړي د هغې لپاره د خپل کړي عمل اړوند سزا او مجازات ورکول کېږي او ترسره کړې کړنې یې جرمونه بلل کېږي.

## دویم مطلب: د افغانستان په قوانینو کې د جرم مفهوم

د افغانسـتان د قوانینو له مخې هر هغه عمل چې په اجرا سره یې شـخص د سـزا مسـتحق کېږي د قانون له نظره دغې کړنې او عمل ته جرم ویل کېږي. هر څوک چې د قانون په وړاندې دغه ډول اعمال ترسره کوي معنا دا چې دوی مجرمین دي یعنې د افغانستان په قوانینو کې چې هر کار نه منع راغلې ده د هغې ترسره کول جرم دی د افغانستان

[1] - فخرالدین بن محمد طریحی، مجمع البحرین،ذیل ماده ۱۹ مرتبط جرایم.

[2] - ابن حزم ابو محمد علی بن احمد بن سعید (٣٨٤ – ٤٥٦ قمری) (٩٩٤ – ١٠٦٤م) په هرڅه باندې پوهه، فقیه، محدث، فیلسوف، ادیب او عربي شاعر د اندلس له اهل څخه و پلار یې د اهل قرطبه له مشرـانو څخه و د دویم هشـام بني امیه په وخت وزیر و تقریباً ۴۰۰ دانې کتابونه یې لیکلي دي چې ۴۰ کتابونه ترې اوس هم راپاتې دي نوموړی د دیني پوهانو او بنسټ ایښودونکو څخه و نوموړي په د اندلس په قرطبه ښار کې زیږېدلی دی.

[3] - ابن حزم، علی بن احمد بن سعید، المحلّی، چاپ احمد محمد شاکر، بیروت: دارالجیل. تهران ۱۳۷۹هـ، ص ١٦٧.

[4] - شرح المجموع: ٧/ ٢٨؛ الایضاح: ص ٩٩؛ الفقه الاسلامي و أدلته، ج ٣، ص ٢٥٦.

قوانینو ډېره برخه د حنفي فقهي سره مطابقت لري په فقه کې هغه عمل ته چې د هغې لپاره مجازات ټاکل شــوي وي جرم ویل شوی او د افغانستان په قوانینو کې هم هر هغه عمل او کړنه چې مرتکب یې د ترسره کولو په وخت د قانون په وړاندې مسئول او مجرم ګڼل کېږي جرم ویل شوی دی په اسلامي شریعت کې بیا مجرم هغه چاته ویل شوی چې ګناه کوي یا د ګناه کارونه کوي یعنې د اسلامي شریعت د ګناه کلمه د افغانستان په قوانینو کې د جرم په موخه کارول شوې ده دغه جرمونه په ډېرو بڼو باندې ترسره کېږي یو ډول یې مادي جرمونه دي تر هر څه لومړی باید د مادي جرم مفهوم باندې پوهه شو.

## الف: د مادي جرم مفهوم

### ۱- په فقه کې د مادي جرم مفهوم

الله تعالی په خپل کتاب کې په دې هکله داسې فرمایلي دي:

**﴿وَإِنْ طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا فَإِنْ بَغَتْ إِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخْرَى فَقَاتِلُوا الَّتِي تَبْغِي حَتَّى تَفِيءَ إِلَى أَمْرِ اللهِ فَإِنْ فَاءَتْ فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ وَأَقْسِطُوا إِنَّ اللهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ﴾**.([1])

ژباړه: او که له مومنانو څخه دوې ډلې په خپلو منځونو کې په جنګ شي؛ نو د هغوی په منځ کې صلحه وکړئ! نو له تېري کوونکي ډلې سره وجنګېږئ! تر دې پورې چې هغوی د الله د حُکم خوا ته راوګرځي. بیا کله چې هغوی راوګرځي؛ نو په منځ کې یې په عدل سره سوله وکړئ! او انصاف وکړئ چې الله تعالی انصاف خوښوونکی دی.

په دې ځای کې دوه ډوله جرمونه ذکر شــول یو مادي جرم دی چې جګړه د مســلمانانو ترمنځ د مادي ګټو په خاطر ترسره کېږي نورو مسلمانانو ته په کار ده چې د هغوی ترمنځ سوله وکړي.

دویم ډول جرم دا دی چې د مســلمانانو د خپلمنځي جګړې د پېښــېدو نه وروســته باید د هغوی په منځ کې د ســولې او روغې جوړې لپاره لارې ولټول شي. که چیرې یو لوری د فیصــله کوونکو خبره و نه مني نو په دې وخت کې بیا پرېکړه نه منونکي سره جګړه کول په کار دي البته پرېکړه به په شرعي طریقې سره وي اصــل دلته په دې ځای کې د پرېکړې یا فیصلې نه منل دي چې جرم ورته ویل کېږي.([2])

په اسلامي فقه کې د مادي جرم په هکله لاندې مسئلې ته پاملرنه کوو:

په احرام کې یو جرم یا ګناه کولو حالتونه لکه یو سړی دی د احرام په حالت کې چې عرفات ته لا نه دی تللی یا د عرفات نه وروســته دی د خپلې ښــځې سره د احرام په حالت کې جماع وکړي؛ نو د جمهورو علماوو نظر خو دا دی چې حج یې فاســد شــوی دی، مګر د امام ابو حنیفه (رحمه الله) په قوم حج یې فاســد شــوی نه دی، ځکه دا د هغې ښــځه ده د مخکې نه او په دې جماع سره یې حج نه فاســدیږي، د امام ابو حنیفه (رحمه الله) په نظر حج یې نه

[1] - سورة الحجرات، آیت نمبر ۹.

[2] - مبارز، عبدالصبور، د اساسي قانون تحلیل او شننه، چاپ کال ۱۳۹۵ هجری شمسی، سلام خبرندویه ټولنه – جلال آباد، ص ۲۸۸.

دی تکمیل شوی چې فا سد شي یا که په عمره کې دا کار صورت ونیسي نو عمره یې نه ده فا سد شوې لاکن که د حج د مراسمو یا د عمرې د فرایضو او واجباتو د پوره کولو نه وروسته دا کار وکړي؛ نو بیا یې حج او عمره فاسیدیږي. د امام مالک (رحمه الله) په قول دغه مجرم سړی به یو حیوان هدیه کوي یا به اوښ وي، یا به غوا وي ترڅو بېرته یې عزت ترلاسه شي. دا په هغه صورت کې چې انزال یا احتلام د طواف او د جمرو (شیطانانو) له ویشتلو څخه مخکې شوی وي په دې خبره د ټولو فقهاوو اتفاق هم دی.(۱) دلته په دې ځای کې د جرم په مقابل کې د مادي هدیو ورکړه خپله د جرم یو ډول فدیه یا د اسلام د خلاف عمل د اجرا کولو یو ډول مجازات او سزا ده چې د جرم په مقابل کې د مادیاتو په ډول ورکول کېږي. که څه هم دا موضوع د عباداتو پورې اړه شوې ده خو دلته ترې د مادي جرم چې کله یوه گناه یعنې جرم ترسره کېږي د هغې په بدل کې مادیاتو د هغې جبران په توگه ورکول کېږي، یا په مادي جرایمو کې د ځېرځایونو سوځول په قصدي او عمدي ډول راغلي دي چې مجازات یې نغدي پیسې ورکول دي.

**۲- په قانون کې د مادي جرم مفهوم**

د افغانستان په جزا کوډ کې د مادي جرم د مفهوم په هکله دا ډول تشریحات راغلي دي:

(د جرم مادي مفهوم د قانون د مخالف عمل له ارتکاب یا د هغه عمل د اجراء له ډډې کولو څخه عبارت دی چې قانون په هغه حکم کړی دی په داســې ډول چې ارتکاب یا ډډه کول په جرمي پایلې تمام شي او د عمل او پایلې ترمنځ د سببیت اړیکه موجوده وي).(۲)

معنا دا د افغانســتان د جزا په کوډ کې ډېری موارد او کارونه شــته چې د هغې د ترسره کولو په وخت یې ترسره کوونکی مجرم بلل کېږي له دې جملې څخه د یو څو یادونه کېږي لکه: په عامه لارو کې ودرېدل او خلک لوټ کول یا د خلکو نه زور باندې پیسې او مالونه اخیستل چې په شریعت کې ورته قطاع الطریق ویل شوي دي دې ډول کارونو ته جرمونه ویل کېږي، بل ښه مثال یې اظهارات یا مظاهرې او لاریونونه ترسره کول چې د حق غوښتلو لپاره نه وي؛ بلکې مقصــد او هدف یې یوازې د ټولنې امنیت او ســوکالي نا امنه کول وي دغه ډول خلک د ټولنې د امنیت تخریبوونکي دي چې په دې کړنې سره عامه امنیت د خطر سره مخ کېږي که چیرې دغه ډول خلک قانون ته په لاس ورشي؛ نو مجازات به شي ځکه عامه امنیت تخریبول او ناآمني ته لمن وهل ټول جرایم گڼل کېږي. د جزا کوډ له مخې هر هغه عمل ته مادي جرم ویل کېږي چې قانون هغې ته جرم ویلی وي یعنې په قانون کې چې کوم عمل یا کومې کړنې ته د قانون خلاف کړنه ویل کېږي دا ټول په مادي جرایمو کې راتللای شي، او بیا وایي هر هغه کړنه چې اجرا کوونکی یې په مجرم باندې ونومول شي؛ نو دغســې عمل ته جرم ویل کېږي یعنې که څوک په جرم باندې د قانون له نظره مجرم ثابت شــو دغه سړی په مجرمینو کې وشــمېرل شــو، خو شرط په مادي جرمونو کې دا دی چې د

---

۱- الفقه الاسلامي و أدلته، ج ۳، ص ۲۵۷.

۲- جزا کوډ، ۳۳ نمبر ماده.

کړنې (عمل) او نتيجې يا بايلې يعنې جرم چې د کوم هدف لپاره ترسره کېږي د هغې د ترلا سه کېدنې ترمنځ به اړيکه يا يو سبب موجود وي.

لنډه دا چې د افغانســـتان د قوانينو خلاف عمل او کړنه چې هرڅوک ترسره کړي دغې شـــخص ته مجرم ويلی شي، بيا هر هغه کړنه او عمل ته جرم ويل شــوي دي چې د قانون خلاف او د هغې لپاره ســزا ټاکل شــوي وي. عامه امنيت او نظم اخلالول هم يو داســـې کړنه ده چې د هېواد جزا کوډ دغې عمل اجرا کوونکو لپاره جزا ټاکلې ده؛ نو دغه ډول جزا تعينېدل او ټاکل کېدل خپله په دې دلالت کوي چې بايد د عامه امنيت او نظم له اخلالولو څخه ځان وســـاتل شي، اوس دغه ډول جرايم چې د ټولنې امنيت له خطر سره مخ کوي ځينې وختونه زياتېدای او د جدي تدابيرو او مخنيوي په وخت کمېدای هم شي چې دلته همدغه برخه تر څېړنې لاندې نيول شوې ده.

## درېيم مطلب: د جرمونو د زياتوالي او کموالي ډولونه

هر هغه گناه چې په قصدي توگه ترسره شي هغې ته قصدي يا عمدي جرم ويل کېږي معنا دا يو سړی په دې ښه پوهېږي چې شراب څښل لويه گناه ده او بيا هم شراب څښي او ځان ترې نه ساتي؛ د نوموړي شخص دغه ډول شراب څښل خپله يو لوی قصدي او عمدي جرم دی. ځکه دی په دې ښه خبر دی چې شراب څښل په دين ا سلام کې منع شوي دي د نه څښلو په هکله صريح نصوص او احکام راغلي دي. دی په دې ښه خبر هم دی چې شراب څښل کبيره گناه ده او قصداً شراب څښي نو دا ډېره لويه گناه ده. الله (جل جلاله) د حرامو شيانو د خوراک نه منع کړې ده. په خپل کتاب کې فرمايي:

﴿**الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الرَّسُـــولَ النَبِيَّ الْأُمِّى الَّذِى يَجِدُونَهُ مَكْتُوبًا عِنْدَهُمْ فِي التَّوْرَاة وَالإنْجِيْلِ يَأْمُرُهُمْ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَاهُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَيحَرَّمُ عَلَيهِمْ الْخَبَائِثَ وَ يَضَـــعُ عَنهُمْ إِصْرَهُمْ وَالْأَغْلَلَ الَّتِى كَانَتْ عَلَيْهِمْ فَالَّذِينَ ءَامَنُوا بِهِ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَاتَّبَعُوا النُّورَ الَّذِى أُنْزِلَ مَعَهُ أُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ**﴾.([1])

ژباړه: (نو نن دا رحمت د هغه چا په برخه دی چې) د دې نبي اُمتي وي پېغمبر پېروي يې غوره کړي وي، چې د هغه يادونه هغوی ته په تورات او انجيل کې خپلې مخې ته ليکلې مومي. هغه دوی ته د نېکۍ حُکم کوي او له بدۍ څخه يې منع کوي. د دوی څخه هغه پېټي کوزوي چې پر دوی دروند شــوی وو او هغه بنديزونه ماتوي چې په هغه کې دوی کلک تړل شــوي ول؛ نو کوم کســان چې پر ده [محمد](صــلی الله عليه وســلم) ايمان راوړي او د ده ملاتړ او مرسته وکړي او د هغې روښنايي پېروي غوره کړي چې له ده سره نازله شوې ده، هماغه بري موندونکي دي.

په پورته آيت کې په څرگند ډول د قران او د ر سول الله ( صلی الله عليه و سلم) څخه تابعداري کول نيکي بلل شــوې او سرغړونه کول لوی جرم بلل شــوی؛ نو پورتنی آيت د دې لپاره راوړل شــوی که چيرې مو پيروي وکړه خو

---

[1] - سورة الاعراف، آية نمبر ۱۵۷.

مجرمین نه گڼل کېږو او که خدای ناخواسته قرآن مو و نه منه او رسول الله (صلی الله علیه وسلم) مو د رسول په توگه وه نه منو نو بیا مو په ښکاره ډول لوی جرم کړی دی.

بل ځای کې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿**إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيكُمْ الْمَيتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنْزِيرِ وَمَآ أُهِلَّ لِغَيْرِ اللهِ فَمَنِ اضْطُرَّ غيرَ بَاغٍ وَ لَا عَادٍ فَلَآ إِثْمَ عَلَيْهِ إِنَّ اللهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ**﴾.(١)

ژباړه: د الله له لورې که پر تا سې څه بندیز لگول شوي دی؛ نو هغه دا دی چې مرداره مه خورئ، د وینې او د خوگ د غوښې له خوړولو څخه ډډه وکړئ او داسې کوم شی مه خورئ چې پر هغه له الله پرته د بل چا نوم اخیستل شوی وي. هو که څوک د اړتیا په حالت کې وي او له دغو شیانو څخه څه شی بې له دې چې د الهي حکم ماتولو اراده ولري یا له حده تېری وکړي، وخوري؛ نو پر هغه څه وبال نشته، الله بخښونکی او رحم کوونکی دی.

په پورتني آیت کې الله تعالی د ځینو شیانو د استعمال او کارونې نه منع فرمایلې ده که چیرې موږ مسلمانانو له دغې شیانو نه ځان وساتلو نو مجرمین نه یو او که خدای ناخواسته ځان مو ترې و نه ژغورلو نو بیا په ښکاره توگه مجرمین یو. نو ځان ساتل ترې په کار دي او پر ځای یې د ځان ساتلو لپاره بدیلو شیانو استعمالولو په هکله الله تعالی فرمایلي دي:

﴿**وَإِنَّ لَكُمْ فِى الْأَنْعَامِ لَعِبْرَةً نُّسْقِيكُمْ مِمَّا فِى بُطُونِهِ مِن بَينِ فرْثٍ وَدَمٍ لَّبَناً خَالِصاً سَائِغاً لِلشَّارِبِينَ**﴾.(٢)

ژباړه: او ستاسې لپاره په څارویو کې هم یو درس (عبرت) شته د هغو له گېډې د خوشیو او وینې ترمنځ موږ یو شی په تاسو څښو، یعني خالص شیدې، چې د څښونکو لپاره ډیرې په خوند تېرېدونکې دي.

پورته آیت کې د حلالو شیانو او حیواناتو استعمال په هکله امر شوی دی مخکې آیت کې د خنځیر د غوښې نه استفاده کول جرم بلل شوی و اوس الله تعالی په دې آیت کې د عامه مصلحت او نظم بر قرار ساتلو لپاره د حلالو حیواناتو نه استفاده کول غوره بللي دي.

همدارنگه په بل ځای کې بیا الله پاک د حلالو شیانو او مېوو نه د استفادې په هکله فرمایي:

﴿**وَمِنْ ثَمَرَاتِ النَّخِيلِ وَالْأَعْنَابِ تَتَّخِذُونَ مِنْهُ سَكراً وَرِزْقاً حَسَناً إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ**﴾.(٣)

ژباړه: په همدې ډول موږ د خُرماوو او انگورو د مېوو له شیرو څخه هم یو شی په تاسې څښو چې تاسې د نشې مواد هم ورڅخه جوړوئ او پاکه روزي هم ده. په باوري توگه په دې کې له پوهې څخه د کار اخیستونکو لپاره یوه نښانه ده.

---

١- سورة البقره، آیة نمبر ١٧٣.

٢- سورة نحل، آیة نمبر ٦٦.

٣- سورة نحل، آیة نمبر ٦٧.

په پورته آيت کې د انگورو يادونه شوې ده که چيرې په سمه معنا و کارول شي خو گناه پکې نشته او که شراب ترې جوړ شي چې د نشــه يې مشرــوباتو په توگه وکارول شي؛ نو بيا شراب جوړول، خرڅول او څښــل يې ټول لوی جرمونه دي؛ نو د انگورو نه اســتفاده کول حلال او شراب جوړول ترينه حرام او جرم گڼل کېږي. همدارنگه په قرآن کريم کې الله (جل جلاله) فرمايلي دي:

﴿ثُمَّ كُلِي مِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ فَاسْــلُكِي سُــبُلَ رَبِّكِ ذُلُلاً ۚ يَخْرُجُ مِن بُطُونِهَا شَرَابٌ مُّخْتَلِفٌ أَلْوَانُهُ فِيهِ شِــفَاءٌ لِّلنَّاسِ... ۗ﴾.[1]

ژباړه: او د هر ډول مېوو شــيره وخوره او د خپل رب په هوارو کړو لارو الوزه او گرځه. د دغه مچی له خېټې څخه په بېلا بېلو رنگونو يو شربت راوځي، په هغې کې د خلکو لپاره شفاء ده. په يقيني ډول په دې کې هم د هغو خلکو لپاره يوه نښانه ده چې غور او فکر کوي.

په پورته آيت کې د حرامو پرځای الله تعالی د حلالو د خوړلو امر کړی دی الله تعالی وايي د شرابو څښــلو پرځای چې لوی جرم بلل کېږي تاسې د مېوو له اوبو يعنې جوسونو او شهدو (غسل) څخه استفاده وکړئ چې په دې کې ستاسې لپاره گناه نشته او گنهگار به هم نه ياستئ. الله تعالی مجرمينو ته فرمايلي دي:

﴿وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُو عَنْ كَثِيرٍ﴾.[2]

ژباړه: پر تاسې چې هر مصـيبت راغلی دی، سـتاسـې د خپلو لاسـونو له عملونو څخه راغلی دی، او له ډېرو گناهونو څخه الله همداسې تېرېږي، يعنې بخښنه درته کوي.

معنا دا هر کله چې جرايم ډېر شي؛ نو الله تعالی په مجرم انســان باندې ځينې امتحانونه او ازماينښــتونه رالېږي، خو انسان له دې ناخبره وي چې دغه مصيبتونه او غمونه د ده د جرايمو د ترسره کولو له امله رامنځته شوي دي معنا دا هر کله چې گناه درنه وشــوه دا لوی جرم دی او په مقابل کې يې الله تعالی ســزا درکوي. همدې مطلب ته الله تعالی په قرآن کريم کې په بل ځای کې هم اشاره کړې ده الله پاک فرمايي:

﴿ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ لِيُذِيقَهُمْ بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴾.[3]

ژباړه: په وچه او لمده کې د خلکو (د لاســونو) په عملونو سره فســاد ښــکاره شــوی دی؛ نو الله په دوی باندې د هغو عملونو د سزا خوند څکي چې دوی کړي دي، ښايي چې دوی راوگرځي.

---

[1] - سورة نحل، آية نمبر ٦٩.

[2] - سورة شورى، آية نمبر ٣٠.

[3] - سورة الروم، آية نمبر ٤١.

په پورتني آيت کې الله تعالی د مجرمينو او گناهگارانو په هکله فرمايلي دي چې کوم مصـيبتونه او غمونه چې پر تاسې راځي دا ټول ستاسې د اعمالو (جرمونو) او گناهونو له امله دي که مو جرايم پرېښودل مصيبتونه به درنه ليري شي او که مو دوام ورکړ الله به دربانديې مصيبتونه نور هم ډېر کړي. بيا الله تعالی په بل ځای کې فرمايلي:

﴿وَٱتَّقُواْ فِتْنَةً لاَّ تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنكُمْ خَآصَّة وَٱعْلَمُواْ أَنَّ اللهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ﴾.(١)

ژباړه: او له هغې فتنې څخه ځان وژغورئ چې د هغې ناوړه اغېزه به په ځانگړې توگه يوازې پر هغو خلکو پورې محدوده، پاتې نه شي، چې په تاسې کې چا گناه کړې وي او وپوهېږئ چې الله سخت سزا ورکوونکی دی.

د قرآن کريم له ټولو پورتنيو آيتونو څخه دا اســتدلال کېږي چې الله تعالی انســانانو ته خطاب کوي چې ای مومنانو او مســلمانانو تاســې د گناهونو نه ځان پرهيز کړئ او ځانونه ترې وســاتئ ځکه گناهونه لوی جرمونه دي او د دغې جرمونو ســزا يوازې گناهگارانو او مجرمينو ته نه رســېږي؛ بلکې د الله تعالی قهر او عذاب عام دی او ټولو ته رسېږي؛ نو په همدې اساس موږ مسلمانانو ته په کار ده چې په قصدي او عمدي توگه ځانونه په گناهونو کې اخته نه کړو ترڅو د الله تعالی عذاب رابانديې را نه شي، د الهي عذاب او سزا نه علاوه د افغانستان په قوانينو کې هم قصدي توگه بانديې جرم کوونکي لپاره جزا ټاکل شـوې ده د افغانسـتان په جزا کوډ کې د قصـدي او عمدي جرم کوونکي په هکله داسې تشريح راغلې ده:

(١) عمدي جرم هغه وخت عمدي گڼل کيږي چې د هغه د مرتکب سره جرمي قصد محقق وي.

معنا دا چې جرم ته کله قصدي ويل کېږي کله چې د اجرا کوونکي له لورې قصد او د زړه اراده موجوده وي، لکه څنگه چې مخکې مو يادونه وکړه چې يو سړی ښه پوهېږي چې دا کار کول لويه گناه او جرم دی او بيا هم دغه ډول جرمونه ترسره کوي؛ نو دغې کړنې ترسره کولو ته قصـــدي يا عمدي جرم ويل کېږي. يا ځينې وختونه په لاندې حالتونو کې هم قصدي جرم واقع کېدای شي:

(٢) جرم په لاندې حالاتو کې هم عمدي پيژندل کيږي.

١- په هغه صـــورت کې چې مرتکب د عمل په اجراء يا له قانوني مکلفيت څخه له ډډې کولو او د هغو له پايلو څخه خبر وي خو بيا هم د قانون د مخلف عمل په ارتکاب يا له قانوني مکلفيت څخه په ډډې کولو يې اقدام کړي وي.

٢- په هغه صورت کې چې شخص د قانون يا موافقه ليک پر موجب ، د دندې په ترسره کولو مکلفيت ولري او د هغو له ترسره کولو څخه قصداً ډډه وکړي په داسې ډول چې د هغه ډډه کول د جرم په واقع کېدو تمام شي.(٢)

---

١ - سورة الانفال، آية نمبر ٢٥.

٢ - جزا کوډ، ۴۴ نمبر ماده.

معنا دا يو سړی ښه په دې پوهېږي چې زما دا کار چې زه يې ترسره کوم د افغانستان جزا کوډ دې کړنې ته جرم ويلی او د قانون سره په ټکر کې دی خو بيا هم د دغې عمل په ترسره کولو اقدام کوي په دې صـــورت کې نوموړی شـــخص مجرم ګڼل کېږي او کړنه يې يو جرم دی. يا دا چې يو ســـړی د يوې ادارې له لورې په يوه دنده يا وظيفه باندې مکلف شوی دی نوموړی شخص قصداً خپله وظيفه په صحيح معنا نه ترسره کوي، حال دا چې ښه يې ترسره کولای شي او هيڅ مشـــکل په کې نه لري، خو دنده په قصـــدي او عمدي ډول نه ترسره کوي، په دې صـــورت کې نوموړی شخص مجرم دی او کړنه يا عمل يې جرم بلل کېږي.

**ب: خطاء يا غير قصدي جرمونه**

غير عمدي يا غير قصدي جرمونه ترسره کول چې په دين اسلام کې ورته وارخطا کېدل يا تېروتل ويل کېږي، يعنې کله نا کله انســـان د نه پاملرنې له امله په يوه لويه ګناه کې اخته شي، حال دا چې د ده هيڅ اراده نه وي او هڅه يې دا وي چې ځان ترې وســـاتي خو بيا هم په کې ښـــکېل کېږي؛ نو دغې ډول جرمونو ته خطاء يا غير عمدي جرم ويل کېږي، تر ټولو ښـه مثال يې په ودونو کې د ټنګ ټکور غږول دي، د واده هلک پلار او مشرـان ډېره هڅه کوي، چې د زوي په واده کې يې سندرې و نه ويل شي او مو سيقي په کې و نه غږول شي، ځکه مو سيقي اورېدل يوه ګناه ده او اورېدونکي يې مجرمين دي خپله موســـيقي غږول يو جرم دی، مګر د ډېرو هڅو سره سره بيا هم په ودونو کې موسيقي غږول کېږي، چې دغه ډول جرم ترسره کول يو غير ارادي جرم بلل کېږي. د همدې غير عمدي او غير ارادي جرم په هکله الله تعالی په خپله کتاب کې يادونه کړې ده.

الله تعالی په خپل کتاب کې فرمايلي دي:

﴿**مَا جَعَلَ عَلَيكُمْ فِى الدَّينِ مِنْ حَرَجٍ**﴾.[1]

ژباړه:الله تعالی تاسې د خپل کار (عبادت) لپاره غوره کړي ياستئ او په دين کې يې پر تاسې څه تنګي نه ده راوستې.

له پورتني آيت څخه ښکاريږي چې کله نا کله چې انسان نه جرم او ګناه کېږي دا د هغه د خپله لاسه ده يعنې الله تعالی دين اسـلام اسـان کړی او هيڅ رنګه مشـقت او تکليف يې په خلکو باندې نه دی حتمي کړی، کوم څوک چې خپل ځان په مشـــقت او تکليف کې اخته کوي دا نو د هغوی له لورې د ځان سره ظلم دی چې دغه ظلم هم يو ډول جرم بلل کېږي. بل ځای کې بيا الله تعالی فرمايي:

﴿**يُرِيدُاللهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلاَ يُرِيْدُ بِكُمُ الْعُسْرَ**﴾.[2]

ژباړه: الله تعالی پر تاسې اسانتيا راوستل غواړي، سختي راوستل نه غواړي.

---

[1] - سورة حج، آية نمبر ۷۸.

[2] - سورة بقره.، آية نمبر ۱۸۵.

په دې آيت کې هم الله تعالی انسـانانو ته خطاب کړی چې ما په تاسـې اسـاني راوسـتلې، سـختي مو نه ده راوستې که تاسې په خپل نفس باندې ظلم کوئ او گناه کارونه ترسره کوئ نو دا داسې مثال لري لکه تاسې چې لوی جرم سرته رسوئ؛ په ځان باندې تنگسياه راوستل هم جرم دی کوم څه چې دې له وس نه پوره وي هغه باندې مکلف يې او کوم څه چې ستا له توان نه زيات وي هغه مه ترسره کوه ځکه د هغې په ترسره کولو کې گناه ده او گناهونه ټول جرمونه دي. بيا الله تعالی فرمايلي دي:

﴿فَمَنِ اضْطُرَّ غَيرَ بَاغٍ وَ لاَ عَادٍ فَلاَ اِثْمَ عَلَيهِ﴾.(1)

ژباړه: که څوک د اړتيا په حالت کې وي او له حرام کړای شـويو شـيانو څخه څه شـی وخوري، بې له دې چې الهي حُکم ماتولو اراده ولري يا له حده تېری وکړي او ويې خوري؛ نو پر هغه څه وبال نشـته، الله بخښـونکی او رحم کوونکی دی.

په پورته آيت کې هم د اړتيا حالت ښودل شوی يعنې د اړتيا پر وخت کولای شې چې له ناجايزه شيانو څخه هم د ژوندي پاتې کېدو لپاره تر يوه حده اسـتفاده وکړې چې په دې کار کې سـتا قصـد او اراده د جرم ترسره کول نه دي يعنې دا غير عمدي کار دی جرم نه دی ځکه که دا کار و نه کړې ژوند له لاسـه ورکوې. په بل ځای کې الله تعالی فرمايلي دي:

﴿اِلاَّ مَااضْطُرِرْتُمْ اِلَيهِ﴾.(2)

ژباړه: له اضطراري حالت څخه پرته په نورو ټولو حالتونو کې حرام کړي دي.

دلته د اړتيا په وخت يو کار چې هغه په نورو عادي حالاتو کې جرم او گناه بلل کېږي په دې صورت کې ترسره کولو کې سـتا اختيار او واک نه وي ځکه که دا ناجايز کار ترسره نه کړې له منځه ځې نو حتماً به يې ترسره کوې معنا دا چې دلته په دې کړنه کې سـتا اراده له مخکې څخه نه وه چې ته دې دا کار وکړې خو اوس حتمي ده چې دا کار وکړې دا غير ارادي کار او کړنه ده په بل ځای کې الله تعالی په قرآن کريم کې فرمايلي دي:

﴿كُلُوا مِن طَيبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ وَ لاَ تَطْغَوْا فِيهِ فَيحِلَّ عَلَيكُمْ غَضَبِی ...﴾.(3)

ژباړه: زموږ پاکه درکړې روزي خورئ! او د هغې په خوراک کې سرکښـي مه کوئ، که نه نو پر تاسـې به زما غضـب پرېوځي او په چا باندې چې زما غضب نازل شو، هغه نو په يقيني توگه وغورځېده.

د الله تعالی غضب په هغه چا نازلېږي چې قصدي او عمدي جرمونه ترسره کوي؛ نو دلته الله تعالی خپلو بنده گانو مومنانو ته خطاب کړی چې قصدي جرمونه او گناهونه مه کوئ د هغې پرځای حلال مال او رزق وخورئ.

1 - سورة البقره، آية نمبر ۱۷۳.

2 - سورة الانعام، آية نمبر ۱۱۹.

3 - سورة طه، آية نمبر ۸۱.

الله تعالی په خپل کتاب کې بیا فرمایلي دي:

﴿**يا أيهَا النَّاسُ كُلُوا مِمَّا فِی الْأَرْضِ حَلاَلاً طَيباً وَلاَ تَتَّبِعُوا خُطُواتِ الشَّيطانِ ۚ اِنَّهُ لَکُمْ عَدُوٌ مُبِينٌ**﴾.(١)

ژباړه: ای خلکو! په ځمکه کې چې کوم حلال او پاک شیان دي، هغه خورئ او د شیطان په ښودلو لارو مه ځئ! هغه ستاسې ښکاره دښمن دی.

اسـلامي شریعت تل په دې امر کوي چې تاسـې د حرامو څخه ځان وسـاتئ ځکه حرام خوړل لویه گناه ده او دغه جرم ترسره کوونکي دومره مجرمین دي چې الله تعالی یې عبادت نه قبلوي، زموږ دین همېشـه د حلالو په خوراک باندې امر کوي، ځکه حلال خوړل د انسان صحت ته گټه رسوي.

د غیر عمدي یا خطاء جرم په هکله الله تعالی فرمایلي دي:

﴿**وَمَنْ قَتَلَ مُوءْمِنًا خَطَئًا فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّوْمِنَةٍ وَ دِيَةٌ مُّسَـلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ ... فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَصِـيَامُ شَـهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ ..**﴾.(٢)

ژباړه: دا د یو مومن کار نه دی چې بل مومن ووژني، مگر دا چې خطا ورڅخه وشي. او څوک چې کوم مومن په خطائی سره ووژني؛ نو د هغه کفاره د یو مومن مریي ازادول او د وژل شـوي وارثانو ته د وینو بیه ورکول دي، مگر دا چې د وژل شـوي وارثان قتل وبخښـي. خو که هغه وژل شـوی مسـلمان له کوم داسـې قوم څخه و چې له هغه سره ستاسې دښمني وي؛ نو د هغه کفاره د یو مومن غلام ازادول دي. او که هغه وژل شوی مومن د کوم داسې نا مسلمان قوم وگړی و چې له هغه سره ستا سې تړون و؛ نو د هغه وارثانو ته به د وینو بیه ورکول او د یو مومن غلام ازادول وي؛ نو که څوک غلام و نه لري، پر له پسې دې دوې میاشتې روژه ونیسي دا پر دې گناه باندې الله ته د توبې ایستلو طریقه ده او الله د علم او پوهې خاوند دی.

د فقهاوو په دې خبره باندې اتفاق د نظر دی چې په خطاء قتل سره به دیت ورکول کېږي ځکه د رسـول الله (صلی الله علیه وسلم)، د عمر او علي (رضي الله علیهم اجمعین) په وخت کې هم دیت ورکول شوی دی.(٣) په دې قتل کې قاتل لا د مخه د قتل کولو اراده او قصـد نه لري، بلکې غیر ارادي او غیر عمدي کار ترې سرته رسـېږي چې غیر عمدي کې انسان د مجازات وړ نه دی خو دلته دیت ورکول د انسان قدر او قیمت لپاره ټاکل شوي دي.

د اسـلام مبارک دین سربېره د افغانسـتان جزا کوډ هم د هغو مجرمینو د جزا په هکله تشریـح ورکړې ده چې په غیر ارادي توگه ترې جرم شوی وي یعنې په زړه کې یې د دغې جرم د ترسره کولو په هکله هیڅ اراده موجوده نه وي، خو تصادفي ترې صادر شي په دې هکله داسې راغلي دي:

---

١ - سورة البقره، آية نمبر ١٦٨.

٢ سورة النساء، آیت نمبر ٩٢.

٣ المغني: ٧/ ٧٧٠ ؛ نیل الأوطار: ٧/ ٨٠ ؛ نصب الراية: ٤/ ٣٣٤ ، ٣٩٩.

(جرم هغه وخت غیر عمدي یا خطا پیژندل کیږي چې د اهمال، بې احتیاطی، غفلت یا د قوانینو او مقرراتو د نه رعایت له امله یې صورت موندلی وي او فاعل د خپل عمل پایلې پیشبیني کړې وي).([1])

په دې ماده کې غیر عمدي جرم په دې توګه تشریح شوی دی چې د بې احتیاطۍ یا نه پاملرنې او غفلت له امله ترسره شوی وي خو بیا هم ترسره کوونکی یې د قانون په وړاندې ملامت دی، ځکه د پایلې یعنې د جرم له سزا څخه خبر دی، که څه هم نوموړي خپله و سه او توان په کار اچولی چې دغه ډول جرم اجرا نه کړي؛ اما په بې فکرۍ او بې پامۍ سره په کې ښکېل کیږي. د افغانستان د جزا کوډ له مخې هر هغه ګناه او جرم چې په بې احتیاطۍ او بې فکرۍ سره ترسره شي غیر عمدي او غیر قصدي جرم بلل کیږي.

## دویم مبحث: په جرم باندې پیل کول او د هغې حالات

### لومړی مطلب: په جرم باندې پیل کول

د جرم یا ګناه د ترسره کولو لپاره هر ډول کړنه او عمل ترسره کول هغه که قصد او اراده درلودل وي او که د جرم د ترسره کولو لپاره مشوره کول وي، که زمینه برابرول او یا وسایل چمتو کول وي او که هغه پیسې ورکول وي یا خپله د جرم ترسره کول وي ټول ډېر زیات مراحل لري نو په جرم باندې پیل کول په اصل کې د ګناه ترسره کول دي چې په هکله یې الله (جل جلاله) په قرآن کریم کې د جرم په ځای د ګناه کلمه کارولې ده، ځینې ګناهونه لوی ګناهونه دي چې د فقهې په اصطلاح لوی جرمونه ګڼل کیږي مرتکب او اجرا کوونکی یې ان ځینې وخت له دین څخه وځي او ځینې وخت په قتل باندې رسیږي. مګر ځینې جرمونه بیا کوچني جرمونه دي چې انسان کولای شي په یو استغفرالله ویلو باندې د الله تعالی نه د هغې د بخښنې طمع او امید وساتي، په ګناه باندې پیل کولو او شروع کولو او همدارنګه په ګناهونو باندې د اخته کېدو څخه د ځان ساتلو په اړه الله تعالی د قرآن کریم په ډېرو آیتونو کې دا مفهوم راوړی دی.

الله تبارک و تعالی په خپل کتاب (قرآن کریم) کې د ګناه د نه کولو او نه پیل کولو په هکله فرمایلي دي:

**﴿وَكَأَيِّنْ مِنْ قَرْيَةٍ عَتَتْ عَنْ أَمْرِ رَبِّهَا وَرُسُلِهِ فَحَاسَبْنَاهَا حِسَابًا شَدِيدًا وَعَذَّبْنَاهَا عَذَابًا نُكْرًا ۝ فَذَاقَتْ وَبَالَ أَمْرِهَا وَكَانَ عَاقِبَةُ أَمْرِهَا خُسْرًا﴾**.([2])

ژباړه: څومره کلي (د کلي اوسېدونکو) چې هغوی د خپل رب او د هغه د پیغمبرانو له حُکم څخه سرغړاوی وکړ؛ نو موږ له هغو سره سخته محاسبه وکړه او هغوی ته مو سخته ناکاره سزا ورکړه. هغوی د خپلو کړنو خوند و څکی او د هغوی د کار پای ټول زیان دی.

[1] جزا کوډ، ۴۵ نمبر ماده.

[2] سورة الطلاق، آیت نمبر ۸او ۹.

په دې آيت کې سرغړونه خپله د جرم د پيل په معنا ده يعنې که اســلامي شرعي خبره دې ومنله نو مجرم نه ګڼل کيږي او که سرغړونه دې وکړه معنا دا د شرعي کار او خبرې خلاف کول ټول په جرم باندې پيل کول دي. بل ځای کې الله تعالی په قرآن کريم کې فرمايلي دي:

﴿وَ لاَ تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ اِلَى التَّهْلُكَةِ ۛ وَأَحْسِنُوا ۛ اِنَّ اللهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِين﴾.(١)

ژباړه: په خپلو لاســونو خپل ځانونه (په سر او مال سره د جهاد په پرېښــودلو په هلاکت کې مه غورځوئ، د ښــېګڼې لاره غوره کړئ چې الله ښېګڼه کوونکي خوښوي.

په دې آيت کې ځان هلاکول خپله د جرم د پيل په معنا ده يعنې کله چې دې د جرمونو پيل وکړ دا دا سې شوه لکه ځان چې دې خپله هلاک کړی وي؛ نو هر ډول غير شرعي کړنه ترسره کول جرم دی او په جرم پيل دی چې سبب او نتيجه يې هلاکت دی الله تعالی وايي تاسې ځان مجرم مه ګرځوئ بلکې ځان نه محسن او نېک سړی جوړ کړه چې الله تعالی درسره مينه وکړي ځکه مجرمينو او ګناهګارانو سره الله تعالی مينه نه کوي بلکې عذاب ورله ورکوي. بل ځای کې الله (جل جلاله) فرمايي:

﴿وَ لاَ تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ ۚ اِنَّ اللهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا﴾.(٢)

ژباړه: ای مومنانو! په خپلو منځو کې يو د بل مالونه په ناروا توګه مه خورئ! مګر (خورئ يې) که راکړه ورکړه د دواړو خواوو په خوښ سره (په روا توګه) وي او خپل ځانونه مه وژنئ، باور ولرئ چې الله پر تاسې مهربان دی.

په پورته آيت کې الله تعالی مومنانو ته بيا خطاب کړی چې تاســې په جرم باندې پيل مه کوئ او ځان مه هلاکوئ بلکې د جرمونو نه ځان وســاتئ الله تعالی په تاســې رحم کوي نو هر ډول جرم ترسره کول او پرې پيل کول خپله هلاکت دی. او بيا الله تعالی مومنانو ته خطاب کوي او وايي:

﴿فَاتَّقُوا اللهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ﴾.(٣)

ژباړه: ترڅو پورې چې ستاسې په وس او توان کې وي له الله تعالی څخه وويرېږئ.

الله تعالی مســلمانانو او مومنانو ته خطاب کوي چې تاســې خپل ځانونه په خپله مه هلاکوئ يعنې ځانونه مو په جرمونو او ګناهونو کې مه اخته کوئ بلکې له الله تعالی نه وويرېږئ او د الله تعالی نوم ياد کړئ، هر هغه څوک چې د الله تعالی نه نه ويرېږي هغوی بيا ګناهونه (جرمونه) ترسره کوي چې په ترسره کولو سره د الله تعالی له لورې د عذاب مستحق ګرځي او د الله تعالی سزا ورکول بيا ډېره سخته ده هم په دنيا کې عذاب درکوي او هم په اخرت کې

---

(١) سورة البقره، آية نمبر ١٩٥.

(٢) سورة النساء، آية نمبر ٢٩.

(٣) سورة التغابن، آية نمبر ١٦.

گناهگارانو لپاره جزاګانې ټاکل شـــوي دي، د افغانســـتان په جزا کوډ کې هم د مجرمينو د عمل د پيل کولو په هکله تشريحات شته، چې په لاندې توګه يې راوړي دي:

(په جرم پيل د جنايت يا جنحې د ارتکاب په قصــد د عمل په اجراء له پيلولو څخه عبارت دی په داســې ډول چې د هغه آثار د فاعل له ارادې څخه د بهر اسبابو په پام سره متوقف يا خنثی شوی وي).[1]

معنا دا هر کله چې يو شخص په ګناه يا داسې عمل چې قانون ورباندې د نه ترسره کولو امر کړی وي او د قانون خلاف عمل وي پيل وکړي، نو دغه عمل جرم دی او ترسره کوونکی يې د جرم د ترسره کولو په لومړنيو حالتونو کې اخته شوی دی، يعنې که يو څوک د قانون خلاف کړنې لپاره لومړني ا سباب او و سايل هم چمتو کړي دی د جرم د ترسره کولو په لومړني حالت کې واقع شوی دی.

## دويم مطلب: په قباحت باندې پيل کول

د افغانستان په جزا کوډ کې د ا شخا صو لپاره جزاګانې د ګناه د اندازې او کچې په نسبت تعين شوي دي. يعنې په ا سلامي شريعت کې د لويې يا کبيره ګناه ترسره کوونکي لپاره چې لوی جرم بلل کېږي لويې سزاګانې ټاکل شوي او د کوچنيو ګناهونو د ترسره کولو لپاره چې کوچني جرمونه بلل کېږي سـزاګانې يې هم کوچنۍ دي، خو د اسـلام د مبارک دين له نظره کله نا کله په کوچنۍ ګناه يا کوچني جرم باندې همېش والی کول هم کولای شي چې لويه ګناه شي. معنا دا که يو ســړی همېشــه لپاره واړه يا کوچني جرمونه ترسره کوي دغه کړنې د دې لامل کېدای شي چې يوه ورځ نوموړی شخص په لويو جرمونو باندې مبتلا کړي، نو په دين اسلام کې د هر ډول ګناه کولو څخه منع راغلې ده که څوک ترې ځان و نه ساتي د ا سلامي احکامو مطابق به جزا ورکول کېږي. همدغه مطلب د افغانستان په جزا کوډ کې هم تشريح شوی ديو يعنې په جرم کې شدت يا سخت والی خپله جرم نه دی، مګر د جرم ترسره کولو سره مجرم په سزا باندې محکومېږي په دې هکله د جزا کوډ په ۵۵ ماده کې داسې راغلي دي:

(په قباحت باندې پيل کول جرم نه دی، مرتکب يې نه مجازات کيږي).[2]

په جرم کې ســخت والی خپله جرم نه دی، اما ســزا يې زياتېدای شي. مګر کله نا کله داســې وي چې د جرم مجازات د تدبير او تکميل سره اړيکه لري ځکه د همدغې قانون په ٥٦ نمر ماده کې بيا ويل شوي دي:

(په جرم د پيل په مجازاتو د شخص د محکوميت پر وخت په تبعي، تکميلي مجازاتو او تأميني تدبيرونو پورې متعلق خاص حکمونه چې د تام جرم په هکله پيشبيني شوي دي، په جرم د پيل د جزا په هکله هم تطبيقيږي).[3]

---

[1] جزا کوډ، ۴۷ نمبر ماده.

[2] جزا کوډ، ۵۵ نمبر ماده.

[3] جزا کوډ، ٥٦ نمبر ماده.

معنا دا هغه وخت يو شــخص مجرم بلل کېږي چې د جرم د تکميل او د امنيتي تدبيرونو د احکامو پورې اړه ولري يعنې کله چې يو شـخص لومړني تدبيرونه او پلانونه ترسره کړي؛ نو په دې شـخص باندې هغه موارد تطبيقيږي چې د جرم د پيل کوونکي لپاره وضع شوي دي.

## دریيم مبحث: فاعل، شريک او د جرمونو معاون

### لومړی مطلب: د جرم فاعل

جرمونه اکثره وخت په ډله ييزه توګه ترسره کېږي، په يوازې تن د جرمونو او ګناهونو ترسره کول هم شتون لري، اما ډله ييز جرمونه بيا د ټولنې د خلکو لپاره ډېر خطرناک او زيان رسوونکي تماميداى شي. په همدې اساس يو جرم ممکن ترسره کوونکی، شريک يا ګډون کوونکی او مرسته کوونکی ولري. تر هر څه لومړی دلته د افغانستان په جزا کوډ کې د هغې شـخص په هکله چې د جرم ترسره کوونکی بلل کېږي په لاندې توګه تشرـيحات شـتون لري: (۱) (فاعل، هغه شخص دی چې په يوازيتوب يا د نورو په ګډون د جرم د مادي عمل مرتکب شوی وي).[1]

مخکې د جرم د مادي عنصر په هکله يادونه شوې ده دلته هغه مجرم او مرتکب راوړل شوی چې د جرم عمل سرته رسوي هغه که په يوازې توګه وي او که په ډله ييزه توګه که په ډله ييزه توګه وي خو په هغې کې هم يو شخص يا دوه تنه جرم ترسره کوي او نور ورته پلان جوړوي يا ورته د جرم د ترسره کولو رهنمايي کوي. يعنې هر هغه څوک چې جرم ترسره کوي او عملي کار يې سرته رسوي دې د جزا کوډ له مخې د جرم فاعل ګڼل کېږي چې د دغې فاعل لپاره بېلا بېلې جزاګانې ټاکل شوي دي. يعنې جرمونه سره مختلف دي د هرې نوعې او ډلې جرم چې يې ترسره کړی وي د هماغې جرم مطابق ورته ســزا ټاکل کېږي او په جرمي ســزا باندې محکوميږي څکه د همدغې مادې په دويمه شمېره کې راغلي دي:

(۲) (فا عل د مرتکبه جرم په ټاکلې جزا محکوميږي).[2] د جرم ترسره کوونکی جرم ته په کتو په جزا با ندې محکوميږي، معنا دا که جرم يې لوی کړی وي ســزا يې هم ډېره ده او ســخته ســزا به ورکولی شي او که جرم يې کمزوری او کوچنی وي نو سزا يې هم لږ ده.

### دويم مطلب: د جرم شريک

لکه څرنګه چې مخکې مو يادونه وکړه، چې ډله ييز جرمونه په ځانله توګه نه شي ترسره کېدای، بلکې اکثره جرمونه د څو تنو يا يوې ډلې له لورې ترسره کېږي، د افغانســتان د جزا کوډ له مخې هر هغه شــخص چې د جرم د ترسره کولو لپاره د فاعل يا د جرم د ترسره کوونکي سره مرســته وکړي يا ورته رهنمايي وکړي، نوموړي شــخص ته د

---

[1] جزا کوډ، ۵۷ نمبر ماده، لومړی بند.

[2] جزا کوډ، ۵۷ نمبر ماده، دويم بند.

جرم شریک یا ګډون کوونکی ویل کېږي، د همدغې کوډ له مخې نوموړی ګډون کوونکی به هم په جزا باندې محکومېږي په لاندې توګه یې تشریح راغلې ده:
(۱) (شریک، هغه شــخص دی چې د جرم له مادي اعمالو څخه د یوه یا څو عملونو په ارتکاب کې، اګاهانه او په مستقیم ډول له فاعل یا نورو فاعلینو سره سهیم وي).([1])

معنا دا هر هغه څوک چې د جرم په ترسره کولو کې په مستقیم یا غیر مستقیم ډول باندې د ترسره کوونکي سره ګډون وکړي ولو که دی د جرم په وخت ورسره موجود نه وي، اما که مشــوره یې ورکړې وي یا یې ورته رهنمایي کړې وي یا یې ورته لاره ښــودلې وي یا یې وســله او نور اســباب ورکړي وي چې جرم ترسره کوونکي سره د جرم په سرته رسولو کې مرسته کوونکي وي دغه همکار او مشوره ورکوونکی شخص د جرم ګډون کوونکی بلل کېږي او سزا یې بیا د جرم په نسبت ټاکل شوې یعنې که جرم لوی وي ډېره سزا به ورکول کېږي او که جرم کوچنی وي نو سزا به یې هم کمه ټاکل کېږي د جزا ورکولو په هکله بیا د همدغې مادې په دویم بند کې داسې راغلي دي:
(۲) (شریک د هغه جرم په مجازاتو جې ګډون یې پکې کړی دی، محکومیږي).([2])

د پورته خبرې هدف او مقصد دا دی د جرم ګډون کوونکی یا شریک هغه وخت په مجازات باندې رسېږي او سزا به ورکول کېږي چې یو له پورته مواردو څخه چې مخکې یې یادونه وشوه ترسره کړي، نو د همدغې کوډ د ټاکل شوي جزاګانو څخه به په یوې باندې چې د جرمونو لپاره تعین شوي دي محکومېږي.

## درېیم مطلب: د جرم معاون

کله نا کله د جرم په ترسره کولو کې لومړنی شخص هغه تن وي چې فاعل یا د جرم ترسره کوونکی وي یعنې د جرم ټوله کړنه یو شخص ترسره کوي او بل معاون وي یعنې د مجرم سره د لارې ملګرتوب کوي یا ورسره وسله وړي یا ورته اســباب محیا کوي او د جرم د ترسره کولو ځای ته یې رســوي یا یې مالي ملاتړ کوي دا ټول صــورتونه هغه حالتونه دي چې ملاتړ کوونکی، لاره ښـودونکی، د مجرم سره تلل او هغه د جرم ځای ته رسـول ټول په معاونیت کې راځي هر هغه څوک چې د مجرم سره یو له پورته مواردو څخه ترسره کړي دی د افغانستان د جزا کوډ له مخې د جرم معاون بلل کېږي چې په لاندې توګه یې تشریح شوې ده:
(۱) (په جرم کې معاونت د سببیت په شکل په مجرمانه عمل کې د دخالت په معنی دی، په داسې ډول چې معاون د جرم د مادي عمل په ارتکاب کې مستقیم د خالت ونلري).([3])

---

[1] جزا کوډ، ۵۸ نمبر ماده، لومړی بند.

[2] جزا کوډ، ۵۸ نمبر ماده.

[3] جزا کوډ، ۵۹ نمبر ماده، لومړی بند.

معنا دا هغه وخت یو شخص مجرم بلل کېږي چې د جرم په ترسره کولو کې مجرمانه عمل ترسره کړي یعنې په مجرمانه عمل او کړنې کې ګډون وکړي نو دی هم په جرم کې داخل شو او دغه دخالت بیا د جرم د معاونیت په نامه یادېږي یعنې داسې نه وي چې د جرم معاون په مستقیم ډول د جرم په ترسره کولو کې ګډون کوي بلکې په غیر مستقیم ډول باندې د مجرم سره مرسته کوي. دغه مطلب په لاندې کرښو کې تشریح شوی دی:

(۲) شخص لاندې حالتونو څخه په یوه کې د جرم د معاون پیژندل کیږي:

۱- (شخص د جرم ارتکاب ته تحریک، تهدید، تطمیع، یا وهڅوي یا په دسیسې یا فریب یا له قدرت څخه په ناوړې ګټې اخیستنې سره د جرم د وقوع موجب شي).(۱)

د جرم معاون هغه څوک دی چې د جرم ترسره کوونکی یا د جرم فاعل جرم سرته رسولو ته تحریک کړي، یا یې په زوره پرې ترسره کړي یعنې تهدید یې کړي، یا ورله طمع ورکړي یعنې ورته ووایي چې دا جرم ترسره کړه زه به دومره دومره روپۍ یا جایزه تاته درکړم، یا یو شخص دې ته وهڅوي چې جرم ترسره کړي، یا د یوې دسیسې له مخې نوموړی شخص د جرم په ترسره کولو باندې مرتکب کړي یا له فریب او دوکې څخه کار واخلي چې یو څوک جرم ترسره کړي او یا هم د خپل واک او قدرت څخه چې دی یې لري یو شخص دې ته مجبوره کړي چې د نورو په وړاندې جرم ترسره کړي دغه ډول شخص چې نور افراد جرمونو ته تحریک، تهدید، تطمیع، هڅوي یا د یوې دسیسې، فریب او د قدرت څخه په ناوړه ګټې اخیستنې یې مجبوري د جرم معاون بلل کېږي.

۲- (د جرم په ارتکاب له یو شخص سره موافقه وکړي او جرم د همدې موافقې له امله منځته راځي).(۲)

معنا دا چې کله یو څوک یو جرم ترسره کوي او دی د هغه سره د جرم په ترسره کولو باندې موافقه وکړي د دې سړي د موافقې کولو له امله دی هغه شخص په دې ډاډه کړي چې جرم ترسره کړي دغه ډاډ ورکوونکی او موافقه کوونکی شخص په دې ځای کې د جرم معاون بلل کېږي، ځکه د همدې شخص په موافقه کولو سره مجرم ډاډه شو چې جرم ترسره کولو ته زړه ښه کړي.

۳- (د جرم له فاعل سره په یو ډول نه یو ډول د جرم د ارتکاب په تجهیزاتي یا تسهیلاتي اعمالو کې په هغو د علم په لرلو سره، مرسته وکړي او جرم د همدې مرستې له امله منځته راشي).(۳)

د دې شمېرې مفهوم او معنا دا ده چې هر کله یو مجرم ته څوک و سایل برابر کړي هغه که په ا سانۍ سره وي او که په سختۍ سره وي خو چې د جرم د ترسره کولو لپاره دې ورته تجهیزات او وسایل برابر کړل دغه وسایل او تجهیزات برابروونکي اشخاص د جرم معاونین بلل کېږي، ځکه جرم د نوموړي شخص د وسایلو د اماده کولو له امله

---

۱ جزا کوډ، ۵۹ نمبر ماده، لومړی بند لومړۍ شمېره.

۲ جزا کوډ، ۵۹ نمبر ماده، لومړی بند دویمه شمېره.

۳ جزا کوډ، ۵۹ نمبر ماده، لومړي بند دریمه شمېره.

ترسره شـوی نو دغه شـخص هم په جرم کې ګډون کوونکی دی چې د افغانسـتان د جزا کوډ له مخې د جرم معاون بلل کېږي.

(۳) (معاون د مرتکبه جرم له مجازاتو څخه په یوه ټیټه درجه جزا محکومیږي. خو داچې په دې قانون کې بل ډول حکم شوی وي).([1])

د جرم معاون ته هغه ډول سـزا نه ورکول کېږي لکه څرنګه چې د ترسره کوونکي یا فاعل لپاره ټاکل شـوې ده. بلکې د هغې نه کمه اندازه سزا به ورکول کېږي او د افغانستان د جزا کوډ له مخې نوموړی شخص مجرم ګڼل کېږي. یعنې په جرم ترسره کولو کې لاس لري، هر څومره چې جرم په کومه اندازه ترسره کړی وي په هماغه اندازه به ورته سزا هم ورکول کېږي، خو د جرم د معاون سزا د جرم د فاعل یا ترسره کوونکي سره فرق کوي.

## څلورم مطلب: د جرم ترتیبوونکی

د جرمونو د ترتیب په هکله هم د افغانستان په جزا کوډ کې یادونه شوې ده. دغه مو ضوع په ا سلامي شریعت کې بیا د ګناه کوونکي یا د ګناه د وسایلو ترتیبوونکي چې نور خلک په ګناه کې اخته کړي یادونه شوې ده جرم چې ترسره کېږي حتماً ورته مخکې ترتیب جوړیږي یعنې د جرم ترتیبوونکي چې د جرم د ترسره کولو لپاره کوم لومړني اقدامات کوي هغې ته د جرم ترتیب وایي. د افغانسـتان د جزا کوډ د دغې ډول اشـخاصـو لپاره چې د ګناه کولو لپاره ترتیب رامنځته کوي او خلک په لویو جرمونو کې ښـکېلوي یو لړ مجازات په نظر کې نیولي دي، د جرم ترتیبوونکی د همدغې کوډ له مخې مجرم بلل کېږي او کړنې یا عمل ته یې جرم ویل شوي دي. چې دغه ډول اعمالو لپاره د جزا کوډ ځینې مجازات ټاکلي دي چې په لاندې توګه تشریح شوي دي:

(۱) (سازمان ورکوونکی هغه شخص دی چې جرمي سازمان موندل شوې ډله جوړه، رهبري، هدایت یا سازماندهي کړي).([2])

یعنې د جرم ترتیبوونکي ډله یا ګروپ هغې ډلې ته ویل شـــوې ده چې یا خپله د جرمونو د ترسره کولو ترتیب رامنځته کوي، یا نورو خلکو ته رهبري کوي هغوی ته د جرمونو د ترسره کولو لارښـــوونې کوي یا ورته هدایت کوي چې د جرمونو کارونه ترسره کړي او یا ورته امکانات جوړوي چې جرمونه ترسره کړي؛ نو دغه ډول اشـــخاص د افغانستان د جزا کوډ له مخې مجرمین بلل کېږي باید د قانون له مخې ورته سزا ورکړل شي. د جزا ورکولو د اندازې په هکله یې په لاندې ډول تشریح شوې ده:

---

[1] جزا کوډ، ۵۹ نمبر ماده.

[2] جزا کوډ، ٦٠ نمبر ماده، لومړی بند.

(۲) (ســازمان ورکوونکی د مرتکبه جرم د اکثر حد په یو نیم چند مجازاتو محکومېږي. په دې شرط چې د حبس موده له دېرشو کلونو څخه تجاوز و نکړي).[۱]

هر هغه څوک چې د جرمونو د ترسره کولو لپاره ترتیب جوړويو یا یې رهبری کوي او یا ورته هدایت کوي چې جرم ترسره کړي؛ د افغانستان د جزا کوډ له مخې دغه ډول اشخاص د جرم د فاعل یا ترسره کوونکي په نسبت په یو نیم چند زیاته جزا باندې محکومیږي ځکه اصــل د جرم د ترسره کولو علت همدی دی. خو دغه جزا به اکثره یا لوړ حد یې ۳۰ کلونو څخه زیات نه وي، یعنې د جرم ترتیبوونکي ډلې رامنځته کوونکي او جرم ترتیبوونکي سازماني اشخاصو لپاره د جزا لوړ حد ۳۰ کلونه بند تېرول په پام کې نیول شوې ده.

په اسـلامي فقه کې د جرم د ترسره کوونکو او ترتیبوونکو په هکله راغلي دي که چیرې یو امر خپل مامور ته امر وکړي چې فلانکی شخص قصاص کړه نو د دغې امر لپاره تعزیر شته که نه په دې هکله امام مالک، امام شافعي او امام احمد[۲] (رحمه الله علیهم اجمعین) ویلي دي: که چیرې یو پاچا خپل مامور ته امر وکړي چې سړی قصاص کړه نو د دغې آمر امر داســې دی لکه یو پلار چې خپل کوچني زوي ته امر کوي او حاکم یا آمر خو په لاس لاندې خلکو مامورینو باندې واک او اختیار لري نو مامور ته په کار ده چې د قتل په وخت د خپل آمیر او حاکم خبره و نه مني، لاکن د امام مالک[۳] (رحمه الله) په نظر مامور دې د آمر امر و مني ځکه مامور په دې حالت کې په اکراه کې دی.[٤]

[۱] جزا کوډ، ٦٠ نمبر ماده، دویم بند.

[۲] بدایة المجتهد: ۳/ ۳۸۸ ؛ الشرح الکبیر للدردیر: ٤/ ۳٤٤؛ المهذب: ۲/ ۱۷۷، کشاف القناع: ٥/ ٦۰۲ ؛ المغني : ۷/ ۷٥۷ ؛ القوانین الفقهیة، ص ۳٤٥.

[۳] مالک بن انس چې په امام مالک باندې مشــهور دی د څلور فقهاوو له جملې څخه یو دی مالکي فقه ورته منســوب ده مالک بن انس بن مالک بن انس بن الحارث بن غیمان بن خثیل بن عمرو بن الحارث الاصبحي چې په مالک ابن انس مشـهور دی (۹۳ – ۱۷۹هــــق) د اهل سـنت دویم امام دی مور یې العالیه بنت شریک بن عبدالرحمان بن شریک اسدی لور وه چې دا هم د هغه وخت یوه عزت لرونکې میرمن وه.

[٤] بدایة المجتهد: ۲/ ۳۸۹.

امام شــافعي([1]) او امام احمد بن حنبل([2]) (رحمه الله عليهم اجمعين) فرمايلي: په دې ځاى کې د مامور پوهه د قتل په اړه بغير له حق څخه ده مامور مکلف دى چې د خپل حاکم خبره ومني په دې کار کې مامور معذور دى دليل يې د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) قول راوړي چې فرمايلي يې دي:

**« لا طاعة المخلوق في معصية الخالق».**([3])

ژباړه: د مخلوق تابعداري به نه کوئ کله چې د الله تعالى تابعداري ته زيان رسيږي.

نو تعزير ورکول د قتل په امر کې ظلم دى ځکه دې خو گناه او جرم نه دى کړى، اما که چيرې مامور په دې پوهيږي چې دغه قتل چې دى يې کوي په ناحقه سره دى نو بيا به آمر قصاص کيږي په دې صورت کې مامور بايد د خپل آمر او حاکم خبره و نه مني ځکه په امر منلو کې گناه ده په ښــکاره توگه په دغې کار کې په ناحقه عمل کول دي.

لاکن د امام أبو حنيفه (رحمه الله) په قول په امر باندې قصــاص نشــته مگر هغه چې کله مکروه وي ځکه په مامور باندې قصاص نشته دا چې کله د خپل مشر خبره مني نو دى خو د ځان مالک نه دى دا امر او پيروي داسې ده لکه د قصاص اراده که چيرې دغه امر په ناحقه سره مامور پلى کړي نو بيا به مامور هم قصاص کيږي.([4]) د پورته متن خلاصه دا شوه کله چې د جرم ترتيبوونکي په ناحقه باندې يو جرم ترسره کوي نو ټول په کې مجازات کيداى شي او

[1] امام شافعى: محمد ادريس الشافعى چې د (۱۵۰ – ۲۰۴ هجري قمري) کال پورې يې ژوند کړى په أبو عبدالله باندې مشهور و د اهل سنت له ديني عالمانو څخه گڼل کيده. پوره نوم يې أبو عبدالله محمد بن ادريس بن عباس بن عثمان بن شافع بن سـائب بن عبدالله بن عبد يزيد بن المطلب بن عبد مناف بن قصـى بن کلاب بن مره بن کعب بن لوى بن غالب بن فهر بن مالک بن النضر چې هغه بيا د قريشو د پخوانى خزيمه بن مدرکه بن الياس بن مضر بن تزار بن معد بن عدنان، شافعى مطلبي يو قريشى و نسب سلسله يې محمد نه تر عبد مناف پورې رسيږي. نوموړى د ۱۵۰ هجري قمري کال د رجب په ميا شت کې چې د ۷٦۸ ميلادي کال سره سمون خوري د فلسطين پغزه کې زيږيدلى دى او يو قول دا هم دى چې نوموړى په سوريه کې پيدا شوى دى. پلار يې د مسلمانانو سره يوځاى د مکې نه فلسطين غزې ښار ته هجرت وکړ ډير لږ وخت وروسته پلار يې په غزه کې وفات شو، د پلار له مرگ څخه وروسته امام شافعى او مور يې بيرته مکې ته راغلل، د شافعي مور (فاطمه) ام حبيبه نوم درلوده چې د ازد له قبيلې څخه وه، شــافعي په مکه کې د فقهې علوم زده کړل او د وخت يو لوى عالم شــو، نوموړى په ترتيب سره د اســلام دريم لوى فقيه دى په ۸۲۰ ميلادي کال د ۵۴ کلونو په عمر په مصر کې وفات شوى او په فسطاط نومې ځاى کې دفن شوى دى.

[2] امام حنبل: أبو عبدالله احمد بن محمد بن حنبل مسلمان فقهيه چې په ۷۸۰ ميلادي او ١٦۴ هجري قمري کال د عراق په بغداد کې زيږيدلى دى پلار او مور يې د مرو اوسيدونکي و. پوره نوم يې (احمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن اسد بن ادريس بن عبدالله الشيبانى المروزى البغدادى) دى، ډير زيات سفرونه يې کړي دي په بغداد کې پيدا شوى او په همدغې ځاى کې په ۲۴۱ هجري قمري يا ۸۵۵ ميلادي کال د اگسټ په ۲ نېټه وفات شوى د حنبلي فقهيه مکتب د امام حنبل له مرگ نه وروسته د هغه د شاگردانو له خوا رامنځته شوى دى، په دې مکتب کې به يې د قرآن کريم لفظي تفسير، احاديث، قياس او اجماع ته ډيره پاملرنه کوله. احمد بن حنبل د احاديثو يو کتاب چاپ کړى چې ۳۰۰۰۰ احاديث په کې راجمع شــوي دي دغه احاديث د موضــوع په ترتيب سره نه بلکې د صــحابه کرامو د نومونو په ترتيب سره تنظيم شوى دى. دا کتاب د هغه د لاس لويه ښه ده. د احمد ابن حنبل پيروان په حنبلي يا حنبليانو باندې مشهور دي مور يې بل واده و نه کړ او د خپل زوي احمد سره يې ډيره سخته په ژوند کې تيروله هغه به يې اسلامي درسونو ته ليږه.

[3] رواه الحاکم د أحمد في مسنده عن عمران والحکم بن عمرو الغفاري.

[4] البدائع: ۷/ ٢٣٦.

که چیرې ترسره کوونکی یې په حقه وي یا د بل چا د امر لاندې وي نو بیا په حقه باندې جرم کولو کې ترسره کوونکی مجرم نه ګڼل کیږي.

# دوهم فصل

## د داخلي او بهرني امنيت په وړاندې جرمونه

**دا فصل په لاندې مبحثونو ویشل شوی دی:**

**لومړی مبحث: اصطلاحات**

**دویم مبحث: د ډیپلوماتیکو اړیکو په وړاندې جرمونه**

**درېیم مبحث: د تاسیساتو او وسایلو تخریبول**

**څلورم مبحث: داخلي جنګونو ته لمن وهل**

## لومړی مبحث: اصطلاحات

په دې مبحث کې د عامه نظم او امنيت په وړاندې د جرايمو يو شـمېر اصـطلاحات تر بحث او څېړنې لاندې نيول شـوي ټول اصـطلاحات د شرعي نصـوصـو او د افغانسـتان د جزا کوډ له مخې تشريـح شـوي او اجراء کوونکي ته د مجريمينو خطاب شـوی هر هغه څوک چې دغه ډول اعمال ايجابوي يا يې ترسره کوي هغه به د اسـلامي شريعت او جزا کوډ له مخې مجازات کېږي د دې جملې څخه لومړنی اصـطلاح ملي خيانت کول دي چې په لاندې ډول تعريف شوي او مجازات يې ټاکل شوي دي:

### لومړی مطلب: ملي خيانت

په اسـلامي شريعت او د افغانسـتان په جزا کوډ کې د خيانت په هکله يادونه شـوې او خيانت يې تر ټولو بدترين عمل بللی دی، خيانت کوونکی نه يوازې په الهي عذاب او سـزا باندې محکوميږي بلکې د وخت موجوده وضـعي قوانين هم د خيانت کوونکی لپاره د سـزا ټاکونکي دي، په دې هکله د افغانسـتان د جزا کوډ د خيانت کوونکي په داسې توضيحات لري:

( که چيرې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت تبعه له لاندې اعمالو څخه د يوه مرتکب شي، د هغه عمل ملي خيانت گڼل کيږي :

١- هغه عمل چې د هغو په پايله کې د افغانستان اسلامي جمهوريت ټوله يا يوه برخه ځمکه د بهرني دولت يا د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د مخالفو وسله والو ځواکونو تر حاکميت لاندې راشي يا د هيواد خپلواکي په خطر کې واچوي .

معنا دا هر هغه څوک خاين بلل شوی چې د هېواد سپېڅلي خاوره د خپلي شخصي گټو په خاطر په خطر کې اچوي يا د دولت مخالفې ډلې سره د يو جوړښت له مخې د هېواد د خاورې يا قلمرو څخه يوه برخه په واک کې ورکوي دغه ډول اعمال ترسره کول لوی جرمونه دي او مرتکب يا اجراکوونکی يې لوی مجرم گڼل کېږي سربېره پر دې نور موارد هم لري لکه:

٢- هغه عمل چې د هغه په پايله کې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ټوله يا يوه برخه ځمکه د هغه له اداري بهر شي.

٣- دښمن ته دتر امر لاندې ځواکونو تسليمول .

۴ـ د دښمن د مساعدت په منظور دښمن ته د تآسيساتو، د وسلې او مهماتو د ديپو، نظامي وسايطو، د ارتزاقي توکو د زېرمو يا په نظامي ځواکونو پورې د اړونده استحکاماتو پريښودل، يا هيواد ته د دښمن د ننوتلو د آسانتياوو برابرول.

۵ـ بهرني دولت، د دولت ضد سازمان يا ډلې د هغو گمارل شوو ته د تسليمی په منظور د هيواد د نظامي، دفاعي يا امنيتي اسرارو څخه ډکو معلوماتو راټولول.

٦- د افغانستان اسلامي جمهوریت له دولت سره د جګړې په حال کې بهرني دولت یا دافغانستان د اسلامي جمهوریت له دولت سره د جګړې یا وسلوالې شخړې په حال کې د وسله والو ځواکونو لپاره د اشخاصو ګمارل(استخدام)، د مالونو یا نظامي تجهیزاتو برابرول.

٧- د افغانستان اسلامي جمهوري دولت په وړاندې د نظامي ځواکونو وسله وال قیام.

٨ـ دهیواد د نظامي، دفاعي یا امنیتي اسرارو څخه ډکو سندونو غلا کول، تلف کول یا تزویرول.

٩ـ د افغانستان له اسلامي جمهوریت سره د جګړې یا وسله والې شخړې په حال کې د بهرني دولت له وسله والو ځواکونو یا وسله والې ډلې سره یو ځای کیدل.

١٠- د دولتي قدرت د اخیستلو په منظور د افغانستان اسلامي جمهوري دولت پر وړاندې وسله وال قیام یا توطیه.

١١- بهرنیو اشخاصو یا دولت یا هغه شخص ته چې د هغوی په ګټه کار کوی یا د افغانستان داسلامي جمهوري دولت مخلفو وسله والو ډلو ته د هیواد دنظامي، دفاعي یا امنیتي اسرارو افشاء کول.

١٢- مسؤولو مراجعو ته له هغو معلوماتو څخه نه خبرتیا چې موخه یې ددې مادې په (ا) څخه تر(٨) جزونو کې درج شوو جرمونو ارتکاب وي او شخص د قانون په حکم د هغو په افشاء کولو مکلف وي .([١])

الله (جل جلاله) د خیانت په اړه په قرآن کریم کې داسې فرمایلي دي:

**﴿وَقَالَتِ الْيَهُودُ يَدُاللهُ مَغْلُولَةٌ غُلَّتْ أَيْدِيهِمْ وَلُعِنُوا بِمَا قَالُوا بَلْ يَدَاهُ مَبْسُــوطَتَانِ يُنْفِقْ كَيْفَ يَشَــاءَ وَلَيَزِيْدَنَّ كَثِيْرًا مِنْهُمْ مَا اَنْزَلَ اِلَيْکَ مِنْ رَبِّکَ طُغْيَانًا وَكَفَرا وَاَلْقَيْنَا بَيْنَهُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْض ءالَى يَوْمِ الْقِيَامَةَ كَلَّمَا أَوْ قُدُوا نَارًا لِلْحَرْبِ اَطْفَاهُ اللهُ وَيَسْعَوْنَ فِى الْأَرْضِ فَسَادًا وَ اللهُ لاَ يُحِبُ الْمُفْسِدِينْ﴾**.([٢])

ژباړه: یهودیان وایي: د الله تعالی لاس تړل شوی دی، وتړل شول د دوی لاسونه. او پر دوی لعنت نازل شو، د دې بې ځایه او ناوړه وینا په اساس چې دوی یې کوي. د الله تعالی لاسونه ازاد دي، څنګه یې چې خوښه شي لګښت کوي. حقیقت دا دی، کوم کلام چې ستا د رب له لورې پر تا نازل شـوی دی، هغه برعکس له هغو څخه د زیاترو خلکو د سرکښۍ او باطل پرستۍ، د زیاتوالي موجب ګرځېدلی دی. او د دې په بدله کې موږ د هغو په منځ کې تر قیامته پورې عداوت او دښــمني اچولې ده. کله چې دوی د جنګ اور په لمبو راولي، الله تعالی هغه مړ کړي. دوی په ځمکه کې د فساد خورولو هڅه کوي، خو الله (جل جلاله) فساد راولاړوونکي هیڅکله نه خوښوي.

د اسـتدلال وجه: د قرآن کریم له دې آیت څخه دا اسـتدلال کېږي چې د ځمکې پر مخ یهودیان هغه خلک او قوم وو، چې د الله تعالی پر وحدانیت او د رسـول الله (صـلی الله علیه وسـلم) پر رسـالت او نبوت باندې قایل نه و دا یو لوی خیانت دی ځکه دوی د خپلې خاورې او عقیدې په فکر کې وو چې د هغوی عقیده یوه باطله عقیده وه او ځان

---

[١] دجزا کوډ، ٢٣٨ نمبر ماده.

[٢] سوره مائده، اية نمبر ٦۴.

خوښــي انســانان وو، مگر دين اســلام موږ ته د ځان تابع کولو په هکله امر کړی چې ځانونه د اســلامي شريعت سره موافق جوړ کړئ؛ نو هر هغه څوک چې د اســلامي شريعت خلاف کوي، اوامر يې نه مني او د نواهيو نه يې ځان نه ســاتي همدوی د خپل ځان سره لوی خيانت کوونکي بللي. يهوديانو چې له خپل ځان سره يې خيانت کړی، د يهوديانو مشرانو او رهبرانو به د خپل لاس لاندې خلکو ته د ا سلام په هکله بدياني بيانولې، مگر د هغوی د کړنو سزا او بدله د هغوی د هلاکت سبب وگرځېده.

معنا دا هر هغه عمل چې په هغې کې د هېواد گاونډيانو يا مخالفينو هېوادونو او ډلو ته گټه رسول وي او د خپل دولت کمزوری کول يې هدف وي خيانت بلل کېږي که هغه د نظامي ځواکونو تسليمول وي، که د دولتي اسنادونو افشاء کول وي او که د خاورې د نيولو لپاره اسانتياوې برابرول وي خو چې د خپلې خاورې او د خپل حکومت سره له فريب، چل او دوکې نه کار واخلي او د پيسو يا د مادي گټې په خاطر د هېواد د خاورې يا ځواکونو يا اسنادونو سره خيانت وکړي او دښمن ته يې په لاس ورکړي دغې عمل ته خيانت ويل کېږي او اجرا کوونکي ته يې خاين ويل کېږي د افغانستان د جزا کوډ له مخې دغه ډول اشخاص مجرمين بلل کېږي او کړنه يې جرم دی.

**الف: د ملي خيانت د جرم مجازات**

الله (جل جلاله) په خپل کتاب قرآن کريم کې د خيانت کوونکو د سزا په هکله داسې فرمايلي دي:

**﴿فَاِمَّا تَثْقَفَنَّهُمْ فِى الْحَرْبِ فَشَرِّدْبِهِمْ مَنْ خَلَفَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَرُونْ وَاِمّا تَخَافَنَّ مِنْ قَومٍ خِيَانَةً فَانْبِذْ اِلَيْهِمْ عَلىَ سَوَاءً اِنَّ اللهْ لاَ يُحِبُ الْخَائِنِينْ﴾**.([1])

ژباړه: نو که دا خلک تاته په جگړه کې په لاس درشي، نو داســې څه ورسره وکړه چې له هغو څخه وروســته که نور څوک د دغه ډول کړنو د ترسره کولو اراده ولري کوم چې دوی ترسره کړي يا يې غوره کوونکي وي، حواس بايلي. هيله ده چې د ژمنې (وعدې) ماتوونکيو له دې عاقبت څخه هغوی درس واخلي. او که د کوم قوم له خيانت څخه ســتا ويره وي، نو د هغه تړون په ښــکاره ډول د هغه په وړاندې وغورځوه. دا يقيني ده چې الله تعالی خائنان نه خوښوي.

د اســتدلال وجه: د قرآن کريم له دې آيت څخه دا اســتدلال کېږي چې خيانت کوونکي هغه ډلې دي چې په خپله وعده باندې وفا او راتلل نه کوي يعنې کله چې وعده وکړي سرته يې نه رســوي بې وفايي کوي په دين اســلام کې د دغســې بې وعدې خلکو لپاره ســزا ټاکل شــوې ســزا يې دا ده چې د دغه ډول خيانت کوونکو سره الله تعالی مينه نه کوي، معنا دا چې د دې خلکو سره تړون او وعده باطله ده خيانت کوونکي ته بايد ســزا ورکړل شي چې په راتلونکي

[1] سوره الانفال، آية نمبر ۵۷ و ۵۸.

کې ترې نور عبرت او پند واخلي او د خیانت کوونکو لویه ســزا دا ده چې الله تعالی ورسره مینه نه کوي نو دا لوی مجرم وبلل شو او خیانت خپله جرم بلل کېږي.

د افغانستان په جزا کوډ کې هم د خیانت کوونکو په هکله داسې موارد شتون لري:

د ملي خیانت د جرم مرتکب له احوالو سره سم په لاندې مجازاتو محکومېږي:

۱- د ۲۳۸ مادې د ۱څخه تر ۹ جزونو کې د درج شوو جرمونو د ارتکاب په صورت کې، په ۲ درجه دوام حبس.

۲- د ۲۳۸ مادې په ۱۰ څخه تر ۱۲ جزونو کې د درج شوو جرمونو د ارتکاب په صورت کې، په طویل حبس.([1])

معنا دا که څوک خپل نظام، دولت او محرم اســنادو سره خیانت وکړي او د هېواد قلمرو، محرم اســناد یا دولتي او نظامي ځواکونه دښمن ته په لاس ورکړي نو دغه ډول اشخاص د افغانستان د جزا کوډ له مخې مجرمین بلل کېږي او دوی د خیانت او جرم په مقابل کې به جرم ته په کتو لکه چې مخکې یې یادونه وشــوه، جزا ورکول کېږي یا به په دویمه درجه دوام حبس باندې محکومېږي او یا به په طویل حبس باندې محکومېږي.

## دویم مطلب: جاسوسي

د جاسوسۍ او منافقت په هکله په قرآن کریم کې ډېر شمېر آیتونه شته چې د دغې ډول کړنې څخه د منعې په هکله موارد لري، که هر څوک د مســلمانانو په مقابل کې جاســوسي کوي دا یو ډول جرم دی چې دغې جرم ته الله (جل جلا له) په خپل کتاب کې داسې اشاره کړې ده او فرمایلي یې دي:

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيراً مِنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا يَغْتَبْ بَعْضُكُمْ بَعْضًا أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ وَاتَّقُوا اللهَ إِنَّ اللهَ تَوَّابٌ رَحِيمٌ﴾**.([2])

ژباړه: ای مومنانو له ډېر گومان کولو څخه ډډه وکړئ، چې ځینې گومانونه گناه وي. د چا پټ غیبونه مه لټوئ او ستا سې څخه دې څوک د چا غیبت نکوي. ایا په تا سې کې دا سې څوک شته چې د خپل مړه ورور غو ښې خوړل خوښ کړي؟ گورئ تاســې پخپله د دې څخه کرکه کوئ د الله څخه وویرېږئ. الله ډېر ښــه توبه قبلوونکی او خورا مهربان دی.

په پورته ایت کې د تجســـــو کلمه ده چې پلټنې ته وایي یعنې هغه خلک چې د خلکو غیبونه او نیمگړتیاوې پلټي او خپلې یې له یاده ویستلې وي دا خلک پلټونکي جاسوسان دي د عامه امنیت او نظم په وړاندې جاسوسي بهرنیو ملکونو او هېوادونو لپاره یا په نظام کې دننه د مخالفو ډلو او گوندونو لپاره د دولت راز او خبرې چې محرم وي هغوی ته رسوي یا یې ورلېږي همدغه جاسوسي او پلټنه ده چې په دې ځای کې ترې منع راغلې ده.

[1] د جزا کوډ، ۲۳۹ نمبر ماده.

[2] سورة الحجرات، آیت نمبر ۱۲.

د امام مالک او امام احمد بن حنبل (رحمه الله علیهم اجمعین) په وینا: د مسلمانانو په منځ کې جاسوسي کوونکی به قتل کولی شي کله چې هغه غیر مسلمو ته جا سوسي کوي لاکن امام ابو حنیفه[1] او امام شافعي (رحمه الله) د جاسوسي کوونکي قتل ته جواز نه دی ورکړی لاکن د امام شافعي ځینې پلویانو بیا جواز ورکړی دی بغیر د أحمد نه دوی وایي چې مخالف لوري ته دعوت ورکوونکی یعنې چې د مسلمانانو معلومات کفارو ته ورکوي دا د قرآن او د نبوي سنتو خلاف عمل دی باید دغه اشخاص قتل کړل شي.[2]

ټول فقهاء د جاسوس، حربي او کافر د قتل په هکله اتفاقي نظر لري لاکن یوازې هغه ذمي چې د یو تړون له مخې یې ځان تابع کړي وي هغې ته به د تړون د وخت پای ته رسېدو پورې څه نه ویل کېږي، لاکن امام شافعي (رحمه الله) بیا وایي په نبوي سنتو کې د ذمي جاسوس د قتلولو لپاره کوم جواز نشته.[3]

همدارنگه د افغانستان جزا کوډ هم د منافقت او جاسوسی په هکله ځینې مواردو ته اشاره کړې ده چې په لاندې توگه تشریح شوي دي:

(۱)که چیرې بهرني دولت تبعه یا له تابیعت پرته شخص، له لاندې اعمالو څخه د یوه مرتکب شي، د هغه عمل جاسوسي گڼل کیږي:

۱- بهرني دولت، د دولت ضد سازمان یا ډلې ته دهغوی گمارل شوو یا د هیواد د نظامي، دفاعي یا امنیتي اسرارو تسلیمول.

معنا دا که هر کله د دولت یو غړی د هېواد په داخلي ادارو که هغه نظامي وي او که ملکي د کارکوونکو یا اداري کارمندانو د گمارنې اسناد دښمن هېوادونو، ډلو یا اشخاصو ته په لاس ورکړي یا دولتي نظامي او ملکي ا سنادونه ورته تسلیم کړي چې د دولت له لورې محرم او پټ ساتل شوي وي؛ په دې صورت کې نوموړی شخص مجرم گڼل کېږي او عمل یا کړنه یې جرم بلل کېږي.

۲- بهرني دولت، د دولت ضد سازمان یا ډلې د هغوی گمارل شوو ته د تسلیمولو په منظور د هېواد د نظامي، دفاعي یا امنیتي اسرارو څخه ډکو معلوماتو غلا یا راټولول.

---

[1] امام أبو حنیفه نعمان بن ثابت بن زوطا بن مرزبان مُکنّا چې په ابوحنیفه باندې مشهور دی د ۸۰ – ۱۵۰ هجري قمري کلونو پورې یې ژوند کړی دی د کوفې یو تن نوم وتلی فقهې او خبرې کوونکی او د حنفي مذهب چې د اهل سنت له څلورو مذهبونو څخه یو مذهب دی بنسټ ایښودونکی دی، د ابوحنیفه پیرویانو ته حنفیان ویل کیږي. اما ابو حنیفه د حماد بن ابی سلیمان، ابراهیم نخعی او علقمه بن قیس شاگرد و او د عبدالله بن مسعود نه یې د فقهې او حدیث علم زده کړی دی نوموړی په ۸۰ هجري یا ۶۹۹ میلادي کال د عراق په کوفه کې زیږېدلی او په ۱۵۰ هجري قمري یا ۷۶۷ میلادي کال د عراق په بغداد کې وفات شوی دی زده کړې یې د مکې په حجاز کې سرته رسولي استادان یې عبدالله ابن مسعود د رایی او نظریې والا او عبدالله بن عباس د حدیث د علم أهل و. د ژوند په وروستیو ورځو کې نوموړی د منصور له خوا بغداد ته دعوت شو او هلته یې په زندان کې واچوه څه موده یې په زندان کې تېره کړه. د وفات کېدو نه وروسته حسن بن عُماره بجلی چې د کوفې حدیث پوه و په هغې باندې د جنازې لمونځ اداء کړ د بغداد په خیزران نومې هدیره کې دفن شوی دی.

[2] السیاسة الشرعیة لابن تیمیة، ص ۱۱۴ ؛ الحسبه لابن تیمیة ، ص ۴۸ ؛ غایة المنتهي: ۳/ ۳۳۴ ؛ المهذب: ۳/ ۲۴۲.

[3] نیل الأوطار: ۷/ ۷.

۳- د بهرني دولت داطلاعاتو او استخباراتو په دستور د معلوماتو راټولول يا تسليمول چې به هغوی څخه د افغانستان اسلامي جمهوري دولت په وړاندې ناوړه ګټه پورته کړای شي.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي جرم مرتکب په ۲ درجه دوام حبس محکومېږي.([1])

يعنې هر څوک چې د دولت محرم اسناد دښمن ته تسليم کړي او د خپل دولت په وړاندې ترې ناوړه ګټه پورته کړي يا محرم اسناد غلاء کړي په دې خاطر چې دښمن ته يې په لاس ورکړي دغه ډول اشخاص د افغانستان د قوانينو په وړاندې مجرم دی او جرم يې سزا لري چې نوموړي اشخاص به په دويمه درجه دوام حبس يا زندان باندې محکومېږي.

**الف: د جاسوسی د جرم د شدت حالات**

د جاسوسی او منافقت حالات کله نا کله دومره زيات شي چې ان شديد حالات ته ورسېږي يعنې منافقين کله دومره تحريک او فعاليت سرته رسوي چې خپلې چارې کې يوه شيبه هم وروسته والی نه کوي، د جاسوسی او منافقت دغه حالت په قرآن کريم کې داسې بيان شوی دی:

**«حدثنا عبدالله بن يو سف، أخبرنا مالک، عن أبي الزناد، عن الأعرج، عن أبي هريرة رضی الله عنه، أنَّ ر سول الله صلى الله عليه وسلم قال: إِيَّاكُمْ والظنَّ؛ فَإِنَّ الظَّنَّ أكذبُ الحديثِ، وَلَا تَحَسَّسُوا، وَلَا تَجَسَّسُوا، وَلَا تَنَاجَشُوا، وَلَا تَحاسَدُوا، وَلَا تَبَاغَضُوا، وَلَا تَدَابَرُوا، وَكُونُوا عِبادَ الله إخوانًا».**([2])

ژباړه: ای مومنانو ګمان مه کوئ، ځکه ګمان کولو کې اکثره خبرې او موضوع ګانې دروغ وي، د چا غيبونه مه ښکاره کوئ او پلټنه يې مه کوئ مه د چا سره حسد او کينه ساتئ او مه چا پسې بد وايئ او چا سره بغض مه کوئ په بېهوده کارونو کې فکر مه کوي د الله تعالی بنده ګان او ورونه او ورونه شئ.

د استدلال وجه: له دې حديث څخه ښکاري چې جاسوسي کول په اسلام کې منع فرمايل شوې که څوک جاسوسي وکړي د هغې کارونه بېهوده دي او دی د ورورولی څخه وځي نو له دې حديث څخه معلومېږي چې جاسوسي لوی جرم دی. بايد ځان ترې وساتل شي.

د افغانستان د جزا کوډ هم د جاسوسانو او منافقانو د جرم د شدت حالت په هکله داسې موارد راوړي دي:

[1] جزا کوډ ۲۴۰ نمبر ماده.

[2] بخاري، صحيح البخاري: مرفوع، جلد ۸، ص ۱۹ رقم الحديث: ٦٠٦٦ كتاب: الادب - باب: يا أيها الذين آمنوا اجتنبوا كثيرا من الظن. و مسلم، صحيح مسلم، كتاب النكاح - باب تحريم الخطبة على خطبة أخيه حتى ياذن أو يترک، رقم الحديث: ۱۴۱۳.

(که چیري ددې قانون په ۲۴۰ ماده کې درج شوی جرم له بهرني دولت یا د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د مخالفې وسله والې ډلې سره د جنګ یا وسله والې شخړې په وخت کې ارتکاب شي یا په مړینه تمام شي، مرتکب په ۱ درجه دوام حبس محکومېږي).[۱]

شخص هغه وخت د جاسوسی په جرم باندې محکومیږي کله چې د دولت مخالفې وسلوالې ډلې یا سازمان سره لاس یوکړي یعنې د دولت محرم اسناد ورته په لاس ورکړي یا د هغوی لپاره د معلوماتو ورکولو په مقصد جاسوسي وکړي نو دغه ډول اشخاص مجرمین بلل کېږي او د جرم سزا یې په ۱ درجه دوام بند یا حبس باندې محکومېدل دي.

## درېیم مطلب: په عامه خدماتو باندې د موظف کس بې احتیاطي او غفلت

ځینې وختونه هغه اشخاص چې په عامه خدماتو باندې موظف شوی وي، خپلې وظیفې او مسوولیت ته دومره پاملرنه نه کوي، د هغوی دغه ډول بې پروایي یا غفلت کول یو ډول جرم بلل کېږي، ځکه اکثره بې احتیاطی او غفلت د سلهاوو انسانانو د مړینې لامل کېږي، چې په دغې ډله ییزې مړینې سره د ټولنې امنیت او نظم ګډوډ کېږي او هر کله چې عامه امنیت او نظم له منځه ولاړ نو احتمال شته چې دولت هم سقوط وکړي. د دې لپاره چې عامه تاسیسات روغ او جوړ وساتل شي او عامه خدمات په دوامداره توګه فعال وي په کار ده چې په عامه خدماتو باندې موظف مسوولین خپلې دندې ته تر هرڅه ډېر متوجې شي او پاملرنه ورته وکړي. ځکه د هغوی یوه دقیقه بې احتیاطي د نه جبرانېدونکي زیان سبب کېږي.

که څوک په عامه خدماتو باندې موظف وي په خپله دنده کې بې احتیاطي، نه پاملرنه او غفلت وکړي؛ نو دغه بې احتیاطي یو ډول جرم دی چې مجرم ته یې د افغانستان د جزا کوډ له مخې لاندې سزا ټاکل شوې ده.

(که چېرې د دې قانون په ۲۳۸ او ۲۴۰ مادو کې درج شوي جرمونو د عامه خدمتونو د موظف د غفلت یا بې احتیاطی له امله صورت موندلی وي، نوموړی مؤظف د متوسط حبس په اکثر حد محکومېږي).[۲]

هر کله چې څوک په خپله دنده کې چې په عمومي خدمتونو مرکزونو کې په دنده ټاکل شوی وي بې احتیاطي وکړي یا خپل مسوولیت بې باکه وګڼي او اداري یا بنسټ ته زیان ورسېږي نو مسوولیت د همدغې شخص په غاړه دی چې د دغې ځای په ساتنه باندې ګمارل شوی دی. د نوموړي شخص دغه غفلت او بې احتیاطي د افغانستان د قوانینو له نظره یو جرم دی او ټاکل شوی شخص مجرم ګڼل کېږي، چې د دغې غفلت او بې احتیاطی لپاره د جزا کوډ متوسط حبس اکثر حد ټاکلی دی.

---

[۱] جزا کوډ، ۲۴۱ نمبر ماده.

[۲] جزا کوډ، ۲۴۲ نمبر ماده.

### څلورم مطلب: تبليغ يا توطيه

د افغانســتان د قوانينو له مخې هغه اشــخاص چې هغوی دولت د چپه کېدو يا د يوې ډلې د واک اخيســتلو په موخه يوه توطيه جوړوي يا له تبليغاتو څخه کار اخلي دغه ډول اشــخاص مجرمين بلل شــوي د دوی کړنه جرم بلل شوی چې د افغانستان د جزا کوډ دغې جرم لپاره لاندې جزاګانې ټاکلي دي:

(۱) هغه شخص چې د جنګ په وخت کې درواغو يا مغرضانه خبرونو، اعلاميو او اظهاراتو په خپرولو سره، عمداً په شفاهي يا ليکلي صورت يا په هره بله وسيله، له دښمن څخه د ملاتړ په منظور تبليغ يا توطيه وکړي، په داسې ډول چې د هيواد دفاعي قدرت يا د نظامي ځواکونو نظامي عملياتو ته زيان ورســوي يا دګډوډۍ يا د خلکو د روحيې د کمزوري کيدو لامل شي، تر لسو کلونو پورې په طويل حبس محکوميږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی جرم د افغانستان اسلامي جمهوريت له دولت سره د جنګ په حالت کې د بهرني دولت يا د افغانستان اسلامي جمهوري دولت له مخالفو وسله والو ځواکونو سره د مخابراتي يا نورو الکترونيکي وسايلو د اړيکې په وسيله ارتکاب شوي وي، مرتکب په طويل حبس محکومېږي.

(۳) که چيرې شــخص له جنګ پرته حالت کې د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شــوي جرم مرتکب شي، په متوسط حبس محکوميږي.([1])

معنا دا هر هغه څوک چې د جګړې په هکله توطيه جوړوي يا جګړې لپاره تبليغات کوي او موجوده حکومتي نظام له خطر سره مخ کوي يا د دولت په مقابل کې د مخالفې ډلې سره د تبليغاتو يا د توطيې جوړولو له لارې مرسته کوي د جزا کوډ له مخې ورته پورته سزا تعين شوې ده. ځکه د دغې اشخاصو کړنې او کارونه جرم شمېرل کېږي او تبليغ يا توطيه د عامه امن او نظم د ګډوډولو يوه لاره ده، چې په رامنځته کېدو سره يې د ټولنې امنيت او نظم له خطر سره مخ کېدای شي. په همدې اساس ورته جزا ټاکل شوې ده جزم ته په کتو پرې سزا تطبيق کېدای شي.

## دويم مبحث: د ډيپلوماتيکو اړيکو په وړاندې جرمونه

په نړۍ کې چې څومره دولتونه شتون لري، ټول يې يو له بل سره ډيپلوماتيکي او سياسي اړيکې لري، د همدغې اړيکو په اســاس د هېوادونو سره تعامل او اړيکې پالل کېږي. دغه ډول اړيکې په شرعي نصــوصــو کې هم تشرــيح شوي هلته د مسلمانانو په خپلمنځي اړيکو ټينګولو باندې ټينګار شوی ځکه هغوی هم خپل اهداف او خپلوي سره لري او دلته د هېوادونو ترمنځ هم خپلوي او د ځمکني قلمرو يوه اړيکه شــته، ځينې وخت په دغې اړيکو کې چې ډيپلوماتيکې اړيکې يې بولي ځينې ســتونزې رامنځته کېږي. يعنې يو هېواد غواړي چې خپل اهداف د ډيپلوماتيکو اړيکو له لارې ترلاسه کړي. او دغه کار د ډيپلوماتانو په واسطه ښه لاسته راوړای شي. مګر د افغانستان په قوانينو کې

---

[1] جزا کوډ، ۲۴۳ نمبر ماده.

بیا هغه کړنې چې د ډیپلوماتیکو اړیکو له لارې د دولت په زیان تمامیږي جرم خطاب شوی او اجراء کوونکي ته یې مجرم ویل شوی هر څوک چې په ډیپلوماتیکو اړیکو کې د هېواد له قوانینو څخه سر غړونه یا خلاف وکړي نوموړی مجرم دی او جرم ته یې لاندې سزا ټاکل شوې ده:

(۱) (هغه شخص چې د افغانستان ا سلامي جمهوري او بهرني دولت یا بین المللي سازمان ترمنځ د تشنج د رامنځته کولو یا د ډیپلوماتیکو اړیکو د اخلال یا پرې کولو په منظور د داسې ناقانونه عمل مرتکب شي چې له بهرني دولت یا بین المللي سازمان سره د افغانستان د دولت اړیکو ته زیان واړوي، په متوسط حبس محکومیږي).[۱]

معنا دا که په نړیوالو اړیکو کې ډیپلوماتانو داسې څه ترسره کړل چې په کې هېواد ګټې په نظر کې نه وې نیول شوې؛ یا د هېواد فرهنګ او دیني برخه په نظر کې نه وي نیول شوې، دغه ډول اقدامات د قانون په وړاندې جرایم دي چې مرتکب او ترسره کوونکی یې په متوسط بند باندې محکومېږي.

(۲) (که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی عمل له بهرني دولت یا بین المللي سازمان سره داړیکو د پرې کولو لامل شي، مرتکب د متوسط حبس په اکثرحد محکومیږي).[۲]

دلته په دې شمېره کې د اړیکې د پرې کېدو شرط ښودل شوی که چیرې دغه جرم دې حد ته ورسېږي چې د هېواد ډیپلوماتیکې اړیکې د نړیوالو سره قطع شي نو بیا به مجرم په متوسط حبس اکثر حد باندې محکومېږي.

(۳) (که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی عمل له بهرني دولت یا بین المللي سازمان ا ستازي په ضرب، جرح یا قتل تمام شي، مرتکب په دې قانون کې درج د ضرب، جرح یا قتل د جرم د مجازاتو په اکثر حد محکومیږي).[۳]

که چیرې د ډیپلوماتیکو اړیکو د له منځه وړلو او پرې کولو حالت دومره شدید شي چې زخمي توب یا قتل په کې رامنځته شي؛ نو د جرم اجراکوونکی بیا د قتل یا زخمي توب په اکثر مجازاتو باندې محکومېږي.

## لومړی مطلب: په بهرنیو هېوادونو قلمرو باندې تجاوز کول

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د تجاوز په هکله چې په پردي مال او ملکیت او خارجي قلمرو او ملکیت باندې کېږي فرمایلي دي:

**« عن أبی هريره (رضی الله عنه) عن النبي صلی الله علیه و سلم قال: كان تاجر يداين الناس، فاذا رأى معسرًا قال لفتيانه: تجاوزوا عنه لعل الله أن يتجاوز عنا. فتجاوز الله عنه».**[٤]

---

[۱] جزا کوډ، ۲۴۴ نمبر ماده، لومړی بند.

[۲] جزا کوډ، ۲۴۴ نمبر ماده، دویم بند.

[۳] جزا کوډ، ۲۴۴نمبر ماده، دریم بند.

[۴] بخاری، صحیح البخاری، مرفوع، جلد ۳، ص ۵۸. رقم الحدیث: ۲۰۷۸ كتاب: البیوع، باب من أنظر معسرا و صحیح مسلم، كتاب المساقاة – باب فضل انظار المعسر. رقم حدیث: ۱۵۶۲ و سنن النسایی كتاب البیوع، حسن المعاملة والرفق فی المطالبة، رقم الحدیث: ۴۶۹۴.

ژباړه: دأبي هريره (رضی الله عنه) نه روايت دی دا وايي رسول الله (صلی الله عليه وسلم) فرمايلي دي: يو سړی و په خلکو کې چې تجارت به يې لاس په لاس کولو کله به چې څوک راغلل ورله خواته نو د هغه سره به يې سختي کوله او تجاوز ظلم او زياتی به يط ورسره کولو نو هغه سړي ورته وويل ته چې د هغه سره دا ډول ظلم او زياتی کوې نو تا سره به الله تعالی ظلم وکړي ځکه الله ظالم ذات دی.

په پورته حديث کې د ظلم کولو او تجاوز کولو څخه منع شوې يعنې مسلمان به د بل مسلمان حق په ظلم او زياتي سره نه اخلي او ظلم او تجاوز به پرې نه کوي که يې وکړ؛ دا ظالم دی او مجرم بلل کېږي چې د ظلم سزا بيا الله پاک پخپله ورکوي الله ظالم ذات دی د قيامت په ورځ به د دغې ظلم پوښتنه ترې کېږي.

دولت له هغې سياسي او لوړ ارگان يا ادارې څخه عبارت دی، چې په هغې کې نفوس، قلمرو، حکومت چې قدرت لرونکی وي وجود ولري.

يا په بل عبارت: دولت له هغې ټولنې څخه عبارت دی چې په يوه ټاکل شوې جغرافيوي ساحه کې خپلې چارې په دوامداره توگه مخ ته وړي. دغه ټولنه بايد د يو خپلواک حکومت درلودونکي وي او حکومت يې بايد د خپلواکۍ لرونکی وي.([1])

هر هغه شخص چې د بهرني دولت له لورې په يو دولت يا يو قلمرو باندې تعارض يا تجاوز وکړي په دې مقصد چې يوه گډوډي پيداکړي يا د دواړو دولتونو ترمنځ اړيکې خرابې کړي؛ نو دغه شخص دا سې يو عمل اجرا کړ چې جرم يې وکړ او دغه ډول مجريمينو لپاره د افغانستان په جزا کوډ کې لاندې جزا گانې ټاکل شوي دي:

(۱) (هغه شخص چې دهيواد له دننه څخه د بهرني دولت پر قلمرو په وسله وال ډول تجاوز وکړي، له دريو کلونو څخه زيات په متوسط حبس محکوميږي).([2])

دلته په دې ځای کې درې کلونه بند د هغې مجرم لپاره ټاکل شوی چې په وسلوال ډول په بهرني قملرو باندې تجاوز وکړي اما که پيسې اخيستل شوي وي بيا په لاندې ډول مجازات کېږي.

(۲) (که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی جرم د سياسي اړيکو د پرې کيدو يا بالمثل روېې موجب شي، مرتکب په طويل حبس محکوميږي).([3])

د ډېر وخت لپاره زنداني کېدل تجاوز کول په دې خاطر چې پيسې پرې اخيستل شوي وي لامل کېږي مگر که چيرې د دغې تجاوز په اساس د دواړو هېوادونو ترمنځ جگړه رامنځته شي؛ نو په دې حالت کې مجرم لاندې جزا سره مخ کېږي:

---

[1] مبارز، عبدالصبور، د اساسي قانون تحليل او شننه. لومړی ټوک، چاپ کال ۱۳۹۵المريز. سلام خپرندويه ټولنه – جلال آباد. ص ٦١.

[2] جزا کوډ، ۲۴۵ نمبر ماده، لومړی بند.

[3] جزا کوډ، ۲۴۵ نمبر ماده، دويم بند.

(۳) (که چیرې ددې مادې (۱) فقره کې درج شــوی جرم په جګړې تمام شي، مرتکب په ۱درجه دوام حبس محکومیږي).([1])

یعنې که د مجرم د جرم د ترسره کېدو سره سـم د دواړو هېوادونو ترمنځ جګړې کولو باندې حالت بدل شي بیا د مجرم لپاره لومړی درجه دایمي بند دی. او که چیرې په داخلي جنګونو کې ګډون وکړي نو بیا لاندې مجازات ورته ټاکل شوي دي:

(۴) (هغه شخص چې د نورو هیوادونو په کورنیو جګړو یا وسله والو شخړو کې ګډون وکړي، په طویل حبس چې له اوو کلونو څخه زیات نه وی محکومیږي).([2])

معنا دا هر هغه شـخص چې په خارجي قملرو باندې یې برید وکړ هغه که د پیسـو اخیسـتو په بدل کې وي، که د تخریب لپاره وي او که د اړیکو د خرابوالي لپاره وي او که د دواړو هېوادونو ترمنځ جګړه رامنځته کولو په هدف وي نوموړی شـــخص د قانون په وړاندې مجرم دی او عمل یې جرم دی، د افغانســـتان د جزا کوډ له مخې به په پورته ســـزاګانو محکومیږي څکه دغه اشـــخاص د عامه امنیت او نظم ګډوډ کوونکي دي او په کار ده چې مجازات ورته ورکړل شي.

## دویم مطلب: د جګړې په وخت تړون ته نه پاملرنه

د تړون د تعریف په هکله چې په اســـلامي فقه کې یې شـــوی دی عبارت دی له هغې تړون، اتفاقاتو او میثاقونو څخه چې د ا سلامي حکومت له لورې غیر ا سلامي حکومتونو سره د جګړې پر وخت د صلحې او امنیت او جنګ بندۍ په خاطر لاسلیک کېږي. ([3])

د اســـلامي فقهې له نظره هغه تړونونه چې د جګړې په وخت د غیر اســـلامي هېوادونو سره لاســـلیک کېږي د موادعې، مصـالحې او مسـالمې په نومونو یادیږي د دغې تړونونو په واسـطه جنګ له منځه ځي ودرېږي او صـلح او امنیت رامنځته کیږي.

د دغې ډول تړونونو او معاهدو په هکله الله تعالی په خپل کتاب قرآن کریم کې داسې فرمایلي دي:

﴿**وَاِنْ جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ اِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ**﴾.([4])

ژباړه: او [ای پیغمبر (صلی الله علیه وسلم)!] که دښمن د روغې جوړې خواته میلان ولري؛ نو ته هم د هغې لپاره تیار اوسه او پر الله توکُل وکړه. په یقیني ډول هماغه د هر څه اورېدونکی او په هر څه پوهېدونکی دی.

---

[1] جزا کوډ، ۲۴۵ نمبر ماده، دریم بند.

[2] جزا کوډ، ۲۴۵ نمبر ماده.

[3] مبارز ، عبدالصبور، د اساسی قانون تحلیل او شننه، ص ۱۱۵.

[4] سورة الانفال، آیة نمبر ٦١.

د محمد بن حسـن الشـيباني([1]) (رحمه الله) په نظر چې د تړونونو په هکله يې لري داسې تشريح شوې ده:( معاهده هغه توافق او موافقه ده چې د مشرکينو او مسلمانانو ترمنځ د څو کلونو لپاره ترسره کېږي). په دې معنا باندې حنفي فقهې پلويانو هم ترې اسـتفاده کړې ده. سـمرقندي د موادعې يا د تړون په هکله ويلي دي: تړون عبارت له هغې صلحې او امنيت څخه دی چې د يو ټاکل شوي وخت لپاره د جنگونو د پای ته رسولو لپاره ترسره کېږي د مال په مقابل کې جنگ وي يا د نورو موضوعاتو په هکله وي.([2])

د جگړې په وخت د تړون ترسره کولو په هکله د افغانستان په جزا کوډ کې هم يادونه شوې ده په هکله يې داسې راغلي دي:

(۱) (هغه شخص چې د جنگ په وخت کې د نظامي ځواکونو د اړتيا وړ توکو يا لومړنيو ارتزاقي توکو او يا نورو هغو توکو د توريد يا ر سولو په هکله چې د خلکو د وقايې لپاره کارول کيږي د افغانستان د ا سلامي جمهوريت له دولت سره په خپلو ټولو يا ځينو ژمنو کې عمدآ د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت ته د زيان رسولو په منظور خلل وارد کړي او يا په بل ډول دنومووړو ژمنو په پلی کولو کې حيلي يا درغلي ته متوسل شي، په طويل حبس محکوميږي).([3]) دغه حکم په نوموړو ژمنو کې وکيل، ممثل يا وسيط ته هم شامل دی.

(۲) (که چيرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوې جرمونه دهيواد د دفاعي قدرت او حرکتونو يا د نظامي ځواکونو دعملياتو په کمزوري کيدويا قتل تمام شي، مرتکب په ۲ درجه دوام حبس يا په دې قانون کې درج د قبل په جزا محکوميږي).([4])

يعنې که دولتي ژمنتيا او تړون ته څوک پاملرنه و نه کړي او د دولت خلک يا ځواکونه نهار پاتې شي نو دغه شـخص مجرم دی او د جرم سـزا يې يا طويل حبس دی او يا دويمه درجه دايمي حبس دی چې د افغانسـتان د جزا قانون له مخې به پرې تطبيقيږي، ځکه هر کله چې نظامي ځواکونو باندې لارې قطع شي يا يې د خوراکي توکيو د رسولو موانع وگرځي؛ نو دا کار په اصل کې عامه امنيت او نظم ته خطر پيښول دي، چې له امله يې عامه امنيت او نظم گډوډ کيږي او څوک چې عامه امنيت گواښي هغه خلک مجرمين دي د جزا کوډ له مخې ورته سزا ورکول کيږي.

[1] امام محمد بن الحسن الشيباني (رحمه الله) په ۱۳۲هجری شمسي کال زيږېدلی او په ۱۸۹هجری شمسي کال وفات شوی دی. نوموړی د امام ابوحنيفه (رحمه الله ) له شاگردانو څخه و د عراق مشهور فقهيه شمېرل کېده ډېر زيات کتابونه يې لکيلي دي چې تر ټولو مشهور کتاب يې السير الکبير دی.

[2] ستانکزی،عبدالناصر، د نړيوالو تړونونو پېژندنه. سال چاپ ۱۳۹۵ هجری شمسی،مستقبل خپرندويه ټولنه، ص ۳۲ و ۳۳.

[3] جزا کوډ، ۲۴۷ نمبر ماده. لومړی بند.

[4] جزا کوډ، ۲۴۷ نمبر ماده، دويم بند.

## درېيم مبحث: د تاسيساتو او وسايلو تخريبول

د تخريب په هکله په نبوي سنتو کې رسول الله (صلى الله عليه وسلم) داسې فرمايلي دي:

**«عن ابن عمر، أن ر سول الله صلى الله عليه و سلم حرق نخل بني النضير وقطع - و هي: البويرة - فانزل الله [ما قطعتم من لينة أو تركتموها قائمة على أصولها فباذن الله وليخزي الفاسقين]».**([1])

ژباړه: د ابن عمر نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د بني نضير د قبيلې خلک وليدل چې نيالگي يې قطع کول او سېځل يې دا ونه البويره نومېده. الله پاک په دغې قطعه کوونکو باندې مرض راولېږه بيا يې دغه کار پرېښوده ترسره يې نه کړای شو نو دا د الله تعالى اصول او قوانين دي چې په فاسقانو باندې يې عملي کړل په دې ځای کې.

په پورته حديث کې د ونو قطع کول چې شنه نيالگي چپه کول او قطعه کول او بيا د هغې نه د سون توکو په توگه ا ستفاده کول لوی جرم بلل شوی او دا کار په چاپيريال کې يو ډول تخريب هم دی ځکه په دې سره اقليم هم گرمۍ لورې ته ځي او خلک ټول بيا د شنو نيالگيو په قطع کولو باندې لاس پورې کوي چې دا کار لوی جرم بلل کېږي او د ټولنې عامه نظم او امنيت له گواښ سره مخ کوي. نو د دغه ډول تخريب څخه چې ټولنه له خطر سره مخ کوي اسلام منع فرمايلي ده ځکه دا د عامه امنيت او نظم په وړاندې جرم بلل شوی دی.

جرم کوونکي ځينې وختونه د عامه تا سيساتو او دولتي ودانيو او وسايلو په تخريب باندې پيل کوي، دا کار هغه وخت ډېر په نظر راځي کله چې مظاهرچيان په قهر شي او د دوی د جرمونو حد لوړ شي، بيا هغوی تخريب کارانه اعمال اجرا کوي په دې کار سره يې هدف دولت ته زور ښودل او ورانی کول وي په ناحقه د خپلو غو ښتنو منل پلي کوي، اما دغه ډول افراد د افغانستان د قوانينو له نظره مجرمين دي د هغوی دغه تخريبوونکې کړنې او د تا سيساتو يا وسايلو تخريبول او زيان رسول جرمونه بلل کېږي، دې ډول اعمالو اجرا کوونکو لپاره د جزا کوډ لاندې مجازات په پام کې نيولي دي:

(هغه شخص چې د واکمن مقام له اجازې پرته دهوايي/ ځمکني يا آبي وسايطو يا تآسيساتو او نورو هغو تآسيساتو څخه چې د افغانستان د اسلامي جمهوريت په نظامي ځواکونو پورې اړوند وي يا دافغانستان د اسلامي جمهورى ځواکونو چوپړ ته تخصيص شوي وي، قسماً يا ټول وبجاړ کړي او يا هغه د نه استفادې وړ وگرځوي، په طويل حبس محکوميږي).([2])

---

[1] جامع الترمذي، مرفوع: جلد ۳، ص ۲۱۰ رقم الحديث: ۱۵۵۲ آبواب السير عن رسول الله صلى الله عليه وسلم - باب : في التحريق والتخريب، و بخاري، صحيح البخاري، کتاب الحرث والمزارعة - باب قطع الشجر والنخل - رقم الحديث: ۲۳۲۶ و مسلم: صحيح مسلم: کتاب: الجهاد والسير - باب: جواز قطع أشجار الکفار و تحريقها. رقم الحديث: ۱۷۴۶ و سنن أبي داود: کتاب الجهاد: باب في الحروق في بلاد العدو، رقم الحديث: ۲۶۱۴. مسند الدارمی(۲۵۰۳) و مسند أحمد(۴۵۳۲).

[2] جزا کوډ، ۲۴۸ نمبر ماده.

يعنې د دولتي تاسيساتو د له منځه وړلو يا تخريبولو په موخه که هغه لږ تخريبول وي او که ډېر وي ټولې کړنې جرمونه بلل کېږي، د افغانستان جزا کوډ له مخې به دغې کړنې ترسره کوونکو ته جزا ورکول کېږي چې په لاندې ډول يې مجازات تشريح شوي دي:

(۲) که چيرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی جرم له لاندې حالتونو څخه په يوه کې ارتکاب شي، مرتکب په ۲ درجه دوام حبس محکوميږي:

۱- په هغه حالت کې عمل دهغه دولت په گټه اجراء شي چې د افغانستان د اسلامي جمهوريت له دولت سره د جگړې په حال کې وي.

۲- په هغه حالت کې عمل د افغانستان دا سلامي جمهوري دولت دفاعي احضارات يا دفاعي قدرت يا د هغه نظامي حرکتونه له جدي گواښ سره مخ کړي.[۱]

يعنې که چيرې يو مجرم د هېواد دفاعي قدرت يا نظامي حرکتونه له گواښ او خطر سره مخ کړي او د مخالف دولت سره د هغې په گټه کړنې ترسره کړي دغې ډول کړنو ته جرمونه ويل کېږي، مرتکب به يې د افغانستان د جزا کوډ له مخې په ۲ درجه دايمي بند باندې محکوميږي.

## لومړی مطلب: د پيسو اخيستلو په بدل کې

د هغې اشخاصو په هکله چې له بهرنيو دولتونو څخه د خپلې نفعې او گټې په خاطر پيسې غواړي او د هغوی لپاره د دغې پيسو په بدل کې په خپل هېواد کې گټې لټوي نو دغه ډول اشخاص مجرمين گڼل کېږي، د افغانستان په جزا کوډ کې د دغې اشخاصو په هکله دا ډول مجازات بيان شوي دي:

(هغه شخص چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت يا د هيواد ملي گټو ته د صدمي رسولو په منظور، په دې قانون کې د پيشبيني شوو حالتونو څخه پرته، له بهرني دولت يا بين المللي سازمان يا له هغه شخص څخه چې د هغوي په گټه کار کوي، د خپل ځان يا بل چا لپاره پيسې، مال يا منفعت وغواړي، ومني يا ترلاسه کړي يا د هغو د ترلاسه کولو وعده ورکړي يا واخلي، ترلسو کلونو پورې په طويل حبس او د نوموړي وجه معادل په نقدې جزا محکوميږي).[۲]

لنډه دا هر هغه څوک چې د بهرني دولت لپاره د پيسو يا بلې کومې گټې په بدل کې کار وکړي او د هغوی گټې په خپل هېواد کې ولټوي دغه اشخاص مجرمين دي او د هغوی دغه ډول اعمال جرمونه بلل کېږي چې د افغانستان د جزا کوډ له مخې به د لسو کلونو په بند باندې محکوميږي.

(۲)که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوی جرم د جنگ په وخت کې يا د عامه خدمتونو د مؤظف په واسطه ارتکاب شي، مرتکب په ۲درجه دوام حبس او ددې مادې په (۱)فقره کې درج په نغدي جزا محکوميږي.

---

[۱] جزا کوډ، ۲۴۸نمبر ماده.

[۲] جزا کوډ، ۲۴۹ نمبر ماده.

(۳) هغه  شخص چې په خپل یا د بل  شخص پوا سطه د ملي امنیت د مخالف عمل د ارتکاب په قصد پیسو، مال یا منفعت شخص ته ژمنه یا عرضه او یا ورکړي یا په هغه کې وساطت وکړي، د جرم د فاعل  په عین جزا، محکومیږي.
(۴) که چیرته غوښتنه، د وساطت یا ژمنې منل، په لیکلي ډول صورت وموومي، جرم دلیک د صادریدو سره سم، ترسره شوی ګڼل کیږي.[1]

معنا دا شـــوه هر هغه څوک چې د بل د منفعت او ګټو د لټولو لپاره په خپله خاوره یا اداره کې کار کوي او د دغې منفعت په بدل کې پیسې ترلاسه کوي یا بل امتیاز ترلاسه کوي ټول هغه موارد دي چې اجرا کوونکی مجرم بلل کېږي او کړنې ته یې جرم ویل کېږي، د دغې مجرم لپاره هم نقدي ســزا شـــته او هم ورله حبس یعنې زنداني کېدل ټاکل شــوي دي، چې تشرـیح یې په پورته څلورو شـمېرو کې ذکر شـوې ده. د بهرنیو هېوادونو د ګټو لټول په خپل هېواد کې یا د هغوی د ګټو لپاره کار کول عامه امنیت او نظم ګډوډ کولائ شي، او څوک چې عامه امنیت او نظم ګډوډ کوي هغوی مجرمین او اعمال یې جرمونه دي د افغانستان د جزا کوډ له مخې ورته باید سزا ورکړل شي.

## دویم مطلب د هېواد مالي اعتبار او ملي امنیت ته ګواښ پېښول

هغه اشـــخاص چې اراده لري ترڅو د یو هېواد امنیتي یا اقتصـــادي حالات کمزوري کړي او یا تخریبوونکي اعمال په کې ترسره کړي، یا یې کوشـــش دا وي چې د هېواد مالي اعتبار او تضـــمین بې ارزښـــته کړي او هېواد د قرضـــدارۍ سره مخ کړي؛ نو دغه ډول اشـــخاص د افغانســـتان د قوانینو له مخې مجرمین ګڼل کېږي. د جرم د جزا په هکله یې د افغانستان په جزا کوډ کې دا ډول تشریح راغلې ده:
(۱) هغه شـــخص چې د مالي اعتبار یا ملي امنیت د کمزوري کولو په منظور، په عمدی ډول  په هیواد کې دننه یا د هیواد څخه بهر د هیواد د کورنۍ وضـعې په هکله غیر واقعي او مفرضـانه اطلاعات، بیانیې او شـایعې خپرې کړي، په متوسط حبس محکومیږي.

له پورتني بند څخه هدف او مقصد دا دی هر څوک او هر شخص چې په قصدي توګه د هېواد د محرمو اسنادو یا مالي اعتبارلیکونو یا اقتصادي باورلیکونو اسناد بهرنیو ملکونو ته افشاء کوي یا د هېواد د مالي سیستم او اقتصادي پرمختګ برعکس اطلاعات او خبرونه خپروي، دغه اشـخاص مجرمین دي او کړنې یې جرم دی د جزا کوډ له مخې به دغه خلک په منځني بند باندې محکومېږي.
(۲) که چیرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي جرم د جګړې په وخت کې ارتکاب شي، مرتکب تر لسو کلونو پورې په طویل حبس محکومیږي.[2]

---

[1] جزا کوډ، ۲۴۹ نمبر ماده

[2] جزا کوډ، ۲۵۱نمبر ماده.

او که چیرې د هیواد مالي او اقتصادي سیستم په هکله خبرونه بیا د جنګ په وخت وړاندې شي چې هېواد یې د مالي کمښت او د بودیجوي ستونزو او کمښت سره مخ دی؛ نو دا بیا له مخکیني جرم څخه لوی جرم بلل کېږي د دې اشخاصو لپاره بیا مجازات لس کلونه بند تېرول په پام کې نیول شوي دي.

**الف: د هېواد په زیان په خبرو اترو کې توافق کول**

د افغانستان د جزا کوډ د هغې ا شخا صو او رهبرانو په هکله چې د مذاکرې په ترڅ کې توافق کوي او هغه توافق بیا د هېواد د ګټو په زیان وي نو د دغې رهبرانو دې کړنې ته جرم ویلی او د دغې کړنې ترسره کوونکو لپاره یې لاندې مجازات په پام کې نیولي دي:

(۱) هغه شـخص چې له بهرني دولت یا د افغانسـتان د اسـلامي جمهوري دولت له مخالفې وسـله والې ډلې سره د مذاکرې په ترسره کولو موظف شوی وي، په عمدې ډول د هېواد د ملي ګټو او عامه مصالحو په زیان توافق وکړي په ۲ درجه حبس محکومېږي.([1])

یو رهبر یا د وخت حاکم یا د دولت له لورې د ځینو خلکو ټاکل په دې موخه چې د نورو هېوادونو یا ډلو سره توافق او مذاکره وکړي، او بیا د دغې ټاکل شویو خلکو له لورې د هېواد په زیان توافق او مذاکره کول چې په قصدي او عمدي ډول وي یعنې خپله په دې ښه پوهېږي چې په دې توافق او مذاکره کې زموږ هېوادنۍ خاورې ته زیان دی او بیا یې هم ترسره کوي، دغه اشـخاص د افغانسـتان د جزا کوډ له نظره مجرمین دي او توافق یا مذاکره چې دوی یې ترسره کوي جرم بلل کېږي چې اجرا کوونکي یې په ۲ درجه بند باندې محکومیږي.

(۲) که چیرې د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوی شخص د هېواد د اقتصادي ګټو پر زیان توافق وکړي، په طویل حبس محکومېږي.([2])

معنا دا که توافق او مذاکره د ټاکل شویو خلکو یا ا شخا صو له لورې د هېواد په اقتصادي زیان باندې تمامېږي؛ نو په دې صورت کې د توافق او مذاکرې ترسره کوونکي مجرمین بلل کېږي او د دوی دغه توافق او مذاکره جرم دی چې مرتکبین یې په اوږده بند باندې محکومېږي.

**ب: نامنل شوي امنيتي اعمال او اقدامات**

د افغانستان په جزا کوډ کې د هغې اشخاصو لپاره چې د ناامنۍ چارې او کړنې سرته رسوي مجازات ټاکل شوي دي، دغې اشـخاصـو ته د مجرمینو خطاب شـوی دی یعنې دوی هغه افراد دي چې بغیر له اجازې اخیسـتلو څخه یوځای ته ځي چې هغه ځای ته تګ ممنوع اعلان شـوی وي یعنې دا هغه اشـخاص دي چې ممنوع دخول اعلان شوي ځای ته په خپل سر داخیلیري چې د دې ډول خلکو لپاره لاندې مجازات ټاکل شوي دي:

---

[1] جزا کوډ، ۲۵۰ نمبر ماده لومړی بند.

[2] جزا کوډ، ۲۵۰ نمبر ماده، دویم بند.

(۱) لاندې اشخاص په قصير حبس يا له دېرشو زرو څخه تر شپېبو زرو افغانيو پورې په نغدې جزا محکوميږي :
۱- هغه شخص چې په نامجاز ډول کلاگانو، دفاعي يا امنيتي تآسيساتو، د نظامي ځواکونو قطعاتو، الوتکې، هليکوپټر، نظامي و سايطو يا نورو هغو نظامي يا امنيتي موا ضعو او د هيواد د نظامي چارو اړوندو کارخانو ته په هغه صورت کې چې هغو ته ننوتل منع شوي وي، دننه شي.
۲- هغه شخص چې په نامجاز ډول ددې مادې د (۱) فقرې په ۱ جز کې له درج شوو محلاتو او تاسيساتو څخه رسم، انځور، فلم يا نقشه برابره کړي.
(۲) که چيرې ددې مادې په ۱ فقره کې درج شوي جرمونه په فريب يا تزويرې سندونو يا د هويت يا تابعيت په پټولو سره په توصـــل ارتکاب شي، يا جرم د جگړې په وخت کې واقع شـــې، مرتکب د متوســط حبس په اکثر حد محکوميږي.
(۳) مرتکب ددې مادې په (۱او ۲) فقرو کې د درج شـــوو حالتونو د اجتماع په صـــورت کې تر لســـو کلونو پورې په طويل حبس محکوميږي.
(۴) ددې مادې د (۱او ۲) فقرې په جرم پيل د هغه د ارتکاب په حکم کې ده.([1])
معنا دا هر ځوک چې ممنوع الدخول ځايونو او محلاتو ته داخل شـــو ولو که د انځور اخيســـتلو يا ويډيو کولو لپاره وي يا دښمن ته د اسنادو وړاندې کولو او لېږلو لپاره وي نو د افغانستان د جزا کوډ له مخې د نقدي سزا نه نيولې ان تر لسو کلونو پورې بند باندې محکومېږي.

## څلورم مبحث: داخلي جنگونو ته لمن وهل

په دې مبحث کې هغه جرمونه ذکر کېږي، چې د ټولنيز امنيت يا عامه امنيت او نظام په وړاندې وي په دې هکله الله تعالی په قرآن کريم کې داسې فرمايلي دي:
**﴿اِنَّمَاجَزَاءُالَّذِيْنَ يُحَارِبُونَ اللهْ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِى الْاَرْضَ فَسَاداً اَنْ يَقَّتَلُوا اَوْ يُصَّلَّبُوا اَوْ تُقَطَّعْ اِيْدِيَهُمْ وَ اَرْجُلَهُمْ مِنْ خِلاَفٍ اَوْ يُنْفُوا مِن الْاَرُضِ ذَلِکَ لَهُمْ خِزيٌ فِی الدُنْيَا وَلَهُمْ فِی الْأَخِرَةِ عَذَابٌ عَظيمْ﴾**.([2])
ژباړه: کوم خلک چې له الله (جل جلا له) او د هغه له پېغمبر (صلی الله عليه و سلم) سره جنگېږي او په ځمکه کې د دې لپاره منډې ترړې کوي چې فسـاد را ولاړ کړي، نو د هغو سـزا دا ده چې ووژل شي، يا په دار وځړول شي، يا يې لاسونه او پښې ردو بدلې غوځې کړای شي، يا له وطنه وشړل شي. دا ذلت او سپکاوی خو د هغو لپاره په دُنيا کې دی او په اخرت کې د هغو لپاره له دې څخه هم لويه سزا ده.

[1] جزا کوډ، ۲۵۲ نمبر ماده.
[2] سوره مائده، آية نمبر ۳۳.

په دې آيت کې دوه موضــوعات ذکر شــول يو د جنگ حکم په اړه چې د الله تعالی او د هغه د رســول سره جنگ او جګړه کول په ځمکه کې لوی فســاد بلل شــوی په همدې اســاس د جنگ د کلمې په هکله په فرهنگ او کلتور کې هم ځينې معناګانې راغلې دي چې په لاندې ډول باندې تشريح کېږي:

[محارب] د [حرب] له ريښــې څخه اخيستل شوې چې ضـد کلمه يې [صـلح] يا روغوالی دی له دې کلمې څخه په جګړې کې کار اخيستل کېږي او همدارنګه د زور او قوت لپاره هم ترې ا ستفاده کېږي، په همدې ا ساس د جګړې او قتل تعريفونه او د زور او جګړې تعريفونه يو له بل سره دومره ډېر تفاوت نه لري.

زبيدي په تاج العروس کې ويلي: حرب د روغوالی په مقابل کې يوه کلمه ده چې يو له بل سره متضادې کلمې بلل کېږي پر همدې اســاس قتال يا جګړې ته هم حرب ويل شــوی د معنا د اســانتيا په خاطر جګړه يا جنگ عبارت دی له هغې غښې ويشتلو څخه چې د دوه ډلو ترمنځ صورت نيسي يا دوه لوري چې يو بل سره په توره باندې جګړه کوي او د مړينې سبب ګرځي جګړه ورته وايي.(1)

له پورته تعريف څخه دا سې څرګنديږي چې د جنگ په کمله کې د قدرت او زور د ښکاره کولو او د د ښمنی لپاره ټول وسايل په کې شامل دي لکه وسلې کارول او داسې نور... (2)

د دې کلمې په هکله الله تعالی په قران کريم کې په بل ځای کې فرمايلي دي:

**﴿يَاايُّهَاالَذِيْنَ آمَنُوا اَتَّقُواللهْ وَذَرُوا مَا بَقِى مِنّ الرِبَوا اِنْ كُنْتُمْ مُوْمِنِينَ فَاِنْ لَمْ تَفْعَلُوا فَاَذَنُوا بِحَرْبٍ مِنَ اللهِ وَرَ سُولِهِ وَاِنْ تُبْتُمْ فَلَكُمْ رَءُوْسِ أَمْوَالِكُمْ لاَ تُظْلَمُونَ وَلاَ تُظْلَمُونْ﴾**.(3)

ژباړه: ای مومنانو! که په رښــتيا سره مو ايمان راوړی وي؛ نو له خدايه ووېرېږئ! او ســتاســې چې کوم ســود پر خلکو پاتې دی، هغه ورپرېږدئ! خو که تاسـې داسـې و نه کړل؛ نو خبر اوسـئ چې د الله او د هغه د پېغمبر (صـلی الله عليه و سلم) له خوا ستا سې پر خلاف د جګړې اعلان دی. که اوس هم توبه وبا سئ، او سود پرېږدئ! نو تا سې د خپلې پانګې اخيستلو حقدار ياست مه تاسې تېری کوئ او نه به پر تاسې تېری وشي.(4)

د ا سلامي شريعت سربېره د افغانستان قوانين هم هر هغه شخص چې داخلي جنګونو ته خلک دعوت کوي يا ورته لمن وهي او هڅه يې دا وي چې په هېواد کې داخلي جګړې راپيدا يا زيادت پيداکړي د مجرمينو خطاب ورته کوي او دغه ډول اعمال جرمونه بولي چې مجازات يې د افغانستان په جزا کوډ کې په لاندې ډول تشريح شوي دي:

1 تاج العروس،ج ۱، ص ۲۰۴.

2 تاج العروس،ج ۱، ص ۳۰۳.

3 سوره بقره، اية نمبر ۲۷۸.

4 سوره بقره،اية نمبر ۲۷۹.

(۱) هغه کس چې بل کس کورنۍ جګړې ته وهڅوي، د جرمي پايلې د وقوع په صـــورت کې د مرتکبه جرم په مجازاتو محکوميږي.

يعنې که يو شخص بل شخص داخلي جنګ ته وهڅوي او دغه هڅول شوی شخص داسې جرم وکړي چې په قانون کې ورته مجازات ټاکل شـــوي وي، لکه څنګه چې مرتکب يا د جرم ترسره کوونکي ته جزا ورکول کيږي دغسې هڅوونکي ته هم جزا ورکول کيږي.

(۲) که چيرې ددې مادې په (۱) مادې په ۱ فقره کې درج شوې هڅونه اغيرمنه واقع نشي، مرتکب په متو سط حبس محکوميږي.([1])

که هڅوونکی په دا سې توګه تحريک وکړي چې د هغې خبرې د جرم په ترسره کوونکي باندې تاثير و نه کړي بيا هم هڅوونکی په منځني بند باندې محکوميږي.

## لومړی مطلب: په اسلامي فقه او قانون کې د غصب مفهوم

هر هغه اشخاص چې د وسلوالو ډلو ملاتړ کوي يا د هغوی سره د وسلو همکاري او مرسته کوي يا په دې خاطر د يوې ډلې ملاتړ کوي چې پردي مالونه او ځمکې غصب کړي، د دغې اشـخاصـو دا ډول کړنې د قانون په وړاندې جرم بلل کيږي او مجريمينو ته يې د افغانستان د جزا کوډ له مخې لاندې مجازات په پام کې نيول شوي دي:

(۱) هغه شخص چې د دولتي املاکو يا مالونو دغصب يا لوټولو په قصد وسله واله ډله يا په دې منظور يوه ډله خلک رهبري کړي يا د هغو نظامي ځواکونو په وړاندې چې د نوموړې ډلې د ځپلو لپاره مکلف شـــوي دي، وســـله وال مقاومت وکړي، په ۲ درجه حبس باندې محکوميږي.

يعنې د غصــــب په نيت د وســـلوالې ډلې جوړول يا ورسره مرســـته کول يا د هغې رهبري کول ټول جرايمو کې شميرل کيږي او مرتکبين يې په ۲ درجه بند باندې محکوميږي.

(۲) د دې مادې په ۱ فقره کې د درج شوې ډلې غړي له احوالو سره سم په طويل حبس محکوميږي.([2])

يعنې که يو څوک په دغې غصب کوونکې ډله کې شموليت او ګډون لري او پورته حالات واقع شي؛ نو د جزا کوډ له مخې په اوږده بند باندې محکوميږي. غصـــب هم د عامه امنيت او نظم د ګډوډولو لپاره لوی لاس لري، هر کله چې په ټولنه کې د غاصبينو شمير زياتيږي، په هماغه کچه په ټولنه کې بې نظمي او بې امنيتي هم زياتيږي، د دې لپاره چې د ټولنې امنيت او نظم بر قرار وساتل شي، بايد غاصبينو ته د قانون سره سم مجازات ورکړل شي.

### الف: په اسلامي فقه کې د غصب مفهوم

#### ۱ – د غصب لغوي معنا:

---

[1] جزا کوډ، ۲۵۴ نمبر ماده.

[2] جرا کوډ ۲۵۵ نمبر ماده.

غصب په لغت کې په زور سره اخیستل د یوې څیز دي چې له بل شخص څخه اخیستل کېږي او په اصطلاح کې اخیستل د یو شي اخیستلو ته ویل کېږي چې په جبر او زور سره له هغې شخص څخه چې د هغې اصلي حق بلل کېږي په خپله ګټه باندې یې وکاروي. هر هغه څه چې د بل شخص څخه په زور باندې خپل لاس ته راوړل شي چې د هغې شخص حق وي له کوم نه چې اخیستل کېږي دې ته غصب یا نیوکه وایي. د قرآن کریم، نبوي سنتو او اجماع له مخې غصب حرام او ناروا دی.([1])

د قرآن کریم د آیتونو او د نبوي احادیثو له مخې غصب حرام دی په دې هکله الله (جل جلاله) په خپل کتاب قرآن کریم کې داسط فرمایلي دي:

﴿**يَاا‌ءَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَا‌ءْكُلُواْ ا‌ءَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ**﴾.([2])

ژباړه: ای مومنانو! په خپلو منځو کې یو د بل مالونه په ناروا توګه مه خورئ!

بل ځای کې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿**وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ، وَتُدْلُوا بِهَا إِلَى الْحُكَّامِ، لِتَأْكُلُوا فَرِيْقًا مِنْ أَمْوَالِ النَّاسِ بِالإِثْمِ، وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونْ**﴾.([3])

ژباړه: او تاسې مه په خپلو منځو کې یو د بل مال په ناروا توګه خورئ او مه هغه مال حاکمانو ته په دې غرض وړاندې کوئ چې تاسې ته په قصدي توګه او ظلم سره د نورو خلکو د یو څه شتمنۍ د خوړلو فرصت په لاس درشي په داسې حال کې چې تاسې پوهېږئ.

همدارنګه د بخاري شریف په یو حدیث کې دې موضوع ته دا ډول اشاره شوې ده رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي:

«**اِنَّ دِمَاءَكُمْ وَ اَمْوَالَكُمْ وَ اَعْرَاضَكُمْ حَرَامٌ عَلَيْكُمْ**».

ژباړه: د مسلمانانو وینه، مالونه او ناموس په تاسې باندې حرام دي.

په بل ځای کې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي:

«**إِنَّ دِمَاءَكُمْ وَأَمْوَالُكُمْ حَرَامٌ عَلَيْكُمْ كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هَذَا، فِي شَهْرِكُمْ هَذَا، فِي بَلَدِكُمْ هَذَا**».([4])

ژباړه: یقیناً ستا سو مالونه او وینې حرام کړای شوي دي په تا سو باندې په دې ورځ باندې په دې ښار کې او په دې میاشت کې.

---

[1] المغني: ۵/ ۲۲۰ ؛ کشاف القناع: ۸۳/۴.

[2] سوره النساء، آیت نمبر ۲۹ .

[3] سورة البقره، آیت نمبر ۱۸۸.

[4] رواه البخاري و مسلم عن أبي بكرة رضی الله عنه، و رواه مسلم عن جابر، أنَّ النبي (صلى الله عليه وسلم) قال: في خطبته يوم النحر بمنى (سبل السلام: ۲/ ۷۳).

همدارنگه رسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) دا هم فرمايلي دي:

**« لَا يَحُلْ مَالَ اَمْرِئ مسلم إِلَّا بِطَيَيبْ نَفْسَهُ».**([1])

ژباړه: نه دی اخيستل د مال د مومن د يو سړي مگر په حلاله طريقه يې اخيستل جواز لري.

بيا محمد (صلی الله عليه وسلم) فرمايلي:

**« من أخذ شبراً من الأرض ظلماً، فاءنَّهُ يطّوقه يوم القيامة من سبع أرضين».**([2])

ژباړه: چا چې د يوې وعدې له مخې په ظلم سره د يو بل شـــخص نه ځمکه ونيوله نو د قيامت په ورځ به د دغې غاصب او ظالم په غړې يا څټ کې اووه دغه اندازه کې ځمکې د رسۍ په شکل چاپېرې شوي وي.

د غصب په هکله بل ځای کې رسول الله (صلی الله عليه وسلم) فرمايي:

**« علی اليد ما أخذت حتی توءديه».**([3])

ژباړه: په لاس باندې ورکول د هغې شي دي چې اخيستلی يې پرې دی.

همدارنگه په اسلامي فقه کې د غصب په هکله داسې تشريح شوې ده:

**(اَلْغَصْبَةْ لُغَةَ الاَ هْلُ شَئِ ظُلْمً وَ فِی الْاِصْطِلَاحِ اَخْذُ مَاْلَ غَيْرِظُلْمً عُدْوَانً).**

ژباړه: غصـب په لغت کې اخيســتل د مال دي په ناحقه يا په زور سره او په اصـطلاح کې اخيســتل د مال غير دي په طريقه د جبر او زور سره يا په بل عبارت په زور او جبر سره د شيانو اخيستلو ته غصب وايي.([4])

**۲ – د غصب اصطلاحي معنا :**

**غصب :** په ښکاره توگه د مالک له اجازې پرته د داسې يو شي اخيستلو ته وايي چې قيمت لرونکی وي.([5])

د امام أبو حنيفه (رحمه الله) په قول غصـــب اخيســـتل د هغې محترم او قدرمن مال دي چې نه يي مالک د هغې په داسې طريقې سره چې لاسوهنه په کې وکړي يعنې په ظلم او زياتي سره يې واخلي.([6])

د امام مالک (رحمه الله) په قول غصب عبارت دی اخيستل د مال دي په قهر يعنې په جبر او زور سره او په دښمنۍ سره بغير له جگړې او جنگ کولو څخه.([7])

---

[1] رواه أبو اسحاق الجوزجاني، و رواه الدارقطني عن أنس، و عن عمرو بن يثربي (نيل الأوطار: ۵/ ۲۱٦؛ نصب الراية: ۴/ ۱٦۹).

[2] متفق عليه بين أحمد و الشيخين عن سعيد بن زيد (نيل الأوطار: ۵/ ۳۱۷).

[3] رواه أحمد و أصحاب السنن الأربعة، و صححه الحاكم عن سمرة بن جندب (سبل السلام: ۳/ ٦۷).

[4] المصباح المنير في غريب الشرح الكبير ، ج ۲،ص٥٣٦ .

[5] التعريفات الفقهية ، ص ۴۰۰ .

[6] تكملة فتح القدير مع العناية: ۷/ ۳٦۱ و ما بعدها، الكتاب مع اللباب: ۲/ ۱۸۸.

[7] الشرح الكبير للدردير: ۳/ ۴۴۲ ، ۴۵۹.

د امام شـافعي (رحمه الله) او امام احمد بن حنبل (رحمه الله) په نظر غصـب عبارت دی اخيسـتل د مال د غير دي (که هغه مال وي او که بل څه ځانګړي شـوي وي) خو په زور يا دښـمنۍ او بد نيتی سره اخيسـتل بغير له حق څخه په طريقه د زور او جبر او قهر سره اخيستلو ته غصب وايي.[1]

د نورو خلکو مال په زور سره اخيستل يو ناروا عمل بلل شوی د اسلام مبارک دين له دغې ډول اعمالو ترسره کولو څخه د ځان ساتلو امر کړی دی. ځکه د اسلامي شريعت له مخې دغې ډول اعمالو ترسره کولو ته غصب وايي:

**(وَمَنْ غَصَـبَ شَـيْاءً مِمَّا لَهُ مِثْلٌ فَهَلَکَ فِي يَدِهِ فَعَلَيْهِ ضَـمَانُ مِثْلِهِ،وَ اءِنْ كَانَ مِمَّا لا مِثْلَ لَهُ فَعَلَيْهِ قِيمَتُهُ يَوْمَ الْغَصْبِ)**.[2]

ژباړه: هر کله چې يو شخص يو څيز يا شی غصب کړي او د دغې شي په څېر بل څيز وجود ولري په داسې حال کې چې اخيستل شوی شی د غصب کوونکي له لورې هلاک شوی يا استعمال شوی وي؛ نو په دې صورت کې به غصب کوونکی همدغسې شی بېرته اخلي او که چيرې غصب شوي څيز مثل نه درلوده؛ نو په دې حالت کې پر غصب کوونکي باندې د څيز د قيمت ورکړه ده قيمت به يې ورکوی له هغې ورځې نه به يې قيمت ورکوي له کوم وخت نه يې چې غصب کړی دی په دې هکله لاندې مطلب ته پاملرنه وکړئ:

**(وَعَلَى الْغَاصِـبِ رَدُّ الْعَينِ الْمَغْصُـوبَتِ ،وَاءِنْ ادَّعَى هَلَا كَهَا حَبَسَـهُ الْحَاكِمُ حَتَّى يَعْلَمَ اءَنَّهَا لَوْ كَانَتْ بَاقِيَتً لَاءَ ظْهَرَهَا ثُمَّ يَقْضِيَ عَلَيْهِ بِبَدَلِهَا)**.[3]

ژباړه: د غاصب لپاره واپس کول د غصب شوي شي دي، که چيرې د مال اصلي حقدار دعوه وکړي چې د هغه مال يا شـی هلاک شـوی دی په دې صـورت کې قاضي ته په کار ده چې غاصـب په زندان کې تر هغې وخت پورې واچوي ترڅو چې اخيستل شوی شی په يقيني توګه بېرته راپيداکړي که چيرې تر دغې مودې پورې د غاصب سره اخيسـتل شـوی باقي پاتې وي نو اصـلي خاوند ته دې واپس کړي، که چيرې د غاصـب سره غصـب کړل شـوي شي وجود نه درلوده په دې صورت کې به يې بدل ورکوي يعنې د غصب شوي شي قيمت به اداء کوي.

په بل ځای کې بيا د غصب په اړه داسې راغلي دي:

[1] مغنی المحتاج: ۲/ ۲۷۵ ، کشاف القناع: ۴/ ۸۳ ، المغني: ۵/ ۲۲۰.

[2] فقه، د ديني مدرسو اتم ټولګې لپاره، خلاصه القدوری،شرح المختصر القدوری-۲، د پوهنې وزارت د تعليمي نصاب د پراختيا لوی رياست،چاپ کال ۱۳۹۸ هـ ش. ص (۲۲۳).

[3] فقه، د ديني مدرسو اتم ټولګې لپاره، خلاصه القدوری،شرح المختصر القدوری-۲، د پوهنې وزارت د تعليمي نصاب د پراختيا لوی رياست،چاپ کال ۱۳۹۸ هـ ش. ص (۲۲۳).

**(وَاِذَا غَصَبَ عَقَارًا فَهَلَکَ فِي يَدِهِ لَمْ يِضْمَنْهُ عِنْدَ اَبِي حَنِيفَتَ وَ اَبِي يُوسُفَ،وَ قَالَ مُحَمَّدُ: يَضْمَنُهُ.وَمَا نَقَصَ بِفِعْلِهِ وَ سُکْنَاهُ ضَمِنَهُ فِي قَوْلِهِمْ جَمِيعًا).**[1]

ژباړه: که چیرې یو غاصب پردۍ ځمکه په زور سره غصب کړي او بیا دغه ځمکه تخریب یا یې په بل چا باندې خرڅه کړي د امام ابوحنیفه او امام ابو یوسف (رحمهم الله علیهم اجمعین) په نظر غاصب یې ضامن کېدای نه شي، مگر د امام محمد(رحمه الله) په نظر غاصب ضامن کېدای شي. هر هغه څوک چې په خپل لاس سره یې تخریب یا د ځان په گټه استفاده کړي او د غاصب له لورې یا په چا باندې چې یې خرڅه کړې ده د هغې په واسطه په کې نقصان رامنځته شي په دې صورت کې د پورته درې واړو فقهاوو په نظر غاصب ضامن کېدای شي.

همدارنگه په بل ځای کې بیا د غصب په اړه داسې ویل شوي دي:

**(وَمَنْ غَصَبَ اَرْضًا فَغَرَسَ فِيهَا اَوْ بَنَى فِيهَا قِيلَ لَهُ: اقْلَعْ الْبِنَاءَ وَالْغَرْسَ وَرُدَّهَا اَلَى مَالِکِهَا فَارِغه ،فَاِءِ کَانَتْ الاَرْضُ تَنْقُصُ بِقَلْعِ ذَلِکَ،فَلِلْمَالِکِ اَنْ يَضْمَنَ لَهُ قِيمَتَ الْبِنَاءِ وَالْغَرْسِ مَقْلُوعًا).**[2]

ژباړه: هر هغه څوک چې ځمکه یې غصب کړې وي او تر غصب کېدو وروسته په دغې ځمکې باندې نیالگې کېنوي یا په کې ودانۍ جوړه کړي په دې صورت کې غاصب ته باید وویل شي چې دغه نیالگي ترې وباسي او ودانۍ بېرته ویجاړه کړي. که چیرې د نیالگیو د ویستلو په وخت یا د ودانۍ د تخریبولو په وخت ځمکه تخریب شي په دغې صورت کې د ځمکې په خاوند باندې لازمي ده چې په ودانۍ باندې کړی مصرف ورته اداء کړي یا د دې ځمکې په مثل بله ځمکه د ځمکې پخواني خاوند ته ورکړي د مثال په توگه: غنم، جوار، لوبیا او داسې نور... شیان که چیرې تخریب شي یا داسې شیان تخریب شي چې قیمت لرونکي وي په دې صورت کې د ځمکې اصلي خاوند ته به د دغې قیمتي شیانو قیمت ورکول کېږي.

هغه شیان چې له یو ځای څخه بل ځای ته د انتقالولو وړ نه وي لکه ځمکه د امام ابو یوسف او امام ابو حنیفه (رحمهم الله علیهم اجمعین) په نظر د ځمکې غصب کول امکان لرونکې نه ده په دې معنا که چیرې غصب شوې ځمکه د سیلاب په واسطه تخریب شي؛ نو په دې صورت کې په غاصب باندې د تخریب شوې ځمکې د تاوان ورکړه نه شته مگر د امام محمد په نظر غاصب د ځمکې د جبران او تاوان د ورکړې ضامن کېدای شي، که چیرې غاصب په قصدي او عمدي توگه دغه کار ترسره کړی وي؛ نو د ټولو فقهاوو په نظر غاصب د تخریب شوې ځمکې د جبران او خسارې په ورکولو باندې ضامن دی.

---

[1] فقه، د دیني مدرسو اتم ټولگې لپاره، خلاصه القدوری،شرح المختصر القدوری-۲، د پوهنې وزارت د تعلیمي نصاب د پراختیا لوی ریاست،چاپ کال ۱۳۹۸ هـ ش، ص (۲۲۳).

[2] فقه، د دیني مدرسو اتم ټولگې لپاره، خلاصه القدوری،شرح المختصر القدوری-۲، د پوهنې وزارت د تعلیمي نصاب د پراختیا لوی ریاست،چاپ کال ۱۳۹۸ هـ ش، ص (۲۲۴).

که چیرې منقول مال د غاصب په لاس کې هلاک شوی وي یا په خپل سر باندې له منځه ولاړ شي یا د غاصب له لورې هلاک شي، نو د جبران او خسارې ورکړه په غاصب باندې لازمي ده، که چیرې ټول مال نه وي هلاک شوی بلکې نیمایي یې له منځه تللی وي یا تخریب شوی وي نو په دې صورت کې بیا په غاصب باندې د هغومره تاوان ورکړه ده په کومه اندازه چې مال تخریب شوی وي.([1])

که چیرې یو څوک د نورو خلکو مالونه غصب کړي او د غاصب په لاس کې غصب کړل شوی مال وجود ولري، په دې صورت کې باید غصب کړل شوی مال بېرته واپس ورکړي، که چیرې غاصب د مال د هلاکېدو دعوا وکړي په دې حالت کې قاضي په دې مکلف دی غاصب تر هغې پورې بندي کړي ترڅو د قاضي یقین ته ښکته شي چې غصب کړل شوی مال رښتیا هم هلاک شوی دی. که چیرې هلاک شوی مال مثل ولري په غاصب باندې لازمي ده چې د هغې مثل ورکړي او که چیرې مثل یې موجود نه وي نو بیا غاصب ته په کار ده چې قیمت یې ورکړي.

همدارنګه امام زخیلي([2]) د تصرف په هکله فرمایلي دي: ((د یو شخص له لورې هغې کار ترسره کولو ارادې ته وایي یا هغې وینا کولو ته ویل کېږي، چې په شریعت کې د هغې لپاره کوم ترتیب موجود نه وي، د دغې شخص نه غیر بل ځای کې صحت و نه لري، یعنې په اخیستلو او خرڅولو کې کوم قول دغه ډول وجود و نه لري، یا په کارونو او کړنو اعمالو ترسره کولو کې دغه ډول قول یا ونیا وجود ونه لري یعنې دغه ډول اعمالو ترسره کول یوازې د همدغې شخص شخصي کړنه وي. تصرف بیا په دوه ډولونو ویشل شوی: یو یې فعلي تصرف دی او دویم یې قولي تصرف دی)).

فعلي تصرف: دا هغه تصرف دی چې په مادي شیانو نیولو یا اخیستلو کې رامنځته کېږي چې اکثره یې په بیع اخیستلو او خرڅولو کې صورت نیسي.

قولي تصرف چې دا بیا په دوه ډوله دی عقدي یا تړوني او غیر عقدي: عقدي یې هغه دی چې په یوه تجارتي مسئله کې شریکېدلو ارادې ته وایي او غیر عقدي بیا د یو چا په مال باندې دعوا کول یعنې اقرار کول چې هغه ستا

[1] فقه، د دیني مدرسو اتم ټولګې لپاره، خلاصه القدوری،شرخ المختصر القدوری-۲، د پوهنې وزارت د تعلیمي نصاب د پراختیا لوی ریاست،چاپ کال ۱۳۹۸ هـ ش، ص ص ۲۲۷ – ۲۲۸.

[2] وهبه الزحیلي په ۱۹۳۲ میلادي او ۱۳۵۱ هجري قمري کال د دمشق په عطیه ښار کې زیږیدلی او په ۲۰۱۵ میلادي کال وفات شوی دی، نوموړی د اسلامي فقهې او قانون په څانګه کې په دمشق بوهنتون کې استاد پاتې شوی اکثره موضوعات یې د فقې سره اړیکه لري، نوموړي علمي رشته هم د قرآن کریم تفسیر دی او کار ځای یې سوریه وه.خپل لومړني تحصیلات یې په ۱۹۵۲ میلادي کال د دمشق په الشریه پوهنتون کې سرته رسولي دي له هغې وروسته د نور تحصیل لپاره مصر ته ولاړ په ۱۹۵۶ میلادي کال د مصرـ د الازهر پوهنتون څخه د دوکتورا په کچه فارغ شو په ۱۹۵۷ میلادي کال کې یې په حقوقو کې لیسانس د عین شمس پوهنتون څخه ترلاسه کړ. د زحیلي مهمترین اثر تفسیر المنیر دی په عربي ژبه باندې لیکل شوی دی او په معاصر وخت کې مهم تفسیر ګڼل کېږي دا کتاب لومړی ځل په ۱۴۱۱ قمري کال ۱۹۹۱ میلادي کال د دمشق دارالفکر ادارې په ۱٦ جلدونو کې چې څه دپاسه ۱۰۰۰۰ صفحې لري چاپ کړی دی ددې تفسیر په لیکلو کې ۷ کاله خواري شوې ده په فارسي او ترکي ژبو باندې هم ژباړل شوی دی.

حق نه وي نه تاته وقف شوی وي او نه تاته د چا له لورې دربخښل شوی وي دې ډول شیانو اخیستلو ته تصرف وايي.([1])

**ب: په قانون کې د غصب مفهوم**

(هغه شـخص چې له عنف، اکراه، تهدید یا ارعاب څخه په اسـتفادې سره په څرګنده توګه پیسـې د بل منقول مال واخلې د منقولو مالونو د غصب د جرم مرتکب پېژندل کېږي).([2])

معنا دا هر هغه شخص چې به زور، زیاتي، سختي یا د یو سړي په تهدیدولو سره په ښکاره یا په غلني توګه د بل شخص نه پیسې یا مال واخلي نو دا کار د غصب په نوم یادېږي. د افغانستان د جزا کوډ له مخې ورته غصب ویل کېږي او د دې ډول غاصبینو لپاره مجازات په پام کې نیول شـوي دي، ځکه غصب جرم دی او د دغې جرم ترسره کوونکي مجرمینو ته باید د قانون مطابق مجازات ورکړل شي، بل دا چې غصب د یو هېواد عامه امن او نظم ته ګواښ پېښوي او عامه امنیت ګواښي پر همدې اساس د غصب مجرمین باید مجازات شي، چې د دغې مجرمینو لپاره لاندې مجازات په پام کې نیول شوي دي:

د منقولو مالونو د غصب د جرم مرتکب د غصب شـوي مال مقدار یا ارزښت ته په پام سره په لاندې توګه مجازات کېږي:

۱ – په هغه صورت کې چې پیسې یا د مال ارزښت تر زرو افغانیو پورې وي، له پنځه زرو څخه تر لسو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا.([3])

۲ – په هغې صورت کې چې د پیسو یا د مال ارزښت له زرو افغانیو څخه زیات تر لسو زرو افغانیو پورې وي، په قصیر حبس.([4])

۳ – په هغې صورت کې چې د پیسو یا د مال ارزښت له لسو زرو څخه زیات تر سلو زرو افغانیو پورې وي، په متوسط حبس.([5])

۴ – په هغې صورت کې چې د پیسو یا د مال ارزښت له سلو زرو افغانیو څخه زیات وي، په طویل حبس.([6])

د پورته ټولو شمېرو موخه او مقصد دا شو، چې کله د زرو افغانیو څخه تر سل زرو پورې افغانۍ یو غا صب د چانه په زور او زیاتي سره غصب کړي نو نوموړی غاصب د جزا کوډ په وړاندې مجرم ګڼل کېږي او مجازات یې د

---

[1] الفقه الأسلامي و أدلته، ج ۴، ص ۸۳.

[2] جزا کوډ، ۷۱۱ نمبر ماده.

[3] جزا کوډ، ۷۱۲ نمبر ماده، لومړی بند.

[4] جزا کوډ، ۷۱۲ نمبر ماده، دویم بند.

[5] جزا کوډ، ۷۱۲ نمبر ماده، درېیم بند.

[6] جزا کوډ، ۷۱۲ نمبر ماده، څلورم بند.

پنځه زره افغانیو نقدي ســزا نه ان تر اوږده بند تېرولو پورې تاکل شــوې ده. دا مجازات په دې خاطر ورکول کېږي، چې د ټولنې عامه امنیت او نظم برقرار وســاتل شي، که نه نو د غاصــبینو په زیاتېدو سره د ټولنې امنیت او نظم هم ګډوډ کېږي.

## دویم مطلب: د تبعیض لپاره تحریک کول

اســلامي شریعت د هر ډول تفرقې او تبعیض څخه منع فرمایلي ده، د تبعیض څخه د ځان ســاتلو په هکله په قرآن کریم کې ګڼ شمېر آیتونه شتون لري همدرانګه نبوي احادیث هم په دې دلالت کوي، چې تاسې د تبعیض او تفرقې څخه ځانونه و ساتئ. د ا سلام د مبارک دین سربېره د افغانستان قوانین هم د هر ډول تفرقې او تبعیض له کولو څخه ډډه کول وړاندیز کړي. د تبعیض کوونکي لپاره یې ځینې مجازات هم ټاکلي دي ځکه تبعیض یو ډول جرم دی او د دغې جرم مرتکب مجرم ګڼل کېږي، هر څوک چې د تبعیض په هکله مجرم وبلل شــو؛ نو لاندې مجازات به ورباندې تطبیقیږي:

(۱) هغه شــخص چې بل کس مذهبي، نژادي، قومي، ژبنیز یا ســیمه ایز تبعیض یا تفرقي ته راوبولي یا وهڅوي، په متوسط حبس محکومیږي.([1])

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱ ) فقره کې درج شوی جرم په پایله تمام شي یا له عنف او تهدید سره مل وي، مرتکب تر اوو کلونو پورې په طویل حبس محکومیږی.([2])

**الف: د اسلام له نظره تبعیض**

د اسلام مبارک دین د فطرت دین دی هر هغه څه چې په فطرت کې وجود لري هماغه شیان انسانان نېغې لارې ته ســیده کوي، هغه په هیڅ صــورت د فطرت سره ټکر نه کوي او دین اســلام دا هم نه مني چې د انســان فطرت دې مسح کړي. او هر هغه څه چې د انسان فطرت ته زیان رسوي هغه دین ا سلام هم په سختو الفاظو باندې محکوموي، دین اســلام دا مني چې د انســان په فطرت کې د قوم، ژبې، خاورې، نژاد سره مینه شــته. هیڅوک نه شي کولائ چې دغهمینه د انســـانونو له مغز څخه و باسي، او دین اســلام دا هم مني، چې چې په مختلفو قومونو کې بېلا بېلې ځانګړتیاوې شتون لري، شاید دا ډول ځانګړتیاوې په نورو قومونو کې وجود و نه لري یا کېدای شي په ډېر کم شکل باندې شــتون ولري. او دین اســلام دا هم ایجابوي چې هر قوم او ملت دې د خپلې ژبې، قوم او خاورې د ترقۍ او پرمختګ لپاره کار وکړي. له همدې امله د الله تعالی طریقه هم دا وه چې د هر قوم لپاره به یې د هماغې قوم نه

---

[1] جزا کوډ، ۲۵٦ نمبر ماده، لومړی بند.

[2] جزا کوډ، ۲۵٦ نمبر ماده، دویم بند.

پېغمبران رالېږل ترڅو خپل قوم ته خطاب وکړي هغوی د خیر او نېک بختۍ طرف ته دعوت کړي او د الله تعالی خیرونه او برکتونه هغوی ته بخشش کړي.([1])

مګر دین اسلام د ژوند ټول غرایض په خپله لمن کې ځای پرځای کړي دي او په دې شکل باندې یې د عباداتو او احکامو خطاب هم کړی دی. اســلام په خپل چوکاټ کې ګاونډیانو، خپلوانو او هغو خلکو سره چې تجارت او ســوداګري کوي د نیک چلند او رفتار د ترسره کولو امر کوي. په عبادتونو او احکامو کې یې د بېلګې په توګه د خپلوانو او ګاونډیانو او اړیکه لرونکو احکام لکه زکات او صــدقې په نظر کې نیولي دي الله تعالی امر کوي چې تاسې صدقې او زکاتونه خپلو نږدې خلکو او خپلوانو ته چې تاسې سره اړیکه لري ورکړه هغوی ته یې ډالۍ کړئ د نېک خوی او چلند په هکله او د صلح رحمي په هکله زموږ خوږ پېغمبر (صلی الله علیه وسلم) داسې فرمایلي دي: (تاسې باید خپل نسب وپېژنئ! په دې خاطر چې خپلوي او رشتې ټینګې کړئ او یو بل سره صلح رحمي وکړئ). د اسلام په مبارک دین کې د انسان فطري حقوق او غوښتنې او فطري جوړښت په پام کې نیول شوی دی.

له بل پلوه رسـول الله (صـلی الله علیه وسـلم) په خپل ژوند کې بېلا بېلو قومونو ځانګړتیاوو ته پاملرنه کړې ده د هغوی د توان، استعداد او قابلیت سره سم به یې هغوی په وظیفه باندې ګمارل اما په هغې ځای کې چې کله به انساني فطرت ته ضرر پېښېده؛ بیا به یې د فساد او بې لارېتوب په وړاندې کلکه دفاع کوله.([2])

د اســلام په مبارک دین کې ټول انســانان او مخلوقات د یو پلار آدم علیه الســلام او یوې مور بي بي حوا څخه پیداشــوي دي. د انســانانو ترمنځ خپلمنځي حقوقو ته په کې پاملرنه شــوې ده، مګر په بله معنا له دې څخه مخنیوی شـوی دی چې یو قوم به د یو شـخص پرسـتي او تابعداري نه کوي یعنې د قوم پرسـتۍ په مرتبه کې به دې حال ته نه رسـېږي چې تکبر او لویي په کې پیداشي، یعنې هغه څه چې قوم یې ترسره کوي دا د هغوی حق دی او هغه څه چې نورو قومونو ترسره کړي دي هغه د هغوی حق دی نا داســې نه ده ځکه په دې ډول ویش کې عدل او انصــاف په پام کې نه دی نیول شوی.

الله (جل جلا له) کورنۍ، قومونه، مختلف قبایل د خپل حکمت لپاره ګرځولي دي د دې لپاره چې انســاني اړتیاوې په آسانۍ سره ترلاسه شي او یو بل سره بلدتیا پیداکړي په دې هکله الله تعالی داسې فرمایلي دي:

**﴿وَجَعَلْنَٰكُمْ شُعُوْبًا وَّ قَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوْا﴾**.([3])

ژباړه: موږ ګرځولي دي قومونه او ډلې د دې لپاره چې یو بل سره وپېژني.

[1] مبارز،عبدالصبور،د اساسی قانون تحلیل او شننه،چاپ کال ۱۳۹۵هجری شمسی،چاپ اول، سلام خپرندویه ټولنه – جلال آباد،ص ۲۰۵.

[2] مخکینی مرجع، ص ۲۰٦.

[3] سورة الحجرات، آیت نمبر ۱۳.

مگر په هيڅ صــورت قوم او قبيله د انســانانو لپاره د غوره والي او برترۍ معيار نه بلل کېږي او په هيڅ صــورت قوم او کورنۍ الله تعالی ته د نزديکت سبب نه شي کېدای. الله تعالی ته د نزديکت لپاره يوازينۍ لاره شتون لري چې هغه د تقوا او پرهېزگارۍ څخه عبارت ده، د انسانانو او مسلمانانو په ټولنه کې هم هغه خلک د ډېر قدر او احترام لايق دي چې تقوا او پرهېزگاري لري په دې هکله الله تعالی داسې فرمايلي دي:

﴿**إِنَّ اَكْرَمَكُمْ عِنْدَاللهِ اَتْقَكُمْ**﴾.(1)

ژباړه: غوره په تاسې کې هغه څوک دی د الله تعالی پر وړاندې چې تقوا او پرهېزگاري ولري.

په بل ځای کې بيا د ژبې په اړه الله تعالی داسې فرمايلي دي:

﴿**وَمِنْ آيَتِهِ خَلْقُ السَّمَوَتِ وَالْاَرْضِ وَاخْتِلاَفُ اَلْسِنَتِكُمْ وَ اَلْوَانِكُمْ**﴾.(2)

ژباړه: او د هغې له نښانو څخه د اسمانونو او ځمکې پيدايښت او ستاسې د ژبو او رنگونو جلاوالی او بېلوالی دی. په باوري ډول په دې کې د پوهانو لپاره ډېرې نښې دي.

پښتو، فارسي، ازبکي، پشه يي... ټولې ژبې د الله تعالی له لورې يو الهی نعمت دی چې الله تعالی موږ او تا سو ته راکړې دي، مگر موږ او تاسو د الله تعالی له دې ستر نعمت څخه د ځان لپاره تعذيب جوړ کړی دی، د الله تعالی له لورې انسانانو لپاره ډېره لويه دايره او چاپيريال په نظر کې نيول شوی دی مگر موږ مسلمانان په خپلې تنگ نظرۍ او تنگ دستۍ سره دغه پراخه دايره په ځان را کمه کړې ده. او ځانونه مو په تبعيض، کينه او حسد کې اچولي دي.

د اســلام د مبارک دين له نظره دغه ډول ايماني او عقيدوي اختلافات ټول غير عقلي او غير منطقي گڼل شــوي او دا خبره هم د منلو وړ نه ده چې له يو پلار او مور څخه پيداشــوي انســانان دې په خپل منځ کې يو پر بل باندې ځانونه غوره وگڼي. نن ورځ مسـلمانان په ژبه او قوم باندې د نورو قومونو او ژبو سره اختلاف نظر لري په داسـې حال کې چې رسول الله (صلی الله عليه وسلم) په حجة الوداع کې دې اختلافاتو ته داسې اشاره کړې ده:

«**کلکم من آدم و آدم من تراب، لا فضل لعربي علی عجمي و لا لعجمي علی عربي و لا لا سود علی احمر و لا لا حمر علی اسو...**».(3)

ژباړه: ټول انســانان له خاورې څخه جوړ شــوي دي، عربي په عجمي باندې فضـيلت او غوره والی نه لري او تور په سور باندې او نه هم سور په تور باندې غوره والی او برتري لري.

---

1 سورة الحجرات، آيت نمبر ۱۳.

2 سورة الروم، آيت نمبر ۲۲.

3 ابو داود، باب التفاخر بالاحسان.

په لنډه توګه ویلای شم چې دین ا سلام له هر ډول تبعیض څخه منع کړې ده ټول ان سانان له یو پلار آدم (علیه السلام) څخه پیدا شوي دي د ا سلام په دې نظریې باندې دا خبره دا سې د خلاصه کېدای شي:(هیڅ یو انسان په بل باندې غوره والی او برتري نه لري، مګر د تقوا په لحاظ برتري لري.([1])

**ب: د افغانستان د قوانینو له نظره تبعیض**

د افغانستان په جزا کوډ کې هر هغه شخص ته تبعیض کوونکی ویل کېږي چې قومي، سیمه ییز، ژبنیز، مذهبي، جنسیتي، سیاسي او عقیدتي ډلو کې یوه غوره او نورې شاته وغورځوي د هغوی حقوقو ته پاملرنه و نه کړي دغې شخص ته تبعیض کوونکی شخص ویل کېږي.

تبعیض د افغانستان د قوانینو له مخې یو ډول جرم دی، ځکه د تبعیض جرم په هکله د ترسره کوونکي لپاره لاندې مجازات ټاکل شوي دي.

(۱) که چیرته د عامه خدمتونو موظف یا د بهرني دولت یا بین المللي یا بین الحکومتي سازمان یا نادولتي مؤسسې مؤظف د شخصي، قومي، سیمه ییزو، ژبنیزو، مذهبي، جنسیتي، سیاسي، عقیدتي ملاحظاتو پر بنسټ یا له ځانګړې ډلې یا فرقې څخه ملاتړ پر بنسټ، د دندو په ترسره کولو یا د خدمتونو په وړاندې کولو یا نورو حالتونو کې له تبعیض څخه کار واخلي، مرتکب په قصیر حبس یا له دیرشو زرو څخه تر شپیتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومیږي.([2])

(۲) که چیرته ددې مادې په ۱ فقره کې درج شوی عمل د دولتی عالي رتبه مقاماتو یا دنورو مراجعو د عالي رتبه مقاماتو په واسطه ارتکاب شي، مرتکب د متوسط حبس په اکثر حد او یا د دري سوه زرو افغانیو په نغدي جزا محکومیږي.([3])

## درېیم مطلب: دولتي تاسیساتو اشغالول یا نیول

ځیني وختونه د ټولنې امنیت او نظم د ځینو ډلو او ګوندونو له لورې د دولتي تاسیساتو یا دولتي ودانیو او ځایونو په نیولو سره یا په ا شغالولو سره ګوا ښل کېږي. چې د دغې جرم ترسره کوونکی مجرمین بلل کېږي په ا سلامي شریعت کې په دې هکله د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) یو حدیث راوړم چې فرمایلي یې دي:

**« عن عبدالله بن فضالة، عن أبیه قال: علَّمَني رسول الله صلی الله علیه وسلم، فکان فیما علمني: و حافظ علی الصلوات الخمس. قال: قلتُ: إنَّ هذه ساعاتٌ لِي فیها أ شغالٌ، فَمُرني بِأمْرٍ جامع إذا أنا فعلته أجزأ عنِّي، فقال:**

[1] محمد نعیم جلیلی، اسلام ولی توپیرونه نه مني؟، چاپ سال ۲۰۱۵میلادی ۳۰ اګست. به دست آورده شده از سایت اصلاح انلاین.

[2] جزا کوډ، ۴۰۹ نمبر ماده، لومړی بند.

[3] جزا کوډ، ۴۰۹ نمبر ماده، دویم بند.

**حافظ على العصرين، وما كانت من لغتنا، فقلت: وما العصران؟ فقال: صلاة قبل طلوع الشمس، وصلاة قبل غروبها».([1])**

ژباړه: عبدالله ابن أبي فضاله د خپل پلار نه روايت کړی دا وايي: ماته تعليم راکړه رسول الله صلى الله عليه وسلم پس وو په هغه څه کې چې ده ماته تعليم راکړی، يو يې دا وو چې حفاظت کوه د خپلو پنځه وخته لمونځونو. صحابي وايي: ما ورته وويل: دا هغه وختونه دي چې مالره په دغې وختونو کې ډېر مصروفيت دی، پس ما ورته وويلې چې ماته په داسې يو کامل او جامع کار سره امر وکړه کله چې زه هغه اجراء کړم چې هغه زما څخه بسنه وکړي. رسول الله صلى الله عليه وسلم راته وويل چې د مازيگر لمونځ حفاظت کوه، دغه اصطلاح او کلمه زموږ له ژبې څخه نه وه، دا العصران څه شی دی؟ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: لمونځ مخکې له لمر ختلو څخه او لمونځ وروسته د لمر پرېوتلو څخه.

په پورته حديث کې د أشغال کلمه ذکر شوې ده چې دلته د مصروفيت او کسب او کار په معنى راغلې ده همدارنگه همدغه د اشغال کلمه د نيولو او په خپل اختيار کې د راوستلو په معنا هم راځي لکه څرنگه چې کار او کسب سړی مصروفوي او ځان پورې يې کلک تړي داسې د دولتي ځايونو نيول هم په دې موخه وي چې يو سړی يا يوه ډله يا يو گروپ يې د ځان پورې وتړي او د ځان مال يې وگرځوي. که څه هم دا حديث د دولتي تاسيساتو د أشغال سره اړخ نه لگوي، خو دلته يوازې د أشغال د کلمې له راتگ څخه مطلب او هدف زموږ نيوکه او په خپل اختيار او واک کې راوستل دي چې د دولتي ځايونو نيول هم په دې موخه ترسره کېږي. همدغه مطلب د افغانستان د جزا کوډ له مخې دولتي ودانۍ نيوونکو لپاره لاندې جزا ټاکل شوې ده:

(هغه شخص چې د نظامي ځواک په کارولو سره د دولتي تاسيساتو، مؤسسو او نورو هغو اماکنو په اشغال چې د عامه منفعت په منظور ودان شوي اقدام وکړي، په طويل حبس محکوميږي).([2])

معنا دا که څوک دولتي تاسيساتو يا ځايونو د نيولو اراده ولري؛ نو دی په اصل کې د جرم ترسره کولو اراده لري. ځکه دولتي تاسيسات عامه ملکيتونه دي او هيڅوک حق نه لري، چې عامه ملکيت د خپل ځان په نفعه او گټه استعمال کړي، بلکې ټول مسلمانان او هيوادوال د عامه ملکيتونو څخه د استفادې حق لري. که په ټولنه کې داسې څوک پيداشي، چې دولتي ودانۍ او تاسيسات اشغالوي يا يې نيسي نو دولت ته په کار ده چې د جزا کوډ له مخې يې په اوړده بند باندې محکوم کړي.

[1] سنن أبي داود، مرفوع. جلد ١، ص ٢١٤. حديث رقم: ٤٢٨. كتاب الصلاة – باب في المحافظة على وقت الصلوات. و مسند أحمد، مرفوع، جلد ٣١، ص ٣٦٨. حديث رقم: ١٩٠٢٤ آول مسند الكوفين – حديث فضالة الليثي.

[2] جزا کوډ، ٢٥٨ نمبر ماده.

## څلورم مطلب: د دولتي نشان يا بيرغ سپکاوی کول

د افغانستان په اساسي قانون کې د ملي بيرغ او دولتي نشان په اړه په ۱۹ ماده کې داسې تشريح شوې ده:

(د افغانستان بيرق له درې رنګونو څخه ترتيب شوی دی چې عبارت دي له: سور، تور او شين څخه درې واړه ټوټې د چپ نه ښي طرف لورې ته په عمودي شکل باندې تنظيميږي سور رنګ يې د دواړو رنګونو په منځ کې قرار لري چې دولتي نشان هم په دغې سور رنګ لرونکې ټوټې باندې ترتيب شوی دی).(۱)

د افغانستان دولتي نشان د سپين رنګ لرونکې محراب څخه جوړه شوې ده دواړو لوريو ته يې بيرق وجود لري د منځنۍ سطحې په پورته لوري کې يې کلمه ليکل شوې ده د کلمې دپاسه الله اکبر ليکل شوی او دپاسه وربانديې د لمر د راختلو پلوشــې راښــکاره شــوي، د نشــان په ښــکتنۍ برخه کې کال ليکل شــويی ۱۲۹۸ هجري شــمسي ـ او د افغانستان کلمه ليکل شوې ده. له دواړو لوريو نه د غنم وږي پرې ټومبل شوي دي د قانون له مخې د دغه نشان څخه استفاده کول د بيرق په توګه منل شوي دي.(۲)

د افغانستان د جزا کوډ هم هغې ا شخا صو لپاره چې د هېواد ملي بيرق او نشان ته سپکاوی او توهين کوي او د عزت په سترګه ورته نه ګوري او هغه ا شخاص چې دولتي نشان ته د توهين او سپکاوي کولو اراده لري نو د هغوی دغه ډول اعمال او کړنې د جزايي کوډ له مخې جرم بلل کېږي دغې ډول اعمالو ترسره کوونکو ته د مجرمينو خطاب شوی دی چې په لاندې توګه يې يادونه شوې ده:

(۱) هغه شخص چې په علني ډول د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت بيرغ يا نښان ته سپکاوی وکړي، په قصير حبس محکوميږي.(۳)

(۲) هغه شخص چې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت بيرغ د سپکاوي په قصد کښته کړي، د شپږو مياشتو په قصير حبس محکوميږي.(٤)

(۳) هغه شخص چې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت بيرغ د سپکاوي په قصد وشکوي، وسوځوي يا تر پښو لاندې کړي، په متوسط حبس محکوميږي.(٥)

معنا دا دولتي بيرغ او نښان ته هر ډول سپکاوی کول جرم دی که يوازې د بيرغ او نښان سپکاوی شوی وي نو مجرم په لنډې مودې بند محکوميږي، که چيرې يې بيرغ قصــداً د ســپکاوي په موخه ښــکته کړی وي؛ نو بيا شــپږ

---

۱ د افغانستان اساسي قانون، ماده نمبر ۱۹.

۲ رسمي جريده، د افغانستان اسلامي دولت عدليه وزارت، د افغانستان اساسي قانون، ۱۳۸۳ هجري شمسي کال، مسلسل شمېره (۸۱۸)،ماده ۱۹.

۳ جزا کوډ، ۲٦۰ نمبر ماده، لومړی بند.

٤ جزا کوډ، ۲٦۰ نمبر ماده، دويم بند.

٥ جزا کوډ، ۲٦۰ نمبر ماده، دريم بند.

میاشتې به زنداني کېدای شي او که چیرې قصداً دولتي بیرغ یا نښان وشکوي؛ نو په دې صورت کې په منځنی مودې بند باندې محکومېږي.

## پنځم مطلب: عامه تسلط کې ګډون کول

د ټولنې د نظم او امنیت ګډوډونکي اشخاص کله نا کله په عامه تسلط یا عمومي واک ترلاسه کولو کې ګډون کوي، د دغې خلکو یا ډلو ګډون کول د افغانستان د جزا کوډ له مخې جرم بلل کېږي، مرتکبینو په هکله یې لاندې مجازات ټاکل شوي دي:

هغه شخص چې دداسې عمل مرتکب شي چې د هغه اجراء د جرم د کشف واکمنې مرجع، څارنوالي یا محکمې له واک څخه وي، دهغه عمل په عامه سلطه کې مداخله پیژندل کیږي، په لاندې ډول مجازات کیږي.

۱- په هغه صورت کې چې عمل د شخص په ضرب او جرحې تمام شوي وي، په متوسط حبس محکومیږي.(۱)

۲- په هغه صورت کې چې عمل د شخص د غړي په غوڅولو تمام شوی وي، په ۲ درجه دوام حبس محکومیږي.(۲)

۳- په هغه صورت کې چې عمل د شخص په مړینه تمام شوی وي، په ۱ درجه دوام حبس محکومیږي.(۳)

پورتني موارد په دې ډول تشریح شوي دي که چیرې د جزم ترسره کوونکی د عامه ځایونو په نیولو کې نور خلک ووهي زخمي یې کړي؛ نو دغه وهل او زخمي کول یو ډول جرم دی د دغې جرم ترسره کوونکي لپاره د جزا کوډ له مخې منځنی بند سزا ټاکل شوې ده، که چیرې عامه ځایونه نیوونکي اشخاص د خلکو د غړو په غوڅولو باندې مرتکب شي دا هم جرم ګڼل کیږي، د جزا کوډ له مخې به دغه جرم ترسره کوونکي په دویمه درجه دایمي بند باندې محکومیږي او که چیرې د عامه ځایونو نیوونکي د ملکیتونو د نیوونې پر وخت څوک ووژني نو دغه مړینه هم یو جرم دی، چې د جزا کوډ له مخې به د ددغې مړینې قاتل په لومړۍ درجه دایمي بند باندې محکومیږي.

## شپږم مطلب: د مظاهرو، اعتصابونو او غونډو په وخت تاوتریخوالی کول

د افغانستان وګړي حق لري چې د صلحې او امنیت د رامنځته کېدو د غوښتنې د وړاندیز لپاره هر ډول مظاهرې او تظاهرات چې د افغانستان د اساسي قانون سره مطابق او برابر وي بغیر له وسلې شتون څخه په لاره باندې واچوي.(٤)

مظاهرې او غونډې د انسانانو اساسي حقوق دي ځکه په دې سره د حکومت استبداد او ظلم له منځه وړل کیږي په هغې غونډو کې چې په هغې کې رئیس جمهور د خلکو له لورې د رایو په اکثریت سره ټاکل کیږي، ځکه

---

۱ جزا کوډ، ۲٦۱ نمبر ماده، لومړی بند.

۲ جزا کوډ، ۲٦۱ نمبر ماده، دویم بند.

۳ جزا کوډ، ۲٦۱ نمبر ماده، درېیم بند.

٤ جریده رسمی وزارت عدلیه جمهوری اسلامی افغانستان، قانون اساسی افغانستان، سال ۱۳۸۳ هجری شمسی،شماره مسلسل (۸۱۸)، ماده نمبر(۳٦).

هغه رئیس جمهور چې د خلکو په رایو باندې ټاکل شوی وي او بیا د همدغې رایه ورکوونکو حقوقو ته رسیده ګي نه شي کولائ په دې صـــورت کې خلک د مظاهرې کولو حق لري. د ظلم د مخنیوي او له منځه وړلو لپاره همدا یوازینی لاره ده د عوامو لپاره د قوت او حق غوښـــتلو یوه لاره ده چې د رئیس جمهور د ظلم پر وړاندې ودریږي په دې ځای کې د مظاهرې حق د اسلام له نظره تشریح شوی دی:

د مظاهرې تعریف: مظاهرې د عربي ژبې یوه کلمه ده جمع یې مظاهرة، او مظاهرې دي چې له (ظاهر، یظاهر) له کلمې څخه اشتقاق شوې ده په اصل کې د ظهر چې د ښکاره کېدو معنا لري اخیستل شوې ده یا د قوت او غلبې ترلاسه کولو معنا هم لري په قرآن کریم کې د تظاهر یا مظاهرې د کلمې په هکله داسې راغلي دي:

﴿**فَاصْبَحُوا ظَاهِرِيْنْ**﴾.(١)

ژباړه: پس مومنان یې پر کافرانو باندې غالب یا برلاسي کړل.

اصطلاحي تعریف: په ډله ییز او ټولنیز شکل باندې د خپلې عقیدې ښکاره کول یا د خپلې رایې او نظر ښکاره کول او خپل اظهار او عاطفه ښکاره کولو ته مظاهره وایي.(٢)

د اعتصـــاباتو، غونډو، مظاهرو قوانینو له مخې مظاهره دا دول تعریف شـــوې ده: مظاهره عبارت ده د ټولنې یا اجتماع له راجمع کېدو څخه چې په یو منظم ځای کې د یو ټاکل شوي هدف د ترلاسه کولو لپاره په څلورلارو یا په آزادو میدانونو کې خپلو نظریاتو ښکاره کوونه کوي.(٣)

**الف: په اسلام کې د مظاهرې حق**

په هغې صـــورت کې چې کله د یو هېواد رئیس جمهور په خپل لاس لاندې خلکو باندې رحم نه کوي، یعنې ظلم پرې کوي یا د خپل رعیت حقوق په هغې شـــکل په نظر کې نیسي– چې د هغوی حق پرې نه اداء کېږي په دې وخت کې دا پوښـــتنه رامنځته کېږي چې د هغې په مقابل کې څه ډول اقدام وکړو؟ ترڅو د کولائ شي چې د دغې ظلم مخه ونیسي-یا له هغې څخه خپل حقوق وغواړي. یا په بل عبارت که چیرې د مسـلمانانو مشر-یا رهبر فاسـق او فاجر انسان وي( یعنې په خپل رعیت او لاس لاندې خلکو باندې رحم نه کوي ظلم پرې کوي او الهي احکام د پښو لاندې کوي) په دې صورت کې د دغه رهبر په مقابل کې مظاهره کول روا دي.

د دې موضـــوع په هکله فقهاء کرام په خپل منځ کې سره اختلافي نظریات لري د اهل الحدیث یوه ډله په دې باور ده چې د دې ډول رهبر او مشر په وړاندې چې فاسد او ظالم انسان وي په شفاهي توګه یې په مقابل کې اظهار

---

١ سورة الصافات، آیت نمبر١۴.

٢ سید اکرم هاشمی، افراد و حقوق سیاسی، چاپ در سال ١٣٩۵هجری شمسی،یار خپرندویه ټولنه – جلال آباد. ص ٨٨.

٣ جریده رسمی دولت اسلامی جمهوری افغانستان وزارت عدلیه، قانون،اجتماعات،اعتصابات و تظاهرات،سال ١٣٨١هجری شمسی،شماره مسلسل (٨٠۵)، ماده نمبر ٣.

کول روا دي د حق خبرې بايد د دغسې فاسق او فاجر په مخ کې وويل شي مگر مظاهرې کول روا نه دي، که چيرې دغه رهبر يا مشر فاسق وي او په ناحقه د مسلمانانو وينه تويوي يا په ښکاره توگه باندې د فسق او فجور کارونه کوي بيا يې په وړاندې مظاهره کول روايت لري.

اما د امام ابو حنيفه (رحمه الله) په نظر او مسلک هر هغه رهبر او مشر چې په خپل رعيت او لاس لاندې خلکو باندې ظلم کوي او په ناحقه باندې وي د هغې په مقابل کې مظاهره کول په دې هدف چې هغه له دندې څخه ليرې کړي هم روايت لري. خو په دې شرط چې تغير راوستل امکان ولري، د فاسد او فاجر نظام او رهبر په ځای بايد نيک انسان استخدام شيي، مگر داسې نه چې مظاهره کول د نورو انسانانو د مالي او ځاني زيان او نقصان په خاطر يا د مسلمانانو د مالونو د ضايع کېدو په خاطر وي. معنا دا چې مظاهره کول د مال او ځان د ضايع کېدو لامل نه شي.([1])

ابوبکر الجصاص([2]) (رحمه الله) د امام ابوحنيفه (رحمه الله) مسلک او نظر دا ډول تشريح کوي: د ظالمانو رهبرانو او مشرانو په مقابل کې د امام ابو حنيفه (رحمه الله) مسلک ډېر مشهور شوی دی، په همدې اساس امام اوزاعي (رحمه الله) ويلي دي: (ما د امام ابو حنيفه (رحمه الله) نظريې څخه دا ډول مفهوم اخيستلی دی، تر دې چې هغه د يوې تورې سره راغلی (د ظالمانو په وړاندې يې جگړې ته لمن وهله) ويل به يې چې ستاسو دا کار زما لپاره د منلو وړ نه دی، امام ابو حنيفه (رحمه الله) به ويل تر هر څه لومړی بايد په شفاهي توگه په نېکۍ باندې راتگ او له بديو څخه مخنيوی وويل شي امر باالمعروف او نهي عن المنکر فرض دی، مگر که چيرې نېغه لار و نه نيول شي نو بيا په توره باندې جنگ کول واجب دي.([3])

د مظاهرو په هکله د امام ابو حنيفه (رحمه الله) نظر: د امام ابو حنيفه (رحمه الله) روش او ميتود دا وو چې د ظالم پاد شاه په وړاندې به يې د دې لپاره مظاهره کوله چې له هغې څخه صالحت واخلي صلب صلاحيت يې کړي په دې ځای کې د امام ابو حنيفه (رحمه الله) په زمانه کې د څو مظاهرو مثالونه او بېلگې ذکر کوو د نمونې په توگه راوړل شوي:

---

[1] مبارز،عبدالصبور، د اساسی قانون تحليل او شننه، چاپ کال ۱۳۹۵هجری شمسی، سلام خپرندويه ټولنه – جلال آباد، ص ۴٦٦.

[2] ابوبکر رازی چې په جصاص باندې مشهور دی په (۳۷۰ هجري قمري) کال کې يې ژوند کړی د حنفي مذهب يو لوی مفسر دی د احکام القرآن په نامه يې يو تفسير هم ليکلی دی، دغه کتاب په څلورو لويو جلدونو کې چاپ شوی دی اوس هم د علماوو په منځ کې رواج لري. په فقهه کې يې هم مشهور کتاب فصول في الاصول يا اصول الجصاص په نامه ليکلی دی د نورو کتابونو څخه يې مختصره شرحه يعنې د الکرخي او الطحاوي څخه لنډه شرحه لري د ښه او نيکو نومونو شرحه ده او د کوچنيو ټولنو شرحه ده.

[3] مبارز،عبدالصبور، د اساسی قانون تحليل او شننه، چاپ کال ۱۳۹۵هجری شمسی، سلام خپرندويه ټولنه – جلال آباد ، ص ۴٦۷.

د امام ابو حنیفه په زمانه کې مظاهرې او قیام د زید بن علی[1] په مقابل کې رامنځته شوی و، زید بن علي د امام حسین (رضی الله عنه) لمسی و کله چې زید بن علی کوفې ته ولاړ د هغې په مقابل کې یو تحریک پیل شوی و دا هغه وخت و چې امویان په خلکو باندې حاکم و د هغوی له ظلمونو څخه په تنګ راغلي و، زید بن علي د هغې ځای خلکو ته وعده ورکړه چې د هغوی په مقابل کې سل زره لښکر جوړ کړي له دغې جملې څخه پنځلس زره خلکو د زید بن علي سره بیعت وکړ. مګر هر کله چې زید بن علي قیام وکړ شیعه ګانو ورسره دوکه وکړه یوازې ۲۱۸ تنه د هغې سره په پلوۍ کې پاتې شول د دغې جنګ په جریان کې ناڅاپي یو عشی د زید بن علي په مخ باندې ولګېده د همدغې غشي له امله نوموړی وفات شو.

په دې قیام کې د امام ابو حنیفه (رحمه الله) ملاتړ د زید بن علي (رضی الله عنه) سره و مالي کمک او مرسته یې هم ورسره کړې وه نور خلک یې هم هغې سره ملاتړ کولو ته دعوت کړل، د زید بن علي دغه قیام د جنګ بدر سره تشبیه شوی دی. امام ابو حنیفه د زید بن علي د راپېرل شوي خط په مقابل کې دارنګه لیکلي و: که چیرې زه په دې پوهېدلی چې خلک به تا یوازې پرېږدي. حتماً به مې له تاسره شرکت کړی و مګر د افسوس خبره دا ده لکه څرنګه چې شیعه ګانو د امام حسین (رضی الله عنه) سره بې وفایي وکړه دغسې یې له تاسره هم بې وفایي وکړه.[2]

**ب: د افغانستان په قوانینو کې د مظاهرې حق**

د وخت د موجوده دولت په ضد مظاهره کول یا د دولت مخالفینو ته زمینه برابرول چې هغوی د مظاهرې له لارې خپلو شومو اهدافو ته ورسېږي دواړه جرمونه بلل کېږي، هر هغه څوک چې د مظاهرو په لاره اچوي یا ورته لمن وهي او ګډون پکې کوي ټول یې ناروا او د افغانستان په جزا کوډ کې دې ډول اشخاصو لپاره مجازات ټاکل شوي دي؛ مګر هغه څوک به د مظاهرې له مرتکبینو او مجرمینو څخه نه ګڼل کېږي چې خپل اظهارات او مظاهرې د افغانستان د موجوده قوانینو له مخې ترتیبوي دلته د افغانستان د هغې اتباعو په هکله یادونه شوې کوم چې د قانون په رڼا کې خپل اعتصابات او مظاهرې ترسره کوي چې په لاندې ډول تشریح شوي دي:

د افغانستان په قوانینو کې مظاهرې او اعتصاب کولو ته حق ورکړل شوی دی اما د قانون سره سم باید مظاهره ترسره شي، چاته په کې زیان و نه رسېږي او نه هم څوک په کې زیانمن شي، بلکې د خپل حق لپاره سوله ییزه مظاهره په لاره اچول او د هېوادوالو حقوق په پام کې نیولو سره سم مظاهره ترسره کېدای شي، اما که مظاهره د تخریب، ویجاړی، سیاسي موخې، د نظام د چپه کولو، د واک راوړلو یا نورو موخو لپاره په پام کې نیول شوي وي؛

---

[1] زید بن علی بن الحسین (۶۹۸ – ۷۴۰م/ ۸۰ – ۱۲۲ هجري قمري کې یې ژوند کړی د شیعه ګانو پنځم امام د زیدیه ډلې ګڼل کېږي، نوموړی د سجاد له زامنو څخه و هشام بن عبدالملک اموي دوه ورځې وخت ورکړی و او هغې وواژه. د هغې له مرګ وروسته د شیعه ګانو اساس رامنځته شو زیدیان هغه پنځم امام او د سجاد ځای ناستی بولي هیڅکله یې د امامت او مشرۍ لپاره هیله نه درلوده.

[2] مبارز،عبدالصبور، د اساسی قانون تحلیل او شننه، چاپ کال ۱۳۹۵هجری شمسی، سلام خپرندویه ټولنه – جلال آباد، ص ۴۶۷.

نو په دې صــورت کې دغه ډول مظاهرې د افغانســتان د جزا کوډ له مخې جرم بلل کېږي او مرتکبینو لپاره یې لاندې مجازات په پام کې نیول شوي دي:

(که چېرې د اجتماعاتو، اعتصاباتو او مظاهرو رهبري کوونکي شخص یا اشخاص د اجتماعاتو، اعتصاباتو او مظاهرو ګډون کوونکو ته له تاوتریخوالي ډکو اعمالو د اجراء دستور صادر کړي او ګډون کوونکي نوموړو اعمالو ته متوصل شي، د ضرب، جرح، قبل یا نورو مادي پایلو د ارتکاب په صــورت کې ســازمان ورکوونکي، رهبري کوونکي، امر ورکوونکي یا اجراء کوونکی د ارتکاب شوی جرم د جزا په اکثر حد محکومیږي).[1]

(۲) هغه شــخص چې د افغانســتان د اســلامي جمهوري دولت د مخالفې ډلې یا بهرني دولت په ګټه نور خلک د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت پروړاندي اجتماع، اعتصاب، مظاهرې یا تحصن ته سازماندهي، رهبري او یا امر وکړي، د طویل حبس په اکثر حد محکومیږي.[2]

(۳) که چیرې د اجتماع، اعتصاب، مظاهرې او تحصن ګډون کوونکی د دا سې شایعاتو په خپرولو لاس پورې کړي چې په ټولنه کې د ویرې لامل شي، په متوسط حبس محکومیږي.[3]

(۴) هغه شـخص چې په اجتماع، اعتصـاب، مظاهره یا تحصـن کې ناریه وسـله ولیږدوي، ددې قانون د ناریه وسـلې، مهماتو او چاودیدونکو توکو اړوندو جرمونو په فصل کې د درج شوو مجازاتو په اکثر حد محکومیږي.[4]

(۵) هغه شـخص چې په اجتماع، اعتصـاب، مظاهره یا تحصـن کې ناریه وسـله وکاروي، په هغه صـورت کې چې د خلکو د وحشت لامل شي، د متوسط حبس په اکثر حد محکومیږي.[5]

(٦) که چېري د دې مادې په ۵ فقره کې درج شــوی عمل د جرح یا قتل لامل شي، مرتکب د نوموړي فقري پر مجازاتو سربیره، د مرتکبه جرم په مجازاتو هم محکومیږي.[6]

(۷) که چېرې ســازمان ورکوونکي له لیکلې خبرتیا او له واکمنو مراجعو څخه دمخه اجازې له لرلو پرته اجتماع، اعتصاب یا مظاهره په لاره واچوي له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومیږي.[7]

د پورتنیو شــمېرو معنا دا ده هر هغه څوک چې مظاهره د ســیاسي واک او موخې یا د تخریبي اعمالو او کړنو لپاره په لاره اچوي د هغوی سزا د حبس د اکثر حد نه نیولې ان تر د شپېته زرو افغانیو پورې په جزا باندې محکومیږي

[1] جزا کوډ، ۲٦۲ نمبر ماده، لومړی بند.

[2] جزا کوډ، ۲٦۲ نمبر ماده، دویم بند.

[3] جزا کوډ، ۲٦۲ نمبر ماده، دریم بند.

[4] جزا کوډ، ۲٦۲ نمبر ماده، څلورم بند.

[5] جزا کوډ، ۲٦۲ نمبر ماده، پنځم بند.

[6] جزا کوډ، ۲٦۲ نمبر ماده، شپږم بند.

[7] جزا کوډ، ۲٦۲ نمبر ماده، اووم بند.

# درېیم فصل

## تروریزم، نسل وژنه، تېری کول او د عامه نظم او امنیت جرمونه

**په دې فصل کې لاندې مبحثونه شامل دي:**

**لومړی مبحث: تروریزم او د هغې پېژندنه**

**دویم مبحث: د نسل وژنې جرایم**

**درېیم مبحث: جنګي جرمونه**

**څلورم مبحث: په دولت باندې تېری کول**

**پنځم مبحث: د عامه نظم او امنیت په وړاندې جرایم**

## لومړی مبحث: د تروریزم پېژندنه

په بې پروایي سره د ښــاریانو او هېوادوالو وژل او د هغې ترور کولو ته چې د ســیاسي موخې لپاره ترسره کېږي ویل کېږي. دین اسلام دغه ډول عمل محکوموي د ترسره کوونکي لپاره یې د سختې سزا ورکولو امر کړی دی، هغه که د قصــاص په قانون کې دی او که د جګړې ضــد قانون کې دی او که د افغانســتان په جزا کوډ کې دی ترور یې حرام ګڼلی دی. د اسلام په تاریخ کې هم د ترور څخه د مخنیوي په هکله څو ځای خبرې شتون لري، هماغسې لکه څرنګه چې یې د مسلم بن عقیل د ځان ساتنې به هکله چې په بې پروایي سره یې عبیدالله بن زیاد وژلی و.

د نړۍ د انســانانو په افکارو کې ترور یو ډول بد او ناوړه عمل بلل شــوی دی، تروریســتان قانون ماتوونکي بلل شـوي دي د خبرو اترو پر ځای هغوی یوازې دا قصـد او اراده لري چې وحشـت، مرګ ژوبله رامنځته کړي او له دې لارې ځان سیاسي واک ته ورسوي، دین اسلام دغه ډول اعمال ډېر شدید محکوموي هغه یې حرام بللي دي او اجراء کوونکي لپاره یې ډېره سخت ترینه سزا ټاکلې ده هغه که په قصاص کې وي او که د جګړې ضد قوانینو کې وي.

**الف: د ترور د کلمې پېژندنه**

تروریزم د ترور (**Terror**) له کلمې چې د فرانسوي ژبې کله ده او د دهشت او ویرې معنا لري اخیستل شوې ده.

۱. په عربي ژبې ادبیاتو کې د ترور کلمه درې معادلې معناوې لري چې عبارت دي له: بې پروایي، ناڅاپي وژنه او په قتل رسولو ته وایي.([1])

۲. ارهاب د ویرولو په معنا او اغتیال د وژلو په معنا چې په بې پروایي یا په پټه توګه باندې وژلو ته وایي.([2])

۳. ترور په فارسي فرهنګ کې د ویرې او زیات وحشت په معنا او په سیاسي اصطلاح کې د وژلو په معنا یا د له منځه وړلو په معنا او په خلکو باندې رعب او ویره اچولو ته هم وایي.([3])

٤. د ترور د معنا او مفهوم په هکله باندې ویلای شــم: د یو هېواد په داخل کې له زور او تهدید څخه کار اخیســتلو ته وایي، په ټولنه کې د وحشــت او ویرې له منځه وړل ســیاسي تغیرات راوړل او ان تر دې پورې موجوده ټولنې کمزورې کول یا هم له منځه وړلو ته وایي.([4])

۵. په واقعیت کې ترور هغې عمل او چلند ته ویل کېږي چې د وحشت یا زور له لارې سیاسي اهدافو ته ځان ورسوي.

[1] دانشنامه سیاسی،آشوری ،داریوش،مروارید، ص ۹۸.

[2] فرهنګ اصطلاحات معاصر،میرزایی،نجف علی، دارالاعتصام، قم ۱۳۷٦هجری شمسی، ذیل کلمه فتک.

[3] فرهنګ فارسی عمید، عمید،حسن،امیر کبیر، ذیل کلمه ترور.

[4] مقاله. ( اسلام و تروریسم)، شیرودی،مرتضی، دانشکده حقوق و علوم سیاسی، سال ۱۳۸۲ هجری شمسی، شماره ۵۹، ص ۱۵۳ – ۱۷۸.

## لومړی مطلب: د تروریزم د تمویل جرم

مخکې مو د تروریزم د کلمې او لغت پېژندنه وړاندې کړه هر هغه جرم یا وژنه چې په پټه ترسره شي او موخه له دغې مړینې څخه یوازې د خلکو په زړونو کې ویره او دهشت اچول وي نو دې ډول جرمونو ته تروریزم وایي معنا دا د ټولنې امنیت ته زیان رســول او ټولنه نا امن کول خپل تروریزم بلل کېږي. د اســلام مبارک دین د دغه ډول خلکو لپاره د اشرارو کلمه کارولې یعنې څوک چې د مســلمانانو په منځ کې ویره او دهشــت اچوي په حقیقت کې دغه شخص په ټولنه کې ویره خپروي او شر ته لمن وهي نو دغه ډول شر اچوونکي انسانان د اسلام دین محکوم کړي او هغوی ته یې ســختې ســزاګانې ټاکلي لکه د قتل په مقابل کې به قصــاص کولی شي او که مســلمانانو ته په لاره کې ودرېده چې مالونه ترې واخلي که نوموړی تروریست په دغسې حالت کې د چا دلاسه مړ شي نو مرګ یې توت دی ځکه دې د ټولنې د امنیت د ګډوډ کېدو او د خلکو په زړونو کې د ویرې او دهشت اچولو په موخه سلاح را اخیستې او په عامه لارو کې ولاړ دی نو دغه ډول اشخاصو ته دین اسلام سخته جزا ټاکلې ده مګر الله تعالی خپلو بنده ګانو ته امر کوي چې تاسې د خلکو له وېرولو څخه ډډه وکړئ که د تروریزم د تمویل څخه مو موخه پیسې په لاس راوړل وي الله تعالی په ځمکه کې نورې حلالې لارې او طریقې پیداکړي هغه ولټوئ او دغه لټون د الله تعالی له لورې یو فضل او مهرباني ده په دې هکله الله (جل جلاله) په قرآن کریم کې فرمایلي دي:

**﴿وَلَقَدْ كَرَّمْنا بَني آدَمَ وَحَمَلْناهُمْ في الْبَرِّ وَ الْبَحْرِ وَ رَزَقْناهُمْ مِنَ الطَّيِّباتِ وَ فَضَّلْناهُمْ عَلى كَثيرٍ مِمَّنْ خَلَقْنا تَفْضيلاً﴾**.[1]

ژباړه: دا خو زموږ پېرزوېینه ده چې بنیادم ته مو لویي ورکړه، به وچه او په لمده کې مو ســپرلی ورکړي او له پاکو شیانو څخه مو روزي ور په برخه کړه او پر خپلو زیاترو مخلوقاتو مو ښکاره لوړتیا ور وبخښله.

په پورته آیت کې د انسان اصل کرامت او د مال او ځان حرمت په ښکاره ډول څرګندیږي ځکه دین اسلام د انسانانو مالونو او ځانونو ته ډېر ارزښت ورکړی دی په هیڅ صورت اجازه نه ورکوي چې دغه اصل دې د یو شخص یا یوې ډلې په واســطه له خطر سره مخ شي، دین اســلام په خپلو وضــع کړو قوانینو کې د انســان قتلولو حرمت او د خلکو د آزار، غلا، مالي او ځاني امنیت ته خطر پېښول او د انسانانو ټولنیز ژوند ته نظر کړی دی، د اسلام مبارک دین له دې څخه هم ډېر ضــعیف ترینو مســایلو ته پاملرنه کړې ده ان تر دې چې د خلکو ویرول او هغې ته اذیت او ازار ورکولو ته یې هم پاملرنه کړې ده.

په پورتنیو آیتونو کې د انسان د ویرولو او دهشت اچولو په ځای د هغې د عزت او وینې د حرمت په هکله ویل شوي دي چې انسان ډېر په ښکلي شکل او عزت سره پیدا شوی د هغې قدر او احترام وکړئ هغې ته په لاره کې مه

[1] سوره اسراء، آیه نمبر ۷۰.

ودرېږئ او هغوی مه ویروئ دهشتونه ورته په زړه کې مه اچوئ، هغه مه وژنئ بلکې مرسته او همکاري ورسره وکړئ نو څوک چې د الله تعالی له نصوصو څخه انکار کوي دا شخص لوی مجرم او تروریست دی چې د تروریست لپاره بیا بېلا بېل ډوله مجازات ټاکل شـوي دي. په دې اړه د رسـول الله (صـلی الله علیه وسـلم) په یو حدیث کې دا دول یادونه شوې ده:

«مَنْ نَظَرَ اِلّی مُوْءِمِنٍ نَظْرَةً لِیُخِیفَهُ بِهَا أَخَافَهُ اللهُ عَزَّ وَ جَلَّ یُوْمَ لاَ ظِلَّ اِلاَّ ظِلُّهُ».([1])

ژباړه:هر هغه څوک چې یو مسلمان ورور ته په دې نظر سره وګوري چې هغه وویروي الله تعالی به دغه ډول انسانان په هغه ورځ چې هیڅ پټېدونکی شی په کې موجود نه وي وویروي.

د پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) په دې خبرو کې چې تر ډېره د ترور د حراموالي نښانې له ځان سره لري په کې شتون لري، څکه رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي:( کله چې زه د معراج په شپه کې اسمان ته تللی وم داسې څه مې ولیدل چې د هغې په هکله مې پوښتنه وکړه چې دا څه شی دي راته وویل شول چې دا د اخري زمانې نښانونه او علامې دي).

« ... قُلْتُ اِلَهِی فَمَتَی یَکُونُ ذَلِک فَأَوْحَی اِلَیَّ عَزَّ وَجَلَّ یَکُونُ ذِلِکَ اِذَا رُفِعَ الْعِلْمُ وَظَهَرَ الْجَهْلُ وَ کَثُرَ الْقُرَّاءُ وَ قَلَّ الْعَمَلُ وَ کَثُرَ الْفَتْک...».([2])

ژباړه: پوښـتنه مې وکړه چې اخري زمانه کوم وخت دی؟ الله تعالی راته وویل: اخر وخت هغه دی چې علم له خلکو څخه پورته شي او جهل او ناپوهي په خلکو کې راښکاره شي، د قرآن کریم قاریان به ډېر شي خو عمل به یې پرې نه وي عمل به زیاتوالی وکړي مګر د قبلېدو وړ به نه وي او ترور به هم زیات شي.

د ا سلام په مبارک دین کې او په ا سلامي تاریخ کې هم دترور څخه د مخنیوي په موخه څو بېلګې شتون لري، د مثال په توګه د مسـلم بن عقیل([3]) ځان سـاتنه چې په بې پروایي سره یې عبیدالله بن زیاد([4]) واژه تاریخ لیکونکو په

---

[1] جامع الترمذي، مرفوع: جلد ۲: صفحه ۵۷۵، حدیث نمبر ۱۳۰٦. أبواب: البیوع عن رسول الله صلی الله علیه وسلم – باب: ما جاء في انظار المعسر – والرفق به.

[2] بحارالأنوار، مجلسی ،محمد باقر،دار احیاء التراث العربی، بیروت، ۱۴۰۳ قمری،چاپ دوم، ج ۵۲، ص ۲۷۷.

[3] مسـلم بن عقیل چې د عقیل بن ابي طالب زوی و د حسـین بن علي د ترور زوي په ٦۳۲ میلادي کال په مدینه کې زیږېدلی او په ٦۸۰میلادی کال د ۴۸ کلونو په عمر د عرفې په ورځ د ذی الحجې په نهمه نېټه په کوفه کې وفات شوی دی او د کوفې په مسجد کې دفن شوی دی عبدالله بن مسلم بن عقیل یې زوی و نوموړی د علی ابن ابی طالب د وراره و د حسین بن علی سفیر و په کوفه کې د عاشورا په ورځ یې د خلکو د بیعت حالت څارل.

[4] عبید الله بن زیاد بن ابیه چې په ابن زیاد باندې مشـهور دی په ۲۸ هجري قمري کال زیږېدلی او په ٦۷ هجري قمري کال وفات شـوی دی د امویانو مشـهور خبر ورکوونکی و د حسـین بن علی د اصـلي وژونکو عواملو څخه و نوموړی د مرجانه نومې ښـځې څخه زیږېدلی و ځینو بیا ابن زیاد ته د ډېر ګران والي په وجه ابن مرجانه لفظ کاروه.

تاریخ کې لیکلي دي، هر کله چې عبيدالله د شریک بن أعور[1] کور ته د هغې د پوښــتنې لپاره ورځې نو شریک ورته وړاندیز کوي چې مسلم د پردې تر شاه کمین نیولی دی په دغه وخت کې ابن زیاد ځینې علامې او نښې مسلم ته بیانوی( د اوبو په غوښـتلو سره شریک مسـلم له کمین څخه رابهر کوي او عبيدالله ابن زیاد په قتل باندې رسـوي، ابن زیاد یې کورته راغی هر کله چې یې د شریک نه اوبه وغوښــتلی مســلم د نقشــې د ترسره کولو لپاره له پټن ځای څخه بهر راغللی تر دې چې ابن زیاد د شریک نه د خطر احساس وکړلو د هغه له کور څخه راووتلو له هغې وروسته یې د مسلم نه پوښتنه وکړه چې ولې دې طرحه عملي نه کړه؟ ویې ویل په دې وجه چې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) نه نقل شوي دي چې:

**«اِنّ الاِیمانَ قَیَّدَ الُفتکَ، و لا یَفْتِکُ موءِمِنٌ».**[2]

ژباړه: ایمان د بې پروایي وژنې څخه منع کوونکی دی.

د هغې ډلې څخه چې ذکر شول، په اسلام کې ترور منع اعلان شوی دی د هغې انسانانو لپاره چې په ترور سره نور انسانان وژني د قصاص او د جګړې په ضد قانون کې د هغې لپاره سخته سزا په نظر کې نیول شوې ده په اسلام کې جګړه هغې نخښــتې ته ویل کېږي چې په وســلواله توګه د ځاني او مالي امنیت او حقوقو اخیســتلو په خاطر له ښاریانو سره ترسره کېږي.

په دې هکله په بل ځای کې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي:

**«عن عمرو بن قیس قال: وَفَدْتُ مع أَبي إِلی یزید بن معاویة بحوارین حین توفيَّ مُعاویة رضي الله عنه، نُعزَّیه ونُهنَّیهِ بالخلافة، فإِذا رجلٌ فِي مسجدها یقولُ: ألا إِن من أشراط الساعة أن یرفع الأشرار ویوضع الأخیار، ألَّا إِنَّ من أشراط الساعة أن یظهر القول ویخزن العمل، ألا إِن من أشراط الساعة أن تُتْلَی المثناة فلا یوجدُ من یَغیَّرُهَا. قیل له: وَمَا المثناة؟ قال: ما اســتُکتِبَ من کتابِ غیر القرآن، فعلیکم بالقرآن؛ فبه هُدیتُم، و به تجزون، و عنه تســألون. فلم أدر من الرجل، فحدثتُ هذا الحدیث بعد ذلک بحمص، فقال لي رجُلٌ من القوم: أوما تفرفه؟ قلت: لا. قال ذلک عبدالله بن عمرو».**[3]

ژباړه: عمرو بن قیس وایي: زه راغلم د خپل پلار نه یزید بن معاویه سره په حوارین مقام کې کله چې وفات شــوی و معاویه رضــی الله عنه، موږ د هغې تعزیه کوله او یزید ته مو مبارکي د خلافت ویله، ناڅاپه په جومات کې یو ســړی

---

[1] شریک بن أغور په (٦٠ قمري) کال کې تېر شوی دی د بصرې د لومړني قمري پېړی له اشرافي خلکو څخه ګڼل کېده، نوموړی د امویانو په خلافت کې د سني منابعو واکمن هم و په جنګ جمل او جنګ صــفین کې علی رضــی الله ملګری و نوموړی د عاشــورا د واقعې له رامنځته کېدو څخه مخکې اراده درلوده چې د عبيدالله بن زیاد په ترور کولو سره امام حسین ونیسي او حکومت هغه ته وسپاري.

[2] مسند أحمد، مرفوع: جلد ۳، صفحه ۴۱ حدیث نمبر ۱۴۲۶ و ۱۴۲۷ مسند الزبیر بن العوام رضی الله عنه.

[3] مسند الدارمي، موقوف: مجلد ۱، صفحه ۴۲۳ حدیث نمبر ۴۹۳ المقدمه – باب: من لم یر کتابة الحدیث.

راغلی او ويې ويل: يعنې د قيامتو د نښــو نه يوه دا ده چې شر کوونکي انســانان به اوچت شي، يعنې لوړې مرتبې به ورکړل شي، او ښـکته به شي غوره خلک يعنې د قيامت د نښـو نه ځينې يې دا چې وينا به ښـکاره شي او عمل به پټ شي يعنې عمل به څوک نه کوي او ځينې د قيامت د نښـو نه چې لوســتلی به شي مســناد يعنې نه به شي موندلی هغه څوک چې په دغې مسناد کې تغير راولي، وويل شو دې ته، چې مسناد څه شی دی؟ هغه دی چې ليکل شوی وي يو کتاب د قرآن نه بغير قرآن طرف ته به توجو نه وي د قرآن نه غير نور کتابونه به لو ستل کېږي. نو لازم دی په تا سې باندې قرآن په دې سره تاسو ته سمه لار ښودلی شوې ده، په دې باندې تاسې ته بدله درکېدلی شي، که عمل مو پرې وکړ ښايسته بدله او د دې په باره کې به له تا سو نه تپوس کېدلی شي. زه پوهه نه شوم چې دغه سړی څوک و؟ نو بيا مې دا حديث بيان کړه.دا و يو ســړی د قوم زموږ نه يا د فرقې زموږ نه؟ بيا ورته وويل شــو، چې نا بلکې وو دا ســړی عبدالله بن عمرو.

بل حديث کې راغلي دي:

**«خطبنا علي رضـــى الله عنه – أو قال: قال علي - : يأتي علي الناس زمان عضـــوضٌ، يعضُّ الموسرُ على ما في يديه، قال: ولم يومر بذالک، قال الله عز وجل: [وَلَا تَنْسَــوُا الْفَضْــلَ بَيْنَكُمْ]، وَينهدُ الأشرارُ، وَيُســتذلُّ الأخيار، وَيُبايع المضطرون، قال: وقد نهی ر سول الله صلى الله عليه و سلم عن بيع المضطرين، وعن بيع الغرر، و عن بيع الثمرةِ قبل أن تُدرکِ».**[1]

ژباړه: موږ ته علي رضي الله عنه تقرر وکړ يا يې داسې وويل يعنې تقرير يې وکړ: را به شي په خلکو باندې داسې يوه زمانه چې چيچونکي به وي، چک به لگوي مالداره سړی په هغه څه باندې چې د ده په لاســونو کې دي. خو په دې باندې به ورته امر نه وي ورکړل شــوی ځکه الله تعالی ويلي دي: تاســو مه هېروئ فضــل يعنې د يو بل سره نيکي او فضـــل کوئ، او اوچت به شي شررناک خلک، او ذليله به کړای شي غوره خلک، او اخيســـتل خرڅول به کوي هغه خلک چې هغوی مجبوره وي، علي رضي الله عنه وويل: رسول الله صلى الله عليه وسلم منع کړې ده د بيع د مجبوره خلکو نه، او د بيع د دوکې نه او د خرڅولو د مېوې نه هغه چې پخه شوې نه وي او خرڅه شي.

دلته په دې ځای کې د مالداره خلکو چک لگول په غريبو باندې يا د خلکو د مجبورئ نه بده استفاده کول ټول هغه مسائل او موضوعات دي چې تروريزم پالل کېږي يعنې په تروريزم کې هم مالداره خلک په غريبو باندې زور او ظلم زياتی کوي هغوی په يو چل او دوکې سره تېرباسي او جگړې کولو ته يې هڅوي.

د الهي عذاب او جزا سربېره د تروريستي انسانانو او د تروريزم د مرتکبينو لپاره د افغانستان په جزا کوډ کې هم يو لړ مجازات ټاکل شوي دي، چې په لاندې توگه راوړل شوي:

---

[1] مســند أحمد، مرفوع: جلد ۲ صــفحه ۲۵۲ حديث نمبر ۹۳۷ مســند علي بن أبي طالب رضـــى الله عنه. ســنن أبي داود، كتاب البيوع –والاجارات: باب: في بيع المضطر، حديث نمبر ۳۳۸۲.

(۱) شــخص هغه وخت د تروریزم د تمویل د جرم مرتکب پیژندل کیږي چې وجوه، شــتمني یا مال خدمتونو پردې باندې د علم یا خبرتیا د لرلو سربیره چې نوموړي وجوه، شــتمني یا خدمتونه قســمًا یا کلاً له لاندې جرمونو څخه د دیوه د ارتکاب په مقصد استفاده کیږي، په مستقیمه یا نامستقیمه توگه عمدآ برابر یا راټول یا ورکړي او یا یې په هغو پیل کړي وي:

۱- په دې قانون کې درج شوي تروریستي جرمونه.

۲- هغه عمل چې د وسله والې شخړي په بهیر کې د هغو ملکي اشخاصو یا نورو اشخاصو د وژنې یا شدید جسمي ټپ د واردیدو لامل شي چې په وسله والو شخړو کې فعال گډون نلري، په دې شرط چې له هغو څخ موخه په ټولنه کې د ویري او ډار رامنځته کول یا دولت یا بین المللي سازمان د یوه عمل اجراء څخه ډډې کولو ته مجبورول وي.

(۲) شخص په لاندې حالاتو کې هم د تروریزم د تمویل د جرم مرتکب پیژندل کیږي:

۱- په هغه صــورت کې چې د دې مادې د ۱ فقري په اجزاوو کې د درج شــوي جرم په ارتکاب کې یې گډون یا معاونیت کړی وي.

۲- نور اشخاص چې د دې مادې په ۱ فقره کې د درج شوی جرم د ارتکاب په غرض سازماندهي، کمک یا ذده کړه ورکړي وي .

۳- په دې ماده کې د درج شــوي یوه یا له یوه څخه د زیاتو جرمونو په ارتکاب کې د داســې اشــخاصــو له ډلې څخه چې په گډې موخې سره د دې مادې په ۱ فقره کې د درج شوي جرم د ارتکاب لپاره فعالیت کوي، د جرم د ارتکاب په اړه د هغوی له موخې څخه د علم له لرلو سره سره، همکاري وکړي یا د هغوي د موخو د ترسره کیدو یا د فعالیت د پرمخ بیولو لپاره لازمي اسانتیاوي برابرې کړي.

(۳) د تروریزم د تمویل عمل له هر مکان او دهر دولت په قلمرو کې چې ترسره شي او یا یې د ترسره کولو قصــد شــتون وومي، دې ته په کتو پرته چې نوموړي شــخص یا ســازمان په کوم مکان یا د کوم دولت په قلمرو کې موجود دی یا موقعیت لري، جرم پیژندل کیږي، خو دا چې :

۱- تروریستي جرم بالفعل واقع شوی نه وي یا په هغه پیل صورت نه وی موندلي.

۲- د پام وړ له مالي وجوهو څخه بالفعل د تروریــستي جرم په ترسره کولوکې گټه اخیستل شوې نه وي یا په دې برخه کې هڅې صورت نه وي موندلی.

۳- د نوموړو مالي وجوهو او تروریستي جرم ترمنځ کومه اړیکه شتون ونلري.

۴- ســیاسي، عقیدتي، نژادي، قومي او مذهبي یا ورته نور موارد په دې ماده کې د درج شــوو جرمونو د ارتکاب د مشروعیت دلیل نه پیژندل کیږي.

(۵) وجوه یا شــتمني د دې مادې په مفهوم عبارت ده له هر ډول منقولې او غیرمنقولې شــتمنۍ او د الکترونیکي او ډیجیټلي سندونو په شمول له قانوني سندونو یا مدارکو څخه چې په شتمنیو کې مالکیت یا د ګټو درلودل ثابت کړي ([1]).

## دويم مطلب: د ترورېستي سازمان مجازات

لکه چې په مخکیني عنوان کې یې یادونه وشــوه، چې تروریزم او ترورېســتي اعمال د اســلامي شریعت له نظره جرمونه ګڼل کېږي او مرتکب ته یې په اســلامي شریعت کې هم مجازات ټاکل شــوي دي او هم د افغانســتان په جزا کوډ کې د ترورېستي ډلې مجازات په لاندې توګه تشریح شوي دي:

(۱) هغه شخص چې په دې فصل کې د درج شوو جرمونو د ارتکاب په منظور ترورېستي سازمان تشکیل، نظارت یا رهبري کړي، یا اشخاص استخدام کړي، په ۱ درجه دوام حبس محکومیږي.([2])

(۲) هغه شخص چې د ترورېستي سازمان غړیتوب یې ترلاسه کړی وي، د طویل حبس په مجازاتو محکومیږي.([3])

(۳) که چېرې ددې مادې په ۲ فقره کې درج شــوی شــحص د بل جرم مرتکب شي ، د مرتکبه جرم په جزا هم محکومیږي.([4])

(۴) هغه شــخص چې د ترورېســتي اعمالو د برنامه ریزۍ یا په هغو کې د ګډون، د ترورېســتي زده کړو د ورکولو یا ترلاســه کولو په منظور یا بل هر ډول د ترورېســتي اعمالو د آســانه کولو لپاره دننه شي یا له هیواد څخه بهر ته ســفر وکړي یا په سفر اقدام وکړي یا د سفر زمینه برابره کړي وي، په طویل حبس محکومیږي.([5])

(۵) که چېرې په دې فصل کې د درج شوو جرمونو مرتکب بهرنی تبعه وي په ۱ درجه دوام حبس محکومیږي.([6])

هر هغه څوک چې ترورېســتي ډلې یا ســازمانونه جوړوي، یا یې د جوړونې لپاره نظریه ورکوي او یا یې رهبري کوي د افغانســتان د جزا کوډ له مخې دغه ډلې، ســازمانونه او رهبري کوونکي مجرمین دي او اعمال یې جرمونه دي چې د لومړۍ درجه دایمي بند څخه نیولې ان تر اوږدې مودې بند باندې محکومیدای شي.

### الف: د اسلامي شریعت له مخې د ترور مجازات

د تروریزم د کلمې شننه او پېژندنه په مخکیني برخې کې وشوه هلته وویل شو الله تعالی فرمایلي دي چې تاسې مســـلمانان مه وژنئ، هغوی ته په لاره کې مه ودرېږئ، د هغوی مالونه په زور مه اخلئ، د هغوی په زړه کې ویره مه

---

[1] جزا کود، ۲۷۹ نمبر ماده.

[2] جزا کوډ، ۲۷۷ نمبر ماده، لومړی بند.

[3] جزا کوډ، ۲۷۷ نمبر ماده، دویم بند.

[4] جزا کوډ، ۲۷۷ نمبر ماده، دریم بند.

[5] جزا کوډ، ۲۷۷ نمبر ماده، څلورم بند.

[6] چزا کوډ، ۲۷۷ نمبر ماده، پنځم بند.

اچوئ، په ټولنه کې دهشـــت او ویره مه خوروئ؛ نو چې د الله تعالی دغه ارشـــادات څوک نه مني او د دې صریحو نصوصو سره بیا هم دغه ډول کارونه سرته رسوي دا شخص مجرم دی د اسلامي شریعت له نظره ورته تروریست ویل شوی او د ترور مجازات په بېلا بېلو شکلونو تشریح شوي دي یو له هغې نه په قصدي او عمدي توگه قتل کول دي څکه د تروریســتانو هدف هم د مســلمانانو وژل او په زور ترې مال او دولت اخیســتل وي، اما دا هم باید له یاده ونه باسـو چې د قصـدي قاتل لپاره الله تعالی په خپل کتاب قرآن کریم په څینو آیتونو کې د وژلو په هکله امر شـوی دی دا هغه خلک دي چې د ټولنې امنیت اخلالوي او مســلمانان په ناحقه سره وژي او د ټولنې امنیت ته ترې خطر موجود وي، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿**یا أَیُّهَا الَّذینَ آمَنُوا کُتِبَ عَلَیْکُمُ الْقِصاصُ فِي الْقَتْلي**﴾.([1])

ژباړه: ای مومنانو! ستاسې لپاره د قتل په دعواوو کې د قصاص حکم لیکل شوی دی.

همدارنگه په بل ځای کې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿**اِنَّمَا جَزاءُ الَّذینَ یُحارِبُونَ اللهَ وَ رَسُــولَهُ وَ یَسْــعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَســاداً أَنْ یُقَتَّلُوا أَوْ یُصَــلَّبُوا أَوْ تُقَطَّعَ أَیْدیهِمْ وَ أَرْجُلُهُمْ مِنْ خِلافٍ أَوْ یُنْفَوْا مِنَ الْأَرْضِ ذلِکَ لَهُمْ خِزْيٌ فِي الدُّنْیا وَ لَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذابٌ عَظیمٌ**﴾.([2])

ژباړه: کوم خلک چې له الله او د هغه له پیغمبر سره جنگیږي او په ځمکه کې د دې لپاره منډې ترړې کوي چې فساد راولاړ کړي؛ نو د هغو سزا دا ده چې ووژل شي، یا په دار وځړول شي، یا یې لاسونه او پښې ردو بدلې غوڅې کړای شي، یا له وطنه وشـړل شي. دا ذلت او سـپکاوی خو د هغو لپاره په دُنیا کې دی او په اخرت کې د هغو لپاره له دې څخه هم لویه سزا ده.

په دې آیت کې د قصاص او جگړې قوانینو ته ا شاره شوې د ځاني ارامتیا او سکون لپاره او د ټولنې د وضعش یو قوانینو له مخې چې په دین اسلام کې یې امنیت په مکمل ډول تضمین شوی دی ښکاره توگه باندې قصاص کول د قانوني مجازاتو یوه لاره ده، د دې آیت په شان نزول کې دا هم راغلي دي چې ډلې ډلې مشرکان د رسول الله (صلی الله علیه وســلم) خواته راغلل او دین اســلام یې قبول کړ. مگر د مدینې د هوا د نابرابروالي له امله هغوی په مرض باندې اخته شـول؛ بیا رسـول الله (صـلی الله علیه وسـلم) هغوی ته امر وکړ چې د مدینې څخه بهر سـیمې ته د ژوند کولو لپاره ولاړ شي او هلته اوسېدونه بیل کړي؛ مگر هغوی په بېرته تگ کې د منې پرخای د مسلمان شپونکي پښې او لاسـونه قطع کړل او د ځان سره یې یوړل، سـترگې یې ورته ړندې کړلې او هغه یې وواژه. بیا رسـول الله (صـلی الله

[1] سورة البقره، آیت نمبر ۱۷۸.

[2] سوره مائده، ایه نمبر ۳۳.

علیه وسلم) دستور ورکړ چط هغوی دې ونیسي او قصاص دي کړي، ترڅو نورو مشرکانو لپاره د عبرت لامل شي.([1])
په دې آیت کې د ټولنې د تکلیف په مقابل کې چې په وسلواله توگه د ټولنې امنیت گډوډ کوي اشاره شوې ده.

معنا دا هر هغه څوک چې د مسـلمانانو په ټولنه کې دهشـت او ویره خپروي او مسـلمانان ویروي او له هغوی نه مالونه په زور سره اخلي دغه ډول خلک تروریستان دي او الله تعالی د دغې خلکو د وژلو امر کړی ځکه په لاره کې ودرېدل او خلک ویرول او مالونه ترې اخیســتل یو ډول جرم دی چې قطاع الطریق بلل کیږي که دغه قطاع الطریق چا ووژل مرگ یې توت دی. مگر د کفارو او یهودو او نصـــاراوو وژنه بیا جواز لري په دې هکله پیغمبر (صـــلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي:

«**مَنْ ظَفَرْتُمْ بِهِ مِنْ رِجَالِ يَهُودَ فَاقْتُلُوهُ**».([2])

ژباړه: د یهودانو هر مشر او رهبر ته چې تاسې لاسرسی پیداکړ هغه ووژنئ!

تاریخ لیکونکي د پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) په هکله لیکی: یوه ډله یې د کعب بن اشرف خواته ولېږله او هغه یې وواژه.

دا واقعه د ترور یو ډول دی خو دلته د ر سول الله ( صلی الله علیه و سلم) امر کول د کعب بن اشرف د وژلو لپاره ترور نه دی ځکه هغه خلک چې د دین ا سلام خلاف دي او دیني شعایرو سره مخالفت کوي هغوی باید ووژل شي دلته د رسول الله (صلی الله علیه و سلم) امر کول د یو شخص په وژلو ځکه واقع شوی دی چې دغه وژل کېدونکی شخص مجرم دی جرم یې د دې وړ دی چې هغه باید ووژل شي او بل دا چې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) امر په پټه نه دی ترسره شوی بلکې په ښکاره یې امر کړی دی.

کعب بن اشرف([3]) یو جاهل او ناپوهه شاعر و د بنی نضیر له قبیلې څخه و د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) او یارانو په هکله به یې بدل ویل مـشرکانو به هغه تحریک کاوه کعب به د مـسلمانانو ښځو پسې بد ویل او د ر سول الله (صلی الله علیه وسلم) بې بیانې به یې هم غندلې د مسلمانانو د ښځو پسې به یې توهیني اشعار ویل. په همدې اساس نوموړی د مسـلمانانو ټولنې ته یو ډول خطر گڼل کېده. بغیر له دې چې هغه د رواني امنیت د خرابوالی لامل شـوی و په مدینه کې د مـشرکینو پنځمه قوي ستن هم گڼل کېده مشرکین به یې په مکې باندې حملې کولو ته تحریک کول د احد له پېښې نه وروسته کعب بن اشرف د مکې خلکو ته وړاندیز وکړ چې درې تنه به زموږ نه او درې تنه به ستا سو

[1] تفسیر نمونه، آیت الله العظمی مکارم شیرازی، ناصر ،دارالکتب الاسلامیه، ج ۴، ص ۳۵۹.

[2] سنن أبي داود، کتاب: الخراج، والامارة، والفيء - باب: کیف کان اخراج الیهود من المدینة، جلد ۳ ، صفحه ۲۶۷. حدیث نمبر ۳۰۰۲.

[3] کعب بن اشرف د یهودانو یو له شـتمنو مشرـانو څخه و او په مدینه کې د رسـول الله (صـلی الله علیه وسـلم) د مخالفانو څخه و پلار یې د بنی نبهان له طی قبیلې څخه و او مور یې د سلام بن ابوحقیق خور وه چې ټول د نبي نـضیر قبیلې مـشران و. د مـسلمانانو ښځو د توهین په هکله به یې ا شعار ویل د ر سول الله او د هغه د ملگرو بدي به یې بیانوله، نور خلک به یې هم د هغوی په وړاندې تحریکول د تبلیغاتي برخې نه علاوه یې د مســلمانانو په مقابل کې په تجارتي او اقتصــادي برخه کې هم مخالفت کاوه. د وژنې تاریخ یې دیرشم هجري کال د ربیع الاول د میاشتې څوارلسمه نیټه بلل کیږي.

نه کعبې خواته لاړشو، خپلې خپتې به د کعبې په دېوال باندې کېږدو او د الله تعالی نه به غوښتنه وکړو چې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په مقابل کې په جنګ کې وروسته والی و نه کړو، دا هغه مهال و چې د بني نضیر یهودیانو د پېغمبر (صلی الله علیه وسلم) سره تړون کړی وو چې د دشمنانو سره به یې کمک نه کوي اما کعب دغه تړون تر پښو لاندې کړ نو حتماً باید سخت مجازات ورته ورکړل شوی وای ځکه هغه د مسلمانانو په مقابل کې رواني جنګ ته خلک دعوت کول.([1])

**ب: د افغانستان د قوانینو له مخې د ترور مجازات**

د افغانستان د جزا کوډ له نظره د ترور مجازات په دوه برخو باندې ویشل شوي دي:

۱- حقیقي شخص مجازات

۲- حکمي شخص مجازات

د تروریزم د تمویل د جرم مرتکب وجوهو، شتمني یا د تمویل شوو خدمتونو ارزښت ته په کتو، له احوالو سره سم په لاندې توګه مجازات کیږي:

۱- په هغه صورت کې چې د وجوهو، شتمنی یا تمویل شوو خدمتونو دارزښت اندازه تر لسو زرو افغانیو پورې وي، په قصیر حبس او د وجوهو،شتمنی او تمویل شوو خدمتونو دارزښت په دوه چنده نغدي جزا.([2])

۲- په هغه صورت کې چې د وجوهو، شتمنی یا تمویل شوو خدمتونو دارزښت اندازه تر لسو زرو افغانیوڅخه زیات تر سلو زرو افغانیو پورې وي، له دریو کلونو څخه زیات په متوسط حبس او د وجوهو، شتمنی یا تمویل شوو خدمتونو ارزښت په معادل نعدي جزا.([3])

۳- په هغه صورت کې چې د وجوهو، شتمنی یا تمویل شوو خدمتونو دارزښت اندازه له سلو زرو افغانیوڅخه زیات تر یو میلیون افغانیو پورې وي، تر لس کلونو پورې په طویل حبس او د وجوهو، شتمنی یا تمویل شوو خدمتونو د ارزښت په معادل تغدي جزا.([4])

۴- په هغه صورت کې چې د وجوهو، شتمنی یا تمویل شوو خدمتونو دارزښت اندازه تر یو میلیون افغانیوڅخه زیاته وي، تر لس کلونو زیات په طویل حبس او د وجوهو، شتمنی یا تمویل شوو خدمتونو د ارزښت په معادل نغدي جزا.([5])

[1] رک: تفسیر نمونه،آیت الله العظمی مکارم شیرازی، ناصر،دارالکتب الاسلامیه، ج ۳، ص ۲۰۳ و ۴۱٦ – ۴۱۷.

[2] جزا کوډ، ۲۸۰ نمبر ماده، لومړی بند.

[3] جزا کوډ، ۲۸۰ نمبر ماده، دویم بند.

[4] جزا کوډ، ۲۸۰ نمبر ماده، دریم بند.

[5] جزا کوډ، ۲۸۰ نمبر ماده، څلورم بند.

د حقیقي ترورېست شخص مجازات چې په پورته څلورو شمېرو کې تشریح شوي دي معنا دا که ترورېست د لسو زرو افغانیو په اندازه جرم وکړي نو د هغې دوه چند به ترې اخیستل کېږي، که جرم يې د لسو زرو افغانیو څخه زیات ارزښت لرونکی وي نو معادل نقدي سزا به ورکول کېږي او درې کلونه به بندي کېږي هم، که چیرې د ترورېست جرم د سل زرو افغانیو څخه تر یو میلیون پورې وي نو بیا معادل نغدي سزا او لس کلونه بند تېرول به هم ورکول کېږي او که ترورېست د یو میلیون څخه د زیات ارزښت په اندازه جرم باندې مرتکب شي نو د زیان معادل نغدي مجازات به هم ورکول کېږي او په اوږده بند باندې به محکومېږي.

د حکمي شخص مجازات:

(۱) که چیرې د تروریزم د تمویل جرم د حکمي شخص د مؤ سس، رئیس، ممثل، قانوني ا ستازي یا کارکوونکي په واسطه د حکمي شخص په نوم او حساب ارتکاب شي، مرتکب د وجوهو، شتمنۍ او یا د تمویل شوو خدمتونو ارزښت ته په کتو له احوالو سره سم په لاندې توګه مجازات کیږي:

۱- په هغه صورت کې چې د وجوهو، شتمنۍ یا تمویل شوو خدمتونو دارزښت اندازه تر لسو زرو افغانیو پورې وي، د سلو زرو افغانیو په نغدي جزا.(۱)

۲- په هغه صورت کې چې د وجوهو، شتمنۍ یا تمویل شوو خدمتونو دارزښت اندازه له لسو زرو افغانیوڅخه زیات تر سلو زرو افغانیو پورې وي، د یو میلیون افغانیو په نغدي جزا.(۲)

۳- په هغه صورت کې چې د وجوهو، شتمنۍ یا تمویل شوو خدمتونو دارزښت اندازه له سلو زرو افغانیوڅخه زیات تر یو میلیون افغانیو پورې وي، د لسو میلیونو افغانیو په نغدي جزا.(۳)

۴- په هغه صورت کې چې د وجوهو، شتمنۍ یا تمویل شوو خدمتونو دارزښت اندازه له یو میلیون افغانیوڅخه زیاته وي، دوجوهو د شتمنۍ یا تمویل شوو خدمتونو د ارزښت په دوه چنده.(٤)

(۲) حکمي شخص د دې مادې په ۱فقره کې پر درج شوو مجازاتو سربیره له لاندې مجازاتو څخه په یوه هم محکومېدای شي:

۱- د اړونده فعالیتونو د ټولو یا یوې برخې له مستقیم او یا غیر مستقیم پرمخ بیولو څخه دایمي یا مؤقت ممنوعیت.

۲- له عین عمارتي وادنې او په عین هغه هدف چې د مخه تر ګټې اخیستني لاندې وو د ګټې اخیستنې نه اجازه .

---

[۱] جزا کوډ، ۲۸۱ نمبر ماده، لومړی بند.

[۲] جزا کوډ، ۲۸۱ نمبر ماده، دویم بند.

[۳] جزا کوډ، ۲۸۱ نمبر ماده، درېیم بند.

[٤] جزا کوډ، ۲۸۱ نمبر ماده، څلورم بند.

۳- انحلال په هغه صورت کې چې د هغه له تآسیسدو څخه موخه، په دې فصل کې د درج شوو جرمي فعالیتونو ارتکاب وي.

۴- د ټولنیزو رسنیو له لارې د حکم خپرول.

(۳) په دې ماده کې د درج شوو نغدي جزاګانو تعمیل، د ترورېزم د تمویل د جرم په اړه پر حکمي اشخاصو باندې په اړوندو تقنیني سندونو کې درج د مجازاتو د تطبیق او د زیان د جبران خنډ نه کېږي.[1]

که چیرې د ترویزم جرم ترسره کوونکی حکمي شخص وي نو بیا په پورته شمېرو کې په نغدي مجازاتو باندې محکومېږي.

## دریم مطلب: د تزویري اسنادو وړاندې کول

د فقهاوو په اتفاق سره مکر او فریب حرام ګڼل کېږي، جمهور علماء کرام وایي مکر او فریب دواړه له کبایرو ګناهونو څخه شمېرل کېږي ځکه اکثره شیان یې داسې دي چې د الله تعالی سره د شریک جوړولو یا بودتانو عبادت کول دي.[2] د مکر او فریب دغه حرمت په قران کریم، نبوي سنتو او عقل سره حرام ثابت شوی چې په دې توګه الله تعالی په قران کریم کې فرمایي:

﴿**فاجْتَنِبُوا الرِجْسَ مِنَ الْأَوْثَانِ وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّور**﴾.[3]

ژباړه: پرته له هغو ځارویو څخه چې تاسو ته حرام ګرځول شوي دي، نو د بتانو له پلیتی څخه ځان و ساتئ او له درواغو ویناوو څخه ډډه وکړئ.

بل ځای کې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿**وَقَالَ الَّذِينَ كَفرُوا اِنْ هَذَا اِلَّا اِفْكٌ افْتَرَاهُ وَأَعَانَّهُ عَلَيْهِ قَوْمٌ اخَرُونَ فَقَدْ جَاءُوا ظُلْماً وَزُورا**﴾[4].

ژباړه: او کومو کسانو چې د پېغمبر (صلی الله علیه وسلم) د خبرې د منلو څخه انکار کړی دی، هغوی وایي: دغه قُران له ځانه جوړ کړی شوی شی دی، چې دغه سړي په درواغو رامنځ ته کړی دی او ځینو نورو خلکو په دې کار کې له ده سره مرسته کړې ده، لوی ظالم او سخت دروغ دي چې دوی پرې درېدلي دي.

د الله تعالی ارشاد دی:

﴿**وَالَّذِينَ لَا يَشْهَدُونَ الزُّورَ وَاِذَا مَرُّوا بِالَّلغْوِ مَرُّوا كِرَاماً**﴾[5].

---

[1] جزا کوډ، ۲۸۱ نمبر ماده.

[2] السرخسی،المبسوط، ج ۱٦، ص ۱۴۵ ؛ والنفراوي ، الفواکه الدواني ، ج ۲، ص ۲۷۸ ؛ والماوردی ، الحاوي، ج ۱٦ ، ص ۳۱۹ ؛ و ابن قدامه ، المغنی ، ج ۱۰، ص ۲۳۱ ؛ و ابن حزم ، المحلی ، ج ۱۲ ، ص ۲۲۵.

[3] سورم الحج ، ایت نمبر ۳۰.

[4] سورة الفرقان ، ایت نمبر ۴.

[5] سورة الفرقان ، ایت نمبر ۷۲ .

ژباړه: او د الرحمان بندګان هغه دي چې د دروغو شاهدي نه وايي، او که په کوم بابيزه شي باندې ورشي، نو د شريفو انسانانو په څېر ورڅخه تېرېږي.

الله تعالی فرمايلي دي:

**﴿الَّذِينَ يُظَاهِرُونَ مِنكُم مِن نِسَـائِهِمْ مَّا هُنَّ أُمَّهَاتِهِمْ اِنْ أُمَّهَاتُهُمْ اِلَّا اللَّايِى وَلَدْنَهُمْ وَاِنَّهُمْ لَيَقُولُونَ مُنكَراً مِنَ الْقَوْلِ وَزُوراً وَاِنَّ اللهَ لَعَفُوْ غَفُورٌ﴾**[1].

ژباړه: ستاسې څخه چې کوم کسان له خپلو ښځو څخه ظَهَار کوي (مور ورته وايي)، د دوی ميرمنې د دوی ميندې نه دي. د هغو ميندې خو همغه دي چې هغوی يې زېږولي دي. دور يوه ډېره ناوړه او درواغ خبره کوي او حقيقت دادی چې الله ډېر عفوه کوونکی او بخښونکی دی.

**وجه اســـتدلال:** ټول ايتونه په ټوليز ډول د مکر او فريب په فعل او قول دواړو باندې د نه کولو امر کوي الله تعالی مکر او فريب د ظالمانو خلکو لپاره پيداکړی دی؛ نو د مکر سره د ظلم ټولې برخې موجودېدلی شي، په پورته لومړني ايت کې د بوتانو له عبادت کولو څخه د ځان ساتلو امر شـوی او د فريبي وينا د نه کولو په هکله پکې امر راغلی. په دويم ايت کې د هغې علت او وجه تشريـح شـوې، د بوتانو عبادت کول ټول هغه څه دي چې انســان لوی فريب او مکر باندې اخته کوي دلته په دې ايت کې له دغه کار نه منع شـــوې ځکه بتان د عبادت لايق نه دي، په درېيم ايت کې د باطل او دروغ ويلو څخه منع شوي ځکه دا صفتونه د الله تعالی د بندګانو صفتونه نه دي، او په څلورم ايت کې د فريب کوونکي انســان صـفتونه تشريـح شـوي، لومړی دا چې زړه به يې له باطل څخه خالي نه وي، ښـځه به يې صالحه نه وي، نو په ترتيب سره دغه ټول شيان د حراموالي په احکامو کې شامل دي ځکه د شرعي احکامو له مخې ورته هيڅ مهلت نه دی ورکړل شوی.[2]

د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) څخه ډېر احاديث رانقل شوي دي چې مکر او فريب پکې حرام ګڼل شوی لکه چې نبی (صلی الله عليه وسلم) فرمايلي دي:

**« أَلَا أُنَبِّئُكُمْ بِأَكْبَرِ الْكَبَائِرِ ؟ - ثَلاثا – الْإِشْرَاكُ بِاللهِ ، و عُقُوقُ الْوَالِدَيْنِ، وَ شَهَادَةُ الزُّور، أَوْ قَولُ الزُورِ، وَكَانَ رَ سُولُ اللهِ (صلى الله عليه وسلم) مُتَّكِنَا، فَجَلَسَ، فَمَا زَالَ يُكَرْرُهَا ،حَتَّى قُلْنَا : لَيْتَهُ سَكَتَ»**[3].

[1] سورة المجادله ، ايت نمبر ۲.

[2] الطبری ، جامع البيان ، ج ۱۸ ، ص ٦۱۸ ، ج ۱۹ ، ص ۲۳۷ ، ۳۱۴ ، ج ۲۳ ، ص ۲۲۸ ؛ والزمخشری ، الكشاف ، ج ۳، ص ۱۵۴ ، ۲۹۵ ، ج ۴ ، ص ۴۸٦ ؛ والقرطبی ، الجامع الاحكام القران ، ج ۱۲ ، ص ۵۵ ، ج ۱۳ ، ص ۷۹ ، ج ۱۷ ، ۲۷۹.

[3] البخاری ، صحيح البخاری، الشهادات ، ما قيل في شهادة الزور ، ج ۳ ، ص ۱۷۲ : رقم الحديث ۲٦۵۴ ؛ و مسلم ،صحيح مسلم، الايمان / بيان الكبائر وأكبرها ، ج ۱ ، ص ۹۱ : رقم الحديث ۱۴۳.

ژباړه: یا زه تاسو ته په لویو ګناهونو باندې خبر در نکړم؟ بیا یې وفرمایل : لوی ګناهونه درې دي: اول د الله تعالی سره شریک جوړول، دویم د مور او پلار نه نافرماني کول او درېیم د مکر او فریب ګواهي او وینا کول، بیا رســول الله (صلی الله علیه وسلم) تکیا ولګوله او کېناسته تر هغې یې دا خبره تکراروله ترڅو چې غلی شو.

بل حدیث کې فرمايي:

**« مَنْ لَمْ يَدَعْ قَوْلَ الزُّورِ،وَالعَمَلَ بِهِ،فَلَيْسَ لِلهِ حَاجَةٌ فِى أَنْ يَدَعَ طَعَامَهُ،وَشَرَابَهُ»**([1]).

ژباړه:څوک د مکر او فریب وینا کولو ته مه دعوت کوئ، او مه خپله په دغه کار عمل کوئ، ځکه د الله په وړاندې داسې کوم دلیل نه شته چې څوک دې څکلو او خوړولو ته دعوت کړای شي.

**وجه اســتدلال:** په مکر او فریب سره ګواهي کول په اســلام کې له لویو ګناهونو څخه شــمېرل کېږي ځکه حقیقت پکې پټېږي، او د خپل نفس سره هم ظلم کول ګڼل شــوي دي دلته د هغه چا په هکله چې په مکر او فریب سره ګواهي ورکوي قوي دلیل ذکر شـوی او دغه کار لویه خطاء او سـهوه ګڼل شـوې ده. زیانونه یې د انسـانانو د حقونو پایمالول دي د مکر او فریب نه ځان ساتل داسې دي لکه په روژه کې چې سړی د ډوډۍ او څښلو نه ځان ساتي، نو د دغه کار د کولو لپاره هیڅ دلیل نه شته بلکې دغه کار حرام ګرځول شوی دی.([2])

عقلي دلیل هم د مکر او فریب په حراموالی باندې دلالت کوي یواځې حرام هم نه دي بلکې د کبیره ګناهونو له جملې څخه دي، د دغه عمل نقصان د انسان جسم او بدن ته رسېږي او په مجموع کې د خلکو حقوق پکې ضایع کېږي، د خلکو د مال خوړل دي په ناروا سره، د خلکو د سینو سره خیانت کول دي، ټولې پټنې او فسادونه له مکر او فریب نه اساس شـوي دي، د حقیقت بدلول دي په غیر حقیقي حالت باندې او په مجموع کې مکر او فریب ټول له ګناه او ظلم څخه جوړ شوی دی.([3])

فریب یا مکر او چل نه کار اخیستل او بیا په ا سنادونو کې چې لوړو مقاماتو ته وړاندې کېږي که چیرې له فریب یا مکر څخه په کې کار واخیســتل شي یا هم جعل کاري په کې ترسره شي؛ نو دا ټولې کړنې د افغانســتان د قوانینو په وړاندې جرمونه بلل کېږي، چې مرتکبینو لپاره یې په لاندې توګه مجازات ټاکل شوي دي:

---

[1] البخاری، صحیح البخاری، الصوم / من لم یدع قول الزور والعمل به فی الصوم، ج ۳، ص ۲٦ : رقم الحدیث ۱۹۰۳.

[2] ابن حجر ، فتح الباری ، ج ۴ ، ص ۱۱۷ ، ج ۵ ، ص ۱٦۲ ؛ والنووی ، المنهاج ، ج ۲ ، ص ۸۷ – ۸۸.

[3] السرخسی، المبسوط ، ج ۱٦ ، ص ۱۴۵ – ۱۴٦ ؛ والماوردي ، الحاوی ، ج ۱٦ ، ص ۳۱۹ ؛ و ابن قدامه ، المغني ، ج ۱۰ ، ص ۲۳۱ – ۲۳۳ ؛ الزرکشی ، شرح الزرکشی ، ج ۷ ، ص ۳۸۹ – ۳۹۰ ؛ و حسن ، أحکام جرائم التزویر ، ص ۳۰ – ۳۲.

(د تزويري ا سنادو وړاندې کول درج شوو جرمونو په اړه تزوير شوي سندونه د هغو په تزويري والي د علم سره سره عدلي او قضـــايی مقا ماتو ته وړا ندې کړي په دې قانون کې د درج د تزوير د جرم د مجازاتو په اکثر حد محکوميږي).(1)

د افغانستان په جزا کوډ کې د جعل او په اسنادونو کې د فريب او چل يا مکر څخه کار اخيستل يو لوی جرم بلل شوی چې ځانته په څلورم فصل کې تر بحث لاندې نيول شوی دی، خو دلته يوازې د اسنادونو په برخې کې به مکر او فريب څخه کار اخيســتل او بيا لوړ پوړو مقاماتو ته وړاندې کول، يو ډول جرم دی چې مرتکبينو ته يې د جزا کوډ له مخې اکثر حد جزا ټاکل شوې ده.

## دوهم مبحث: د نسل وژنې جرايم

د اســلام مبارک دين په نســل وژنې يا عامه وژنې باندې بنديز لګولی خپلو پيروانو ته يې دا لارښــوونه کړې چې تاســې قتل عام يا ټول انســانان د يوه مخه مه وژنئ! ځکه کېدای شي په دغې خلکو کې ځينې د الله تعالی د دين پلويان هم وي، رسول الله صلی الله عليه و سلم د خندق په ورځ هم د يو مشرک نه چې ډېر مسلمانان يې وژلي وو ديت يې ترې واخيست او د ديت په بدل کې يې هغه خوشې کړ.(2)

همدغه مطلب د افغانستان په جزا کوډ کې هم بيان شوی دي او نسل وژنه يو جرم بلل شوی د دغې جرم د ترسره کوونکو لپاره مجازات ټاکل شوي دي او نسل وژنه يې داسې تشريح کړې ده:

(۱) يو شـخص هغه وخت د نسـل وژنې د جرم مرتکب ګڼل کيږي چې يو له لاندې اعمالو څخه عمداً د يوې ملي، قومي، نژادي يا مذهبي ډلې د ټولې يا يوې برخې د نابودولو په منظور سرته ورسوي:

۱- د ډلې غړو قتلول.

۲- د ډلې غړو ته دجسمي يا رواني شديدې صدمې واردول.

۳- د نامنا سب ژوندانه په وړاندې د يوې ډلې عمدي درول(قرار ورکول) چې د هغې د کلي يا جزيي جسمي قوي په زوال منتهي شي.

۴- هغه اقدامات چې د يوې ډلې له توالد او تناسل څخه د مخنيوي په منظور صورت ومومي .

۵- د يوې ډلې د اطفالو بلې ډلې ته اجباري انتقال.(3)

---

1 جزا کوډ، ۲۸۳ نمبر ماده.

2 مسند أحمد، مرفوع، جلد ۴ صفحه ۲۵۷ حديث نمبر: ۲۴۴۲ و من مسند بني هاشم – مسند عبدالله بن العباس.

3 جزا کوډ، ۳۳۳ نمبر ماده.

## لومړی مطلب: په اسلامي شریعت کې د ژوند کولو حق

انسان په ډېر ښایسته او ښکلي شکل باندې پیداشوی دی، الله تعالی د بنده ګانو د پیداکولو انعام د خصوصي او ټولنیزو اهدافو لپاره ترسره کړی دی، د دې لپاره چې د الله تعالی عبادت او بنده ګی ته خلک را دعوت کړي. د انسان له راتګ څخه مخکې د ځمکې پرمخ پیریانو شتون درلوده هغوی ته چې د الله تعالی له لورې د بنده ګی کوم احکام وړاندې شــوي و هغه یې په ســمه توګه نه ترسره کول: په دغې وخت الله تعالی ملائکو ته وویل چې زه د ځمکې په مخ انســان پیداکوم اما ملائکو الله تعالی ته وویل چې انســان به هم بیا د پیریانو په څېر سرکشي ـ کوي، اما الله تعالی ملائکو ته وفرمایل: زه په هغې څه پوهېږم چې تاســې پرې نه پوهېږئ په دې وخت کې یې آدم (علیه السلام) له ختې څخه پیداکړ ټولو ملائکو ته یې وویل، چې آدم (علیه السلام) ته سجده وکړئ! ملائکو سجده وکړه اما ابلیس (علیه اللعنت) ســجده و نه کړه، بلکې سرکشــي یې وکړه او ویې وویل: زه له اور څخه پیداشــوی یم او آدم (علیه السلام) له ختې څخه پیداشوی دی زه څرنګه هغې ته سجده وکړم، په همدې اساس شیطان د قیامت تر ورځې پورې لعنتي شو.

آدم (علیه الســلام) ته د ملائکو له لورې ســجد کول هم د انســان لوی عظمت او قیمت لري، په همدې اســاس د ځمکې پرمخ باندې د انسانانو ژوند الله تعالی ته ډېر ارزښت لري باید د دغې انسانانو وینه په ناحقه سره توی نه شي هر هغه څوک چې په ناحقه سره د یو انســـان او مســـلمان وینه توی کړي هغه لوی جرم وکړ او دغه ډول مجرمین الله تعالی ډېر سخت وعید لاندې راوستلي دي الله (جل جلاله) په قرآن کریم کې فرمایلي دي:

**﴿مِنْ أَجْلِ ذَٰلِكَ كَتَبْنَا عَلَى بَنِي إِسْرَائِيلَ أَنَّهُ مَنْ قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الْأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَا أَحْيَا النَّاسَ جَمِيعًا﴾**.([1])

ژباړه: له همدې امله موږ پر بني اسرائیلو دا فرمان لیکلی و چا چې یو انســان د وینې له بدلې یا په ځمکه کې له فســاد خورولو پرته په ناحقه وواژه، داســې وګڼه لکه چې هغه ټول انســانان ووژل او چا چې څوک له مرګه وژغوره، داســې وګڼه لکه چې هغه ټولو انسانانو ته ژوند ور وبخښه.

د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په حدیث کې داسې راغلې دي: د قیامتې تر ورځې پورې چې هر څوک قتل کوي په دغې قتلونو کې قابل شریک شمېرل کېږي. دا هغه شخص و چې د خپل ورور چې هابیل نوم یې و وینه یې ورته په ناحقه باندې توی کړه.

[1] سوره المائده، آیة نمبر ۳۲.

له دې څخه دا سې معلومیږي چې د یو شخص وژل، هم جرم ګڼل کیږي او سزا یې دومره ډېره ده لکه چې ټول عالم او انسانان دې وژلي وي، د دې برعکس هغه انسان چې هغه ته ژوند ورکړل شو او خلاصی دې ورکړ یعنې معنا دا چې بخښنه دې ورته وکړه د دې مثال داسې دی لکه ټول عالم چې ژوندی کړی وي.

په بل ځای کې الله تعالی بیا فرمایلي دي:

﴿**وَلاَ تَقْتُلُوا النّفْسَ الّتِي حَرّمَ اللهُ اِلَّا بِالْحَقِّ وَمَنْ قُتِلَ مَظْلُومًا فَقَدْ جَعَلْنَا لِوَلِيّهِ سُلْطَانًا فَلَا يُسْرِفْ فِي القَتْلِ اِنَّهُ كَانَ مَنْصُورًا**﴾.(١)

ژباړه: پرته د حق وژنې څخه، د هغه نفس د وژنې مرتکب مه کیږئ چې الله حرام کړي دي او څوک چې مظلوم وژل شوی وي، د هغه وارث ته موږ د غچ غوښتنې قصاص حق ورکړې دی نو پکار ده چې هغه په وژلو کې له حده تېری و نه کړي له هغه سره به مرسته وشي.

بل ځای کې الله (جل جلاله) بیا فرمایلي دي:

﴿**وَمَنْ يَقْتُلْ مُوءْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَاوءُهُ جَهَنّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللهُ عَلَيْهِ وَلَنَنّهُ وَ أَعَدّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا**﴾.(٢)

ژباړه: پاتې شــو هغه څوک چې کوم مومن له پوهې او ادراک سره سره ووژني، نو د هغه ســزا دوزخ دی چې په هغه کې به د تل لپاره استوګن وي؛ پر هغه د الله غضب او لعنت دی او الله د هغه لپاره لوی عذاب تیار کړی دی.

مفسرینو د دې آیت لاندې لیکلي دي: هر څوک چې په ناحقه سره یو مسلمان په قصدي او عمدي ډول باندې ووژني سزا یې د جهنم اور کې سوځېدل ټاکل شوې ده، مګر که چیرې قتل په سهواً ډول سرته رسېدلی وي نو په دې صورت کې بیا دیت ورکول کیږي الله تعالی ډېر بخښوونکی او مهربانه دی احتمال شته چې الله تعالی ورته بخشش وکړي.

له همدې امله د انسان ژوند د الله تعالی له لورې د برکت او ارزښت څخه ډک وګڼل شو همدارنګه په دې هکله د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ډېر احادیث هم شته چې د انسانانو لپاره په کې د ژوند کولو حق په پام کې نیول شوی دی که چیرې د انسانانو ژوند نه وي بیا نو په دنیا کې ټول شیان عبث او بې فایدې دي ټولې ازادۍ د انسان د ژوند پورې تړل شوي دي که چیرې انسان ژوندی نه وي نور ټول شیان عبث او بې معنا دي.(٣)

الله تعالی انسانانو ته عزت ورکړی دی الله تعالی فرمایلي دي:

---

١ سورة بنی اسرائیل، آیة نمبر ٣٣.

٢ سورة النساء، آیة نمبر ٩٣.

٣ مبارز،عبدالصبور، د اساسی قانون تحلیل او شننه، کال ١٣٩٥هجری شمسی، چاپ اول، سلام خپرندویه ټولنه – جلال آباد. ص ٢٣٠.

﴿وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِى ءَادَمَ وَحَمَلْنَهفمْ فِى الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنَهُمْ مِنْ الطَّيِّبَتِ وَفَضَّلْنَهُمْ عَلَى كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلًا﴾.(١)

ژباړه: دا خو زموږ پېرزوينه ده چې بنيادم ته مو لويي ورکړه، په وچه او لمده کې مو سپرلي ورکړي او له پاکو شيانو څخه مو روزي ور په برخه کړه او پر خپلو زياترو مخلوقاتو مو ښکاره لوړتيا ور وبخښله.

ازادي د انسان طبيعي حق دی دين اسلام دغې حق ته پوره پوره پاملرنه کړې ده په هره معامله کې يې دغې اساس ته پاملرنه کړې هيڅ چا ته يې اجازه نه ده ورکړې چې د چا عزت تر پښو لاندې کړي يا د هغې عزت لوټ کړي او يا يې وينه توی کړي بغير له هغې نه چې ا سلام جواز ورکړی دی، که هغه مسلمانان دي او که غير مسلمانان دي د هغوی د اصلاح لپاره زجر او رټنه يا تعزيري مجازات ټاکل شوي دي هر څوک چې د اسلامي ازادی څخه سرغړونه وکړي او مخ ترې واړوي نو په هغې باندې به سزا تطبيقيږي.

عمر بن خطاب(٢) (رضی الله عنه) خپل والي عمرو بن العاص(٣) (رضی الله عنه) ته وفرمايل:

«**متى استعبَّدتم الناس وقد ولدتهم أمهاتهم أحراراً**».(٤)

ژباړه: تا سې د هغې خلکو بنده گي کوئ چې له هغې نه پيدا شوي يا ستئ او هغه د نورو نه زيږېدلي دي لاکن تا سې الله ازاد پيداکړي ياستئ.

حريت او ازادي د انسان لپاره په بېلا بېلو برخو کې شته لکه ديني او فکري ازادي، سياسي ازادي، د ژوند ازادي او داسې نور لکه د وينا ازادي.

---

١ سورة الاسراء، آيت نمبر ٧٠.

٢ عمر (رضی الله عنه) د خطاب زوي په عربي کې يې نوم (أبو حفص عمر بن الخطاب العدوی القريشی) دی چې په عمر فاروق باندې نوموړی شوی نوموړی په ۴٠ قمري او ۵٨٦ ميلادي کال نه تر د ذالحجې ٢٣ پورې چې د نومبر له ٦ نېټې سره برابره د ۶۴۴ ميلادي کال پورې ژوندی و، د ر سول اکرم ( صلى الله عليه و سلم ) له نږدې ملگرو څخه و د اسلام دويم خليفه او راشدينو خليفه گانو له جملې څخه وو تاريخ پوهان ځينې ځايونو کې هغوی ته لومړی خليفه ويلی او عمر بن عبدالعزيز ته يې دوم خليفه ويلی د ١٣ هجری قمری کال نه يې تر ٢٣ هجری قمري کال پورې خلافت کړی چې د ۶٣۴ – ۶۴۴ ميلادي کلونو سره برابر ده په ۵٨٦ – ۵٩٠ ميلادي کلونو ترمنځ د مکې معظمې په حجاز نومې ځای کې يې نړی ته سترگې غړولي دي، په ۶۴۴ ميلادي کال د اکتوبر په ٧ نېټه د مدينې منورې په ښار کې وفات شوی دی قبر يې په مدينه کې د راشدينو خليفه گانو سره يوځای دی، ځينې مورخينو ويلي چې عمر (رضی الله عنه) د خليفه په ډله کې تر ټولو قوي ترين خليفه او د مسلمانانو په منځ کې د هغې خبره هرچا منله لس کلونه يې خلافت کړی د نوموړي د خلافت په موده کې عرب، د بين النهرين خاوره او د سوريه ځينې سيمې فتح شوي له هغې ځای نه يې د مصر په لورې باندې خپلو فتوحاتو ته دوام ورکړ.

٣ عمرو بن العاص (رضی الله عنه) چې په ۵٧٣ هجري قمري کال زيږېدلی او په ٦٦۴ هجري قمري کال وفات شوی د عربو يو فرمانرو و د مصر فتحې په وخت يې د مسلمانانو مشري کوله د ۶۴٠ قمري کال نه يې ۶۴٦ قمري کال پورې او دويم ځل بيا د ٦۵٨ ميلادي کال نه تر ٦٦۴ ميلادي کال پورې د مصر خلکو لپاره مشري کړې ده عاص بن وايل د مکې د فتحې په کال باندې اسلام قبول کړ د پيغمبر صلى الله عليه وسلم له لورې يې په مسلمانانو کې ډېر محبوبيت درلوده ابوبکر صديق (رضی الله عنه) د شام فتح عمرو بن العاص ته منسوب کړه.

٤ الفقه الاسلامي و ادلته، ج ٦، ص ٧٢٠.

د عقیدې ازادي: الله تعالی وایي چې تا سې د قرآن کریم او د ا سلام د دین د عقیدې سره سم عقیده جوړه کړئ او تاسې هغه کارونه مه کوئ چې په هغې تاسې مکلف کړای شوي نه یاستئ څکه الله تعالی فرمایلي دي:

**﴿لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ قَدْ تَبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِنْ بِاللهِ فَقَدِ اسْتَمْسَکَ بِلْعُرْوَةِ الْوُثْقَى لَا انْفِصَامَ لَهَا وَاللهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ﴾**.[1]

ژباړه: د دین په چارو کې څه زور او مجبورول نشته، سمه خبره له غلطو مفکورو څخه جلا کړای شوې ده. اوس چې څوک له کوم طاغوت شیطان څخه منکر شي او پر الله ایمان راوړي، هغه یوه دا سې کلکه اسره ونیوله، چې هیڅکله ماتېدونکې نه ده او الله د هر څه اورېدونکی او پر هر څه پوهېدونکی دی.

یعنې الله تعالی د عقیدې او مفکورې په هکله سـمه لاره ښـودلې ده که څوک له دغې لارې څخه په بله غلطه یا بدله لاره باندې روانیږي او باطلې عقیدې پلوي توب کوي؛ نو دی په اصـــل کې د عقیدې له حریت او ازادي څخه ځان بې برخې کوي.

د فکر او وینا ازادي:

د اســـلام مبارک دین مســـلمانانو ته ترغیب ورکوی چې تاســـې د خپل عقل نه کار واخلئ او د الله تعالی په مخلوقاتو کې له فکر او ســـوچ نه کار واخلئ د رسـول الله (صـلی الله علیه وسـلم) د نبوت اثبات او فهم او رسـولانو راتگ د ځمکې خلکو ته او په ځمکه کې د هغوی د چارو په هکله له فکر او ســـوچ څخه کار واخلئ همدارنگه د اسلام د فرایضو او احکامو په هکله فکر وکړئ الله تعالی دغې مطلب ته دا ډول اشاره کړې ده:

**﴿قُل انْظُرُوا مَاذَا فِي السَّمَوات وَالْأَرْضِ وَمَا تُغْنِي الْآيَاتُ وَالنُّذُرُ عَنْ قَوْمٍ لَا يُؤْمِنُونَ﴾**.[2]

ژباړه: دوی ته ووایه: په اسمانونو او ځمکه کې چې څه دي، هغه په غږېدلو سترگو وگورئ! او کوم خلک چې له سره ایمان راوړل نه غواړي د هغو لپاره نښانې او اخطارونه مدافع او گټور کېدای نه شي.

د دې آیت په څېر گڼ شمېر نور آیتونه هم شته چې د اسلامي عقیدې په هکله نظم بیانوي لاکن ډېری قومونه نه پوهېږي، نه د عقل نه کار اخلي، نه د فکر کولو نه اســـتفاده کوي، نه تدبیر او طرحه جوړولائ شي او نه نورې چارې ترسره کوي.

هر کله چې یو څوک د خپل فکر او عقل په واســـطه یوه دعوه ثابتوي نو باید د عقل د احکامو له مخې اقرار وکړي چې د عقیدې دغه اصول په شرعي عقایدو کې تقلید شوي دي الله تعالی په دې اړه فرمایلي دي:

---

[1] سورة البقره ، آیت نمبر ۲۵٦.

[2] سورة یونس، آیت نمبر ۱۰۱.

**﴿وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ اتَّبِعُوا مَا أَنْزَلَ اللهُ قَالُوا بَلْ نَتَّبِعُ مَا أَلْفَيْنَا عَلَيْهِ آبَاءَنَا أَوَلَوْ كَانَ آبَاؤُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ شَيْئًا وَلَا يَهْتَدُونَ﴾**.[1]

ژباړه: هغوی ته چې کله ویل کېږي چې د الله د اوامرو پیروي وکړئ؛ نو په ځواب کې وایي چې موږ به د هماغه مسلک پیروي کوو چې موږ پر هغه خپل پلرونه، نیکونه موندلي دي. ښه نو که د هغو پلرونو، نیکونو له پوهې څخه هیڅ کار هم نه وی اخیستی او سمه لاره یې نه وی موندلې، ایا بیا هم دوی د هغوی پیروي کوي؟

بل ځای کې الله تعالی فرمایلي دي:

**﴿أَفَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَتَكُونَ لَهُمْ قُلُوبٌ يَعْقِلُونَ بِهَا أَوْ آذَانٌ يَسْمَعُونَ بِهَا فَإِنَّهَا لَا تَعْمَى الْأَبْصَارُ وَلَكِنْ تَعْمَى الْقُلُوبُ الَّتِي فِي الصُّدُورِ﴾**.[2]

ژباړه: ایا دوی په ځمکه کې گرځېدلي راگرځېدلي نه دي، چې زړونه یې پوهېدونکي او غوږونه یې اورېدونکي شویي وای؟ حقیقت دا دی چې سترگې نه ړندیږي خو هغه زړونه ړندیږي چې په سینو کې دي.

د فکر ازادي د انسان د نقد او وینا پورې تړل شوې ده په دین ا سلام کې دغه ازادي د انسانانو د پیدایښت سره سم راپیل شوې ده په تشریحي ډول په نیکیو باندې امر کولو په اصطلاح کې راوړل شوې ده او د منکراتو څخه مخنیوي کول په ښکاره توگه د حق وینا کول د هغه چا په مخ کې چې له هغې څخه ویره محسوسیږي د حق په ویلو کې نقد کول نشته بلکې حق وینا کول په دین کې واجب دي او د اسلام له مفاهیمو څخه گڼل کېږي اړینه دا ده چې په احکامو کې د دین ساتنه او حفاظت وشي دلیل پرې د رسول الله (صلى الله عليه و سلم) دا قول دی چې فرمایلي یې دي:

«**الدين النصيحة...**».[3]

ژباړه: د اسلام مبارک دین ټول نصیحت دی...

بل ځای کې بیا رسول اکرم (صلى الله عليه وسلم) فرمایلي دي:

«**لا تكونوا إمَّعة (أي مع الناس) تقولون: إن أحسن الناس أحسنا، وإن ظلموا ظلمنا، ولكن وطِّنوا أنفسكم: إن أحسن الناس أن تحسنوا، وإن أساووا فلا تظلموا**».[4]

ژباړه: نشته په تاسې باندې دقت مگر په هغه څه کې چې تاسې یې وایي، که چیرې خلک نیکي کوي تاسې هم ورسره نیکي وکړئ او که خلک ظلم کوي تاسې هم ورسره معکوس چلند وکړئ، لاکن که تاسې خپل نفس غوره

---

[1] سورة البقره، آیت نمبر ۱۷۰.

[2] سورة الحج، آیت نمبر ۴۶.

[3] رواه مسلم عن أبي رقية تميم بن أوس الداري.

[4] روا الترمذي عن حذيفة بين اليمان.

گرځوئ نو د خلکو سره په نیکو کارونو کې احســان او نیکي وکړئ که چیرې هغوی تاســې سره بد چلند کوي په هغوی باندې ظلم مه کوئ.

بل حدیث کې راغلي دي:

«**أفضل الجهاد كلمة حق عند سلطان جائر**».([1])

ژباړه: تر ټولو غوره جهاد د ظالم پاچا په مخ کې د حق وینا کول دي.

د خلفاء راشدینو له لورې نقد یو اړینه موضوع او په اسلام کې د ډېر اهمیت او ارزښت وړ ګڼل کېده لکه څرنګه چې عمر (رضی الله عنه) فرمايلي دي:

((ای خلکو په تاسې کې څوک خوښښ ګڼي چې کج یا ناراسته راپاڅېږي؛ نو په دې وخت کې یو أعرابي راپاڅېده په الله قسم یا امیر المومنین که چیرې په دې کې کوم کج یا بې لارې انسان موجود وی نو قوم به هغې پسې تورې را اخیستې وی بیا امیرالمومنین وویل غبطه دې وکړه ټول حمدونه الله تعالی لره دي چې دې اُمت کې یې یو سړی د بې لارې انسانانو د سمولو او اصلاح کولو لپاره پیداکړی دی چې عمر (رضی الله عنه) دی. د دې خبرو په پای کې عمر رضـی الله عنه دغې سـړي ته وویل اي امیرالمومنین د الله تعالی نه وویرېږه زه یو اخرنی شـخص یم امیر المومنینه ته دغې سړي ته ووایه چې د الله نه وویرېږه! بیا عمر وویل، راوبله هغه سړی او ورته ووایه په دې خبرو کې چې تا سې وکړلې هیڅ فایده په کې نه وه او نه په کې زموږ لپاره کومه فایده وه چې موږ واورېدلې.([2])

په دین اسلام کې ازادي ته جواز ورکړل شوی لاکن سیاسي چارې به د دین نه علاوه نه ترسره کېږي که څوک د دین د احکامو په تطبیق کې تېروځي، یا په ا سلامي سیا ست کې خطاء وکړي او په دغې کار کې یې خپل شخصي تصرفات په پام کې نیولي وي یا یې د خپلې شـخصي-ازادۍ په خاطر ترسره کړي، نو په دغې ډول احکامو کې هیڅ ثواب نه شته ځکه په دې کار کې شخص خپل شخصي عرایض او مقاصد ترلاسه کړي او لټولي دي داسې نور ډېر مثالونه د صحابه وو په سیرت کې شته. چې د عقیدې او وینا ازادي په کې لیدل کېږي اما دغه ازادي به داسې نه وي چې د دین د احکامو سره په ټکر کې وي یا په مخالف لوري کې واقع شي.

**الف: د نسل وژنې څخه د ځان ساتلو په هکله نبوي احادیث**

١. قاتل د قتل په وخت مومن نه شمېرل کېږي:

---

[1] روا ابن ماجه عن أبي سعيد الخدري، و رواه أحمد و ابن ماجه والطبرانى والبيهقي عن أبي أمامة، و رواه غيرهم.

[2] الفقه الاسلامي و ادلته، ج ٦، ص ٧٢١.

د ابن عباس[١] (رضی الله عنه) په حدیث کې چې د رسول الله (صلی الله علیه و سلم) نه روایت کړی په کې فرمایلي دي:

(زنا کوونکی زنا نه کوي په دا سې حال کې چې مومن وي، شراب څښونکی شراب نه څښي په دا سې حال کې چې مومن وي غل غلا نه کوي په داسې حال کې چې مومن وي او قاتل قتل نه کوي په داسې حال کې چې مومن وي.

٢. قتل او وژنه یو له هلاکوونکو جرمونو څخه شمېرل شوي دي:

د ابی هریره([٢]) (رضی الله عنه) نه یو حدیث روایت شوی دی چې رسول الله (صلی الله علیه و سلم) فرمایلي دي تاسې له اووه هلاک کوونکو شیانو څخه ځان وساتئ صحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعین پوښتنه وکړه چې دا اووه شیان کوم یو دي؟ رسول الله (صلی الله علیه و سلم) وفرمایل: د الله تعالی سره شریک جوړول، سحر او جادو کول، د هغه چا قتلول چې الله تعالی یې وژنه حرام ګرځولي ویو د هغې مال خوړل چې په سود باندې اخیستل شوی ویو د یتیم او فقیر مال خوړول، د جنګ په وخت د جنګ له میدان څخه تښتېدل او دروغ یا بُهتان تړل په پاک لمنو ښځو باندې.

٣. په ظلم سره وژنه د اخرت د افلاس نښه ده:

د ابی هریره (رضی الله عنه) نه روایت دی چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي: ایا تاسې پوهېږئ چې مفلس څوک دی؟ وویل شول: هغه څوک چې مال، درهم او پیسې یا دنیا نه لري. رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وویل: نه! مفلس هغې کس ته ویل کېږي چې د قیامت په ورځ زما له اُمت څخه راشي او نه لمونځ، نه روژه، نه زکات او نه نېک اعمال ولري ځکه تول اعمال یې له لغن او بُهتان ویلو باندې له منځه وړي وي یا یې د مسلمان ورور وینه په ناحقه باندې توی کړي وي، په همدې اساس ورسره هیڅ نه پاتې کېږي، مخکې له دې څخه چې د هغه سره حساب کتاب پیل شي بغیر له نیکی نه به راشي په دا سې حال کې چې دغه ډول انسانان به د جهنم اور ته داخل شي دې ته مفلس وایي.

٤. قاتل له هغې درې تنو له جملې څخه دی چې الله تعالی ورته اور برابر کړی:

---

[١] عبدالله بن عباس چې په ابن عباس باندې مشهور دی د اسلامي امت له لومړنیو لویو څېړونکو څخه دی د قرآن کریم د تفسیر د علم پلار بلل کېږي د قرآن کریم د غوره لیکوالانو له جملې څخه یو دی و. نوموړی په ٦١٩ میلادي کال د عربستان په مکې حجاز کې زیږېدلی او په ٦٨٧ میلادي کال د عربستان په طائف شبه جزیره کې وفات شوی دی دین یې اسلام و او په قوم باندې عرب و نظریه یې د قرآن کریم تفسیر وه کسب او کار یې هم د قرآن کریم په تفسیر کې تخصص کول او د حادیثو او سنتو موافق تفسیر لیکل.

[٢] أبو هریره (رضی الله عنه) د محمد (صلی الله علیه و سلم) له نږدې ملګرو څخه و ا صل نه د یمن هېواد و پوره نوم یې عبدالرحمن بن صخر الدوسی بن ثعلبه بن سلیم بن فهم و، د نسب سلسله یې په یمن کې یوې لیرې پرتې قبیلې ته رسېده، د اسلام له راوړلو څخه مخکې یې نوم عبد شمس و، هر کله چې هغې د محمد (صلی الله علیه وسلم) په بلنه باندې اسلام قبول کړ نوم یې ورله عبدالرحمن کېښود د خیبر د جګړې څخه وروسته یې اسلام قبول کړی دی.

ابی سعید الخدري([1]) (رضی الله عنه) نه روایت دی چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي: د قیامت په ورځ د جهنم نه یو اور راوځي، هغه به خبرې کوي چې زه نن ورځ د درې تنو لپاره ټاکل شـــوی یمو د ظالم، جابر او سرکش انسـان لپاره ټاکل شـوی یم او د هغې چا لپاره چې د الله تعالی سره شریک جوړوي او دریم هغه شـخص چې په ناحقه سره قتل کوي دا ټول به په جهنم کې غورځول کېږي.

۵. د قیامت په ورځ لومړنی حساب د انسانانو د وینې کېږي:

عبدالله([2]) (رضی الله عنه) د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) نه روایت کوي چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي: د قیامت په ورځ چې لومړنی حساب کېږي د انسانانو د وینې د قیمت پوښتنه کېږیو او په یو حدیث کې ورسره لمونځ هم شریک شوی دی په دې اړه مفسرین فرمايي: وینه توییدل د مسلمان بشري حق دی او لمونځ کول د الله تعالی حق دی په دې دواړو کې تصادف نه رامنځته کېږي.([3])

**ب: د نسل وژنې د جرم ارتکاب او مجازات**

د اســلامي شریعت او د افغانســتان د قوانینو له مخې له یو چا څخه د ژوند کولو د حق اخیســتلو حالتونه چې په ا سلام کې ورته جواز ورکړل شوی په لاندې توګه تشریح شوي دي، اما له دې حالتونو څخه علاوه د یو انسان څخه د ازادئ حق اخیستل یا د ژوند کولو حق اخیستل هم د ا سلامي شریعت له پلوه او هم د افغانستان د قوانینو له مخې جرم بلل کېږي دین ا سلام او افغاني حقوقو دغې ډول جرمونو ته جواز نه ورکوي دلته هغه عوامل او حالتونه تر بحث لاندې نیول شوي دي چې د یو شخص د ژوند کولو حق د اخیستنې لامل کېږي چې عبارت دي له:

۱. مرتد کېدل: په دین اسلام کې هغې شخص ته چې یو ځل د اسلام په مبارک دین باندې مشرف شي او بیا د ا سلام نه مخ واړوي دغې شخص ته مرتد ویل کېږي. په دین ا سلام کې د دغه ډول ا شخا صو لپاره یا وژل

---

[1] أبو سعید الخدري (رضی الله عنه) د رسول اکرم (صلی الله علیه و سلم) یو له ځوان صحابه کرامو څخه و. نوموړی د انصارو یو لوی مشر هم و د هجرت څخه لس کلونه مخکې په مدینه منوره کې دنیا ته راغلی دی بنی خدره د بنی عوف انصارو له جملې څخه یوه ډله وه، د ابو سعید پلار هم د صحابه وو له جملې څخه و او مور یې انیسـه بن أبی حارثه هم د بنی بخار له قبیلې څخه وه. ابو سـعید د احد جنګ په وخت ۱۳ کلونه عمر درلوده په ۶۱۲ میلادی کال د سـعودي عربسـتان په مدینې ښار کې زیږېدلی دی او په ۶۹۳میلادی کال په همدغه ښار کې دفن شوی دی.

[2] عبدالله بن عمر بن خطاب په ۱۰ هجري قمري کال او ۶۱۰ میلادي کال د سعودي عربستان د مکې ښار په حجاز نومې سیمه کې زیږېدلی دی. او په ۷۳ هجري قمري کال د ۸۲ یا ۸۳ کلونو په عمر یا په ۶۹۳ میلادي کال د سعودي عربستان په مکه کې چېرته چې اموي خلافت و وفات شوی دی. پلار یې عمر بن خطاب او مور یې زینب بن مظعون نومېده نوموړي ته درې ځله د خلافت وړاندیز وشــو مګر هغې رد کړ یو د عثمان (رضـــی الله عنه) د وژل کېدو په وخت چې ۳۵ هجري ۶۵۶ میلادي کال و، دویم د معاویه او علی (رضی الله عنهم اجمعین) ترمنځ د نښتې په وخت چې ۳۷ هجري ۷۵۷ یا ۷۵۸ میلادي کال و او دریم د یزید د مرګ نه وروســته په ۶۴ هجري یا ۶۸۳ میلادي کال باندې خو نوموړي درې واړه خل خلافت کول رد کړل او په هیڅ یوې جګړې کې یې ګدون و نه کړ. عبدالله بن عمر د هجرت نه ۱۱ کلونه یا په بل حساب د الفیل د کال نه ۳۴ کلونه مخکې په مکه کې دنیا ته راغلی دی، د خپل پلار له لورې مسلمان شو او بیا یې د پلار سره مدینې ته هجرت وکړ.عبدالله بن عمر په ۷۳ هجري قمري کال ۶۹۳ میلادي کال د هغې زخم له لاسـه چې د حجاج د سرتېرو له لورې په نیزه باندې وهل شـوی و د ۸۰ کلونو په عمر وفات شوی دی.

[3] مبارز،عبدالصبور، د اساسی قانون تحلیل او شننه، سال ۱۳۹۵ هجری شمسی،سلام خپرندویه ټولنه – جلال آباد، ص ۲۳۱.

دي او يا هم په قتل باندې رسول دي. په هغې حديث کې چې ابن عباس (رضی الله عنه) د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) نه روايت کړی دی فرمايلي دي: هر هغه څوک چې دين اسلام نه يې مخ واړوه او بل دين باندې شو دغه شخص ووژنئ! د مرتدينو په وژنه کې حکمت دادی چې مسلمانان غواړي خپل دين اسلام د دوه مخيتوب او منافقت څخه پاک کړي او مرتدين هغه اشخاص دي چې د اسلام مبارک دين ته زيان او نقصان رسوي.

الله تعالی په قرآن کريم کې د مرتد انسان په هکله فرمايلي دي:

**﴿وَمَنْ يَرْتَدِدْ مِنْكُمْ عَنْ دِينِهِ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ فَأُولَئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَلُهُمْ فِى الدُّنْيَا وَالْ ءَاخِرَةِ وَأُولَئِكَ أَصْحَبُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَلِدُونَ﴾**.[١]

ژباړه: که د هغوی وس وشي؛ نو تا سې به له دين څخه واړوي او په دې ښه پوه شئ له تا سې څخه چې هر څوک له دې دين څخه واوړي او د کفر په حالت کې ومري، د هغه عملونه به په دنيا او اخرت دواړو کې بابيزه او ضـايع شي، داسې خلک ټول دوزخيان دي او تل به په دوزخ کې اوسيږي.

معنا دا چې مرتد هر هغه شخص ته ويل کيږي چې له دين اسلام څخه کفر ته رجوع وکړي او بيا د اسلام مبارک دين سره د ښمني کوي او په د ښمنی کې ورسره واقع شي يعنې د کفر کارونه او ويناوې پيل کړي او دين اسلام پسې ريشخند او مسخرې کوي دغې انسان ته مرتد ويل کيږي.

د مرتد کېدو لپاره ځينې شرطونه دي کله چې په کې دغه شرطونه موجود شي نو دغه انســان مرتد ګڼل کيږي د دغې شرطونو د موجوديت نه غير مرتد نه شو ګڼلای لومړنی شرط يې عقل دی انسان به عاقل وي يعنې که لېونی وي او يا اغصـاب يې له لاسـه ورکړي وي نو د دغه شـخص مرتد کېدل صـحت نه لري دويم د نشـې په حالت کې مرتد کېدل صـحيح نه دي ځکه مرتد کېدل د عقيدې او ارادې پورې اړه لري امام ابو حنيفه (رحمه الله) فرمايلي: په نشـې حالت کې ځکه صحيح نه دی چې د انسان عقل کار نه کوي نو دغه شخص مکلف نه دی د نشې په حالت کې د ده مثال لکه د لېوني په څېر دی.[٢]

اما شافعي (رحمه الله) او د امام احمد بن حنبل (رحمه الله) د مذهب له مخې چې په دوه روايتونو کې يې دغې خبرې ته اشــاره کړې ده، ويلي د نشــې په حالت کې لکه څنګه چې طلاق واقع کېدای شي داســې مرتد کېدل هم صورت نيولی شي نو د نشې په حالت کې مرتد کېدل صحيح دي.[٣] لاکن مرتد انسان به د نشې په حالت کې نه شي قتل کولی تر دې چې درې ورځو پورې به ورته صبر کولی شي چې نشه ترې لاړه شي.

---

[١] سورة البقره، آيت نمبر ٢١٧.

[٢] البدائع: ٧/ ١٣٤ ؛ الدر المختار: ٣/ ٣١١.

[٣] مغني المحتاج: ٤/ ١٣٧ ؛ المغني : ٨/ ١٤٧.

د امام ابو حنيفه، امام احمد بن حنبل او امام مالک (رحمه الله عليهم اجمعين) په قول بلاغت يا فارغېدل د نشې حالت نه شرط نه ګڼل کېږي نه به قتل کولی شي او نه به وهل کېږي ځکه دا خو بيا د اســـلام سره په ټکر کې واقع کېږي چې د نشې په حالت کې دې.[1]

امام شافعي او أبو يوسف[2] (رحمه الله عليهم اجمعين) بيا وايي چې بلاغت شرط دی.

د مرتد انســـان د مجازاتو په هکله اســـلامي فقه کې د ټولو فقهاوو او علماوو په دې نظريه باندې اتفاق دی چې مرتد انسان بايد قتل کړل شي دليل پرې د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) دا حديث دی:

**«من بدل دينه فاقتلوه»**.[3]

ژباړه: چا چې دين بدل کړ يعنې اسلام دين نه کفر ته واوښت هغه ووژنئ.

بل ځای کې بيا په بل حديث کې داسې الفاظ راغلي دي:

**«لا يحل دم امرئ مسلم الا باحدى ثلاث: الثيب الزاني، والنفس بالنفس، والتارک لدينه المفارق للجماعة»**.[4]

ژباړه: نه لري جواز وينه د مســـلمان مګر په درې حالتونو کې: کله چې زنا وکړي، کله چې يو شـــخص قتل کړي او دريم چې د اسلام د مبارک دين مرتد شي او بلې ډلې ته لاړ شي.

نو د پورته آيت او احاديثو څخه معلومه شوه چې مرتد انسان بايد قتل کړل شي او په دې خبره باندې د جمهورو علماوو اتفاق هم دی.

٢. زنا کوونکی: په هغه صورت کې چې د اسلام د مبارک دين له مخې په زنا کوونکي باندې جرم ثابت شي؛ نو سزا يې رجم کول دي تر هغې پورې به په ډبرو باندې ويشتل کېږي چې ساه له لاسه ورکړي.

٣. حربي يا جنګي کافر: هغې شـــخص ته ويل کېږي چې يو دولت يا هېواد ته پناه يوسي چې د اســـلامي حکومت خلاف حکومت وي او په جنګي حالات کې د اســـلامي هيواد سره واقع وي، همدارنګه هغې شـخص ته هم حربي ويل کېږي چې د تړون له مخې د هغه ژوند او امنيت تضـمين شـوی وي، مګر په هغه صورت کې چې تړون د کومې نېټې پورې شوی وي دغه موده پوره نه کړي او تړون مات کړي که چيرې د چا له لورې ووژل شي نو د دغې ســـړي مرګ مباح دی، او په مباح عمل يا کړنې باندې مجازات او ســـزا نه واجبيږي، مګر په ځينې وختونو کې کله چې په اجرائيه قوه کې داخل وي يو شخص د خپلې شخصي ګټې

---

[1] الدر المختار ورد المحتار: ٣/ ٣٣٥.

[2] أبو يوســـف په ١١٣ هجري قمري کال په کوفه کې زيږېدلی او په ١٨٢ قمري کال په بغداد کې وفات شـــوی دی د امام أبو حنيفه نعماني شـاګرد تېر شـــوی دی نوموړی قاضي القضـــات او لوی امام او مجتهد و د حديث علم يې له ابو حنيفه څخه زده کړی نوموړی په دې برخه کې د قضـــاوت تر کچې پورې رســـېدلی و په همدې اساس قه قاضي القضات باندې مشهور شو د هارون الرشيد پاچا په زمانه کې وفات شوی دی.

[3] رواه الجماعة الا مسلما و رواه ابن أبي شيبة و عبد الرازق عن عکرمة عن ابن عباس. نيل الاوطار: ٧/ ١٩٠.

[4] رواه البخاري و مسلم عن ابن مسعود رضى الله عنه. سبل السلام: ٣/ ٢٣١ ؛الالمام، ص ٤٤٣.

په خاطر يو حربي کافر ووژني؛ نو قاتل په دې صورت کې هم نه مجازات کېږي هيڅ ډول جزا د دغې قاتل لپاره نه واجبيږي، په دې هکله شرعی او وضعي قوانين دواړه سره يو شان نظر لري.([1])

٤. جنگ کوونکی انســان: هر هغه شــخص چې په جنگي جرم باندې مرتکب شي د فقهاوو په نظر دغه ډول ا شخا صو ته قطاع الطريق وايي او ځينې نور ورته غله وايي د دغې ا شخا صو لپاره په قرآن کريـم کې دا سې راغلي دي: ژباړه: (هر هغه څوک چې د الله تعالی او د خدای د پیغمبر (صلی الله علیه و سلم) سره جنگيږي او په ځمکه کې فساد رامنځته کوي نو د دغې ا شخا صو سزا دا ده چې بايد قتل کړل شي يا په دار باندې را وځړول شي.([2])

٥. باغي: هغې کس ته ويل کېږي چې په ظلم او نزور سره د حاکم نظام د چپه کولو او ســقوط کولو په عمل باندې مرتکب شي يا په خپل قوت او درت لرلو سره د موجوده نظام خلاف وکړي.

د باغيانو لپاره د فقهاوو له لورې يو شمېر شرايط وضع شوي دي هر کله چې دغه حالتونه او شرايط موجود شي نو د هغې مطابق سزا ورکول کېږي د مثال په توگه: حکومت په ضد باندې ډله جوړول، د شرعي تاويل په ا ساس يې قيام کړی وي، هغه ا شخاص چې قدرت او زور لري او خپل مطالب او غو ښتنې د زور او ظلم له لارې پلي کوي.هر هغه اشـخاص چې دغه شرايط په کې موجود شي، نو د هغوی وينه مباح ده که چيرې يو څوک دغه ډول اشـخاص قتل کړي نو وينه يې مباح شـمېرل کېږي په همدې اسـاس د باغي انسـان وينه جايز گرځېدلې ده.([3])

٦. قاتل: په هغه صــورت کې چې يو شــخص په قصــدي يا عمدي توگه يو څوک په قتل ورســوي د اســلامي شريعت له نگاه او د افغانســتان د قوانينو له نظره به قاتل په مجازات باندې رســېږي، مگر د قاتل په اړه دوه ډوله سزا ټاکل شوې ده، لومړی سزا يې قصاص کول دي او دويم يې اعدام کول دي. هر کله چې قتل بغير له کوم شک او شبهې پرته په قصدي او عمدي توگه ترسره شوی وي نو د ورثوو له لورې به قاتل قصاص کېدای شي. اما که چيرې د قاتل په قتل کې معمولي غوندې شک او شبهه هم موجوده وي په دې صورت کې به د ر سول الله ( صلی الله علیه و سلم) حديث ا ستناد کېږي حدود او احکام به بيا تر هغې پورې معطل کېږي ترڅو چې قتل پرې ثبوت شي، په دې صـورت کې قاتل نه قصـاص کېږي بلکې تعزيري سـزا به ورته ورکول کېږي، په دې حالت کې د وخت قاضي ته پوره اختيار او صــلاحيت ورکړل شــوی دی، له معمولي سزا نه نيولې تر لويې سزا پورې چې هر څه پرې تطبيقوي کولای يې شي.

---

[1] عبدالقادر عوده، د اسلام جنايي تشريع او وضعی قوانين، ترجمه: عبدالهادی هدايت، پيغام خپرندويه مرکز،١٣٨۴ هجری شمسی، ص ۴٧۵.

[2] سورة المائده، آية نمبر ٣٣.

[3] عبدالقادر عوده، د اسلامی جنايی او وضعی قوانين ، ترجمه: عبدالهادی هدايت، ص ۴٨۴.

امام ابو حنیفه او امام مالک (رحمه الله علیهم اجمعین) دواړو د هغه شــخص د قتلولو جواز ورکړی دی چې سیاسي موخو ترلا سه کولو لپاره د قتل په جرم مرتکب شوی وي.[1] دوی د خپلې خبرې لپاره دلیل د قرآن کریم دا آیت راوړي الله تعالی فرمایلي دي:

﴿إِنَّ الَّذِينَ يُوءْذُونَ اللهَ وَرَسُولَهْ لَعَنَهُمُ اللهُ فِى الدُّنْيَا وَالْ ءَاخِرَةِ وَأَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا مُّهِينًا﴾.[2]

ژباړه: کوم خلک چې الله او د هغه رسول ته اذیت رسوي، په یقیني توګه پر هغو په دنیا او اخرت کې الله لعنت کړی دی او د هغو لپاره یې رسوا کوونکی عذاب تیار کړی دی.

په همدې اساس قاتلین د افغانستان د جزا کوډ له نظره په لاندې سزا باندې محکومېدای شي:

(۱) یو شــخص هغه وخت د نســل وژنې د جرم مرتکب ګڼل کیږي چې یو له لاندې اعمالو څخه عمدآ د یوې ملي، قومي، نژادي یا مذهبي ډلې د ټولې یا یوې برخې د نابودولو په منظور سرته ورسوي:

۱- د ډلې غړو قتلول.

۲- د ډلې غړو ته دجسمي یا رواني شدیدې صدمې واردول.

۳- د نامناسب ژوندانه په وړاندې د یوې ډلې عمدي درول(قرارورکول) چې د هغې د کلي یا جزیي جسمي قوي په زوال منتهي شي.

۴- هغه اقدامات چې د یوې ډلې له توالد او تناسل څخه د مخنیوي په منظور صورت ومومي .

۵- د یوې ډلې د اطفالو بلې ډلې ته اجباري انتقال.[3]

**ج: د نسل وژنې جرم د افغانستان د قوانینو له نظره**

لکه څنګه چې مخکې یې یادونه وشوه چې نسل وژنه عبارت ده له: یو شخص هغه وخت د نسل وژنې د جرم مرتکب ګڼل کیږي چې یو له لاندې اعمالو څخه عمدآ د یوې ملي، قومي، نژادي یا مذهبي دلې یا یوې برخې د نابودولو په منظور سرته ورسوي.

۱- د ډلې د غړو قتلول

۲- د ډلې غړو ته د جسمي یا رواني شدیدي صدمې واردول

۳- د نامنا سب ژوندانه په وړاندې د یوط ډلې عمدي درول چې د هغې د کلي یا جزیي جسمي قوي په رزوال منتهي شي.

۴- هغه اقدامات چې د یوې ډلې له توالد او تناسل څخه د مخنیوي په منظور صورت ومومي .

---

[1] رد المحتابر لابن عابدین: ۳/ ۱۹٦ ؛الشرح الکبیر للدردیر: ۴/ ۳۵۵.

[2] سورة الاحزاب، آیت نمبر ۵۷.

[3] جزا کوډ ۳۳۳ ماده

۵- د يوې ډلې د اطفالو بلې ډلې ته اجبارې انتقال.([1])

د نسل وژنې د جرم مجازات د افغانستان په جزا کوډ کې په **۳۳۳** ماده کې ذکر شوي دي او د جرم مرتکب په **۲** درجه دوام حبس محکوميږي.

او که چيري ددې مادې په ۱ فقره کې درج د نسل وژنې جرم، په قتل تمام شي، مرتکب په اعدام محکوميږي.([2])

## دويم مطلب: د انسانانو په وړاندې جرمونه

مخکې مو د انسانانو د نسل وژنې په هکله معلومات ولوستل ټولې هغه لارې چارې چې د انسانانو د وژنې لپاره او بالخصوص د مسلمانانو د وژنې لپاره په کار وړل کيږي د اسلام د مبارک دين له مخې او د افغانستان د جزا کوډ له مخې حرام او جرم بلل کيږي هر هغه څوک چې دغه ډول جرايم ترسره کوي او د ځمکې پر مخ يې د مسلمانانو گرځېدلو باندې خوا بديږي يا د مسلمانانو د وژنې او نسل وژنې لپاره دلايل گوري او لارې ورله لټوي دا ډول خلک مجرمين دي مگر الله تعالى مسلمانانو ته د ژوند کولو حق ورکړی د ځمکې په مخ د مسلمانانو لپاره او د نسلونو لپاره يو حق د ژوند کولو ازادي او حق دی؛ مگر نسل وژونکي انسانان بيا د مسلمانانو نه دغه حق اخلي او هغوی بې ځايه او بغير له کومې گناه نه قتل کوي دغه ډول قتلونه او وژنې د اسلام مبارک دين محکوموي او ترسره کوونکو لپاره يې لوی مجازات ټاکلي دي ځکه دا ډول قاتلين او نسل وژونکي په ا صل کې د مسلمانانو نه د ژوند کولو حق او ازادي اخلي؛ نو په راتلونکي عنوان کې د مسلمانانو د ژوند کولو حق او ازادۍ په هکله اسلامي او شرعي نصوص راوړل شوي دي چې په لوستلو سره به يې د نسل وژونکو ذهن او مغز خلاص شي او نور به له دغې جرمونو څخه لاس واخلي که يې وانخلي نو الله تعالى دغه خلک د خپل حکم ماتوونکي بللي او څوک چې د الله حکم ماتوي او پاملرنه ورته نه کوي همدوی گنهگاران او مجرمين دي دلته د انسانانو د ژوند کولو حق او ازادي په هکله معلومات راوړل شوي دي.

### الف: د اسلامي شريعت له مخې د انسان ازادي

هغه پوښتنه چې په اسلام کې د انسانانو د آزادۍ په اړه راپيداکيږي هغه دا چې ايا د اسلام د مبارک دين له مخې خلک په مکمل ډول ازاد دي که نه؟ د بشر د آزادۍ فيلسوفان او ختيځ پوهان فيلسوفان چې اصل نه غربي يا لويديځ دي په ا سلامي شريعت باندې دا نقد کوي چې په دين ا سلام کې د هيڅ يو شخص لپاره ازادي نه شته، ځکه ا سلام هميشه خپلو پلويانو باندې تاکيد کوي چې تاسې په تقدير باندې ايمان ولرئ، او الله تعالى هم فرمايلي دي چې د ټولو انسانانو لپاره تقدير ليکل شوی دی. د مثال په توگه: هر کله چې تقدير ليکل شوی چې فلانکی سړی په غلاء کوي، يآ د بل سړي په هکله ليکل شوي دي چې فلانکی سړی به زنا کوي او د بل شخص په اړه يې بيا ليکلي دي

[1] جزا کوډ، **۳۳۳** نمبر ماده.

[2] جزا کوډ، **۳۳۴** نمبر ماده.

چې فلانکی سړی په نیک عمل کوي، نو له دې نه وروسته خو اجراء کوونکی شخص ملامت نه دی؛ ځکه دا ټول کارونه په تقدیر کې لیکل شوي دي. او دا کارونه د الله تعالی له لورې ورته ټاکل شوي دي انسان د دغه اعمالو په ترسره کولو کې هیڅ واک نه لري، دا د همدوی نقد دی چې په اسلام کې د انسانانو نه ازادي اخیستل شوې ده انسانان په دین اسلام کې د غلامانو په څېر ژوند کوي هر هغه څه چې د الله تعالی له لورې ورته ټاکل شوي هغه عملي کوي.

د غرب دغې فیلسوفانو او پوهانو د نظریې په وړاندې د اسلامي شریعت ځواب دا دی چې دوی چې کوم نظریه لري دا د اسلام د مبارک دین سره په مکمل ډول په ټکر کې ده، ځکه د تقدیر معنا او مطلب دا نه دی چې څرنګه یې دوی فکر کوي، بلکې تقدیر په بله معنا باندې دی، د همدغې تقدیر له مخې انسان کاملاً ازاد ګڼل شوی دی. انسان ته په ټولو اعمالو ترسره کولو کې ازادي ورکړل شوې ده یعنې یو انسان پوره ازادي لري چې یو عمل ترسره کړي او یا هم ځان ترې وساتي.

مګر یوه خبره په دې ځای کې ډېره د فکر وړ ده، انســان د تقدیر په چارو کې کاملاً ازادي لري؛ مګر د ګناه په کارونو کې ازادي نه لري، د ګناه او ثواب له مخې او د ســزا او جزا له مخې په اســلام کې مطلق ازادي نشــته، بلکې محدودیت شته، یعنې انسانانو لپاره په کارونو کې ازادي نشته چې نورو انسانانو ته دې ضرر او نقصان ورسوي او یا د نورو انسانانو ازادي صلب کړي.یا ټولنیز نظم اخلال کړي او په ټولنه کې فاسد اعمال رامنځته کړي.

د اسلام په مبارک دین کې هیچا ته اجازه نه ده ورکړل شوې چې د نورو خلکو څخه ازادي واخلي ځکه په دین اســلام کې مســلمانان د الله تعالی بنده ګان او غلامان دي، د خلکو په بنده ګي کولو کې دوی شرکت نه شي کولائ یوازې د جنګ په میدان کې د جنګي بندیانو نیول د غلامانو اطلاق پرې کېدای شي اما الله تعالی د اسیرانو او غلامانو په خو شې کولو او هغوی ته په بخښنې کولو باندې امر کوي هر هغه څوک چې بخښنه ورته وکړي د ثواب مستحق یې بولي او دا خبره الله تعالی په خپل کتاب کې کړې ده.

په دین اســلام کې دغه اصــطلاح د خدمت کوونکي له معنا سره مترادفه ده، چې په مکمل ډول د غلامی سره توپیر او فرق لري دا اصطلاح پخوا وختونه په روم، یونان او اروپا کې رایج شوې ده. قرآن کریم په رسول الله (صلی الله علیه وســلم) باندې په داســې حال کې نازل شــوی دی چې په عربو کې ظلم، وحشــت، بربریت او ناوړه دودونه موجود و، حضرت محمد (صــلی الله علیه وســلم) دغې ناوړه دودونو د ختمولو او پای ته رســولو په هکله ورو ورو هڅې او کوښــښــونه شروع کړل په لومړیو کې به یې دین اســلام ته خلک رابلل او د غلامانو او بنده ګانو سره به یې نیک خوی او چلند کاوه.([1])

د انسانانو د آزادۍ په هکله د عمر (رضی الله عنه) دا وینا هم کفایت کوي چې ویلي یې دي:

---

[1] مبارز، عبدالصبور، د اساسی قانون تحلیل او شننه، سلام خپرندویه ټولنه – جلال آباد، چاپ کال ۱۳۹۵ هجری شمسی، چاپ اول،ص ۲۴۹.

(متی استعبدتم الناس ولقد ولدتهم امهاتهم احرارا).
ژباړه: تا سې خلک څه وخت غلامان کړل، په دا سې حال کې چې ټول انسانان د یو پلار او یوې مور څخه زیږېدلي دي.

د اسلام په مبارک دین کې نه یوازې د خلکو آزادي په نظر کې نیول شوې ده بلکې د غیر مسلمانانو ازادي ته یې هم پاملرنه کړې ده. په دې هکله مسلمان فقهاء وایي: (هغوی ته هم دا سې حقوق ورکړل شوي دي لکه څرنگه چې مسلمانانو ته ورکړل شوي دي، او هغوی لپاره هم هغه څه ټاکل شوي دي چې زموږ لپاره ټاکل شوي دي).
حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) په دې هکله فرمایلي دي:
(هر هغه څوک چې ذمي ته زیان ورسوي، زه د هغې سره دښمني کوم، او د چا سره چې زه دښمن شوم، هغه د قیامت په ورځ په خپله دعوا کې ملامتوم). مشـــهور فقهیه قرافي ویلي:(هر څوک چې په ذمي باندې تجاوز وکړي، ولو که دغه تجاوز بدې خبرې یا غیبت یا ازار ورکول وي یا د نورو تجاوز کوونکو سره مرســته وکړي په دې صــورت کې دغې سړي د الله او د الله د رسول وعده ماته کړه او اسلام دین یې لغوه کړ).

د اســـلام په مبارک دین کې هر ډول جرایم ترسره کول لکه د دین نه مرتد کېدل، انســـانانو حقوقو ته نه پاملرنه، ټولنیز نظام اخلالول، نورو ته زیان رســول ټولې هغه کړنې دي چې د انســانانو حقونه محدودوي، په عموم کې د دې ډول حقوقو حمایت کوونکي دولتي اداري گڼل کېږي. اســلامي دولت نه یوازې د انســانانو ژوند بلکې د هغوی ابرو عزت، په هغوی باندې تېري کولو په وړاندې ملاتړ کول سربېره پر دې اســلامي دولت دا مکلفیت هم لري، چې د بې عزتی او بې احترامی څخه انســاني ټولنه وســاتي، ځکه الله تعالی انســانانو ته عزت او کرامت وربخښــلی دی په دې هکله الله تعالی داســـې فرمایلي دي: (یوازې الله تعالی اســـتازي د دوې ټولو دی او مومنان عزت لرونکي خلک دي).(1)

همدارنگه حضرت عمر فاروق (رضـی الله عنه) به خپلو والیانو ته دا ډول امر کاوه:(مســلمانان بغیر له دې چې بې عزت او بې احترامي یې وشي، و یې نه وهئ همدارنگه هر کله به چې خلک بیت الله شریف ته د حج مرا سمو ته حاضرېدل هغوی ته به یې خطاب کاوه چې ای خلکو! ما په تاســـې باندې والیان د دې لپاره نه دي مقرر کړي چې تا سې ووهي یا تا سې نه غنیمت مالونه راټول کړي او یا یې درباندې تقسیم کړي که چیرې کوم والي دغه دوه کارونه کړي وي نو پاڅیږئ او خپل بدل ترې واخلئ).(2)

[1] سورة المنافقون، آیة نمبر ٨..

[2] سید اکرم هاشمی و خوشحال جواد، حقوق بشری،یار خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۴ هجری شمسی ، ص ٦٢ – ٧٠.

**ب: د بشريت پر ضد جرمونه**

د افغانستان د جزا کوډ له نظره که یو شخص د لاندې ذکر شوو مواردو څخه په یوه په دې شرط ارتکاب شي، چې د مرتکب چلند عمدآ او اګاهانه د یوې غیر نظامي ډلې پر خلاف د پراخې یا ســازمان شــوې حملې برخه وي، بشري ضد جرم ګڼل کیږي.

۱- قتل

۲- نابودول

۳- په بردګۍ نیول

۴- د یوه جمعیت اخراج (ایستل) یا اجباري کوچ.

۵- حبس کول یا د بین الملل حقوقو د اساسي قواعدو مخالف له جسماني ازادیو څخه د شدید محرومیت را منځته کول.

٦- شکنجه

۷- جنسي ـ تجاوز، جنسي ـ برده نیول، اجباري فحشــاء، اجباري حاملګي، اجباري عقیم کول یا بل هر ډول جنسي ـ تاوتریخوالی په هماغه سطح.

۸- په سیاسي، قومي، نژادي، ملي، فرهنګي، مذهبي، د جنسیت په دلایلو یا په دې ماده کې په درج شوو اعمالو څخه دهر یوه په ارتباط په نورو دلایلو د بین المللی جزایي دیوان د صــلاحیت او د روم د دیپلوماتیک کنفرانس د نهایي سند په شمول چې په سر ترسره نړۍ کې د بین الملل حقوقو پر موجب غیر مجاز پیژندل شوي دي په هر بل جرم، د یوې مشخصې ډلې یا مجموعې تعقیب او ازار.

۹- د اشخاصو اجباري ورک کول.

۱۰- دنژادي تبعیض جنایت.

۱۱- نور غیر انساني اعمال چې عمدآ جسم یا جسمي یا رواني سلامت ته د ستر رنځ یا شدیدې صدمې د رامنځته کولو په قصد صورت و مومي.[1]

پورته ټول موارد د جزا کوډ له نظره د بشریت پر ضد جرمونه دي، باید له دغې جرمونو څخه ځان و ساتل شي چې د مجازاتو په هکله یې په وروستي عنوان کې تشریح شوې ده.

**۱- تعذیب یا شکنجه د اسلامي شریعت له نظره**

د اســلام مبارک دین کې خلکو او مســلمانانو ته آذیت او ازار ورکول ممنوع اعلان کړي دي، ان تر دې پورې چې کله یو مجرم ته سزا ورکول کیږي د هغه سره به هم په سزا ورکولو کې له اسراف څخه کار نه اخیستل کیږي په

[1] جزا کوډ، ۳۳٦ نمبر ماده.

دې هکله قرآن کريم کې ګڼ شمېر آيتونه شتون لري چې شکنجه او خلکو ته آذيت او ازار ورکول په کې ممنوع اعلان شوي او محکوموي يې. الله تبارک و تعالی په قرآن کريم کې فرمايلي دي:

**﴿لَئِنْ بَسَطْتَ اِلَيَّ يَدَکَ لِتَقْتُلَنِي مَا أَنَا بِبَاسِطٍ يَدِيَ اِلَيْکَ لِأَقْتُلَکَ اِنِّي أَخَافُ اللهَ رَبَّ الْعَالَمِينَ﴾**.[1]

ژباړه: که ته زما د وژلو لپاره لاس پورته کړې؛ نو زه ستا د وژلو لپاره لاس نه پورته کوم، زه د مخلوقاتو د پالونکي الله څخه ويرېږم.

بل ځای کې بيا الله (جل جلاله) فرمايي:

**﴿مِنْ أَجْلِ ذَٰلِکَ کَتَبْنَا عَلَى بَنِي اِسْرَائِيلَ أَنَّهُ مَنْ قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الْأَرْضِ فَکَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا وَمَنْ أَحْيَاهَا فَکَأَنَّمَا أَحْيَا النَّاسَ جَمِيعًا﴾**.[2]

ژباړه: له همدې امله موږ پر بني اسرائيلو دا فرمان ليکلی و: چا چې يو انسان د يونې له بدلې يا په ځمکه کې له فساد خورولو پرته (په ناحقه) وواژه، دا سې وګڼه لکه چې هغه ټول انسانان ووژل او چا چې څوک له مرګه وژغوره، دا سې وګڼه لکه چې هغه ټولو انسانانو ته ژوند وروبخښه.

په بل ځای کې بيا الله تعالی فرمايلي دي:

**﴿وَلاَ تَقْتُلُوا الَّتِي حَرَّمَ اللهُ اِلاَّ بِالْحَقِّ وَمَنْ قُتِلَ مَظْلُومًا فَقَدْ جَعَلْنَا لِوَلِيِّهِ سُلْطَانًا فَلاَ يُسْرِفُ فِي الْقَتْلِ اِنَّهُ کَانَ مَنْصُورًا﴾**.[3]

ژباړه: پرته د حق وژنې څخه د هغه نفس د وژنې مرتکب مه کېږئ چې الله حرام کړي دي او څوک چې مظلوم وژل شوی وي، د هغه وارث ته موږ د غچ غوښتنې (قصاص) حق ورکړی دی؛ نو پکار ده چې هغه په وژلو کې له حده تېری و نه کړي، له هغه سره به مرسته وشي.

په دې هکله د ا سلام د مبارک دين لاره رو ښانه ده ځکه دين ا سلام کې بغير له ګناه او جرم کولو څخه هيڅوک د شکنجې او ازارولو وړ نه دی، ان تر دې پورې اسلام وايي هرڅوک چې د قتل په وخت يو سړي ته ژوند ورکړي د دې عمل بدله داسې ده چې ټول بشريت او انسانانو ته يې ژوند ورکړی دی همدارنګه د وخت قاضي ته هم اجازه ورکړل شوې ده چې په حقوقو باندې اعتماد او باور و نه کړي بايد د مکروح لارې څخه شکنجه کول هم په پام کې ولري.

---

[1] سورة المائده، آية نمبر ۲۸.

[2] سورة المائده، آية نمبر ۳۲.

[3] سورة الاسراء، آية نمبر ۳۳.

**۲ – د افغانستان په قوانینو کې د شکنجې سزا**

د افغانستان د جزا کوډ له مخې هغه اشخاص چې تعذیب یا شکنجې جرم باندې مرتکب شي په لاندې مجازاتو باندې محکومیږي:

(۱) دهغه شخص چې د شکنجې د جرم مرتکب شي، له دریو کلونو څخه زیات په متوسط حبس محکومیږي.[۱]

(۲)که چیري ددې مادې په ۱ فقره کې درج شوی جرم د مجني علیه د جسمي صدمې لامل شي مرتکب د متو سط حبس مجازاتو په اکثر حد محکومیږي.[۲]

(۳) که چیري د شکنجې مجني علیه، طفل، ښځه، یا معلول وي، مرتکب د متوسط حبس د مجازاتو په اکثر حد محکومیږي.[۳]

(۴) که چیرې ددې مادې په ۱ فقره کې د درج شوي جرم ارتکاب د مجنی علیه د غړي د پرې کیدو یا د دایمې جسمي یا رواني معلولیت لامل شي، مرتکب په طویل حبس محکومیږي.[٤]

(۵) که چیرې تورن دشکنجې په پایله کې په قتل ورسیږي، مرتکب په دې قانون کې درج د عمد قتل په پیشبیني شوي جزا محکومیږي.[٥]

(٦) په شکنجې تهدید د شکنجې د جرم په حکم کې دی، مرتکب ددې مادې په ۱ فقره کې په درج شوو مجازاتو محکومیږي.[٦]

(۷) د شکنجې په جرم پیل د شکنجې په حکم کې پیژندل کیږي.[۷]

(۸) د شکنجې دجرم معاون او شریک د فاعل په عین حزا محکومیږي.[۸]

(۹) د شکنجې دجرم مرتکب د مرتکبه جرم د محازاتو سربیره له دندې څخه هم منفصل کیږي.[۹]

د افغانستان په جزا کوډ کې بیا په ۴۵۲ نمبر ماده کې داسې راغلي دي:

---

۱ جزا کوډ، ۴۵۱ نمبر ماده، لومړی بند.

۲ جزا کوډ، ۴۵۱ نمبر ماده، دویم بند.

۳ جزا کوډ، ۴۵۱ نمبر ماده، درییم بند.

٤ جزا کوډ، ۴۵۱ نمبر ماده، څلورم بند.

٥ جزا کوډ، ۴۵۱ نمبر ماده، پنځم بند.

٦ جزا کوډ، ۴۵۱ نمبر ماده، شپږم بند.

۷ جزا کوډ، ۴۵۱ نمبر ماده، اووم بند.

۸ جزا کوډ، ۴۵۱ نمبر ماده، اتم بند.

۹ جزا کوډ، ۴۵۱ نمبر ماده، نهم بند.

(په دې فصـــل کې په ټولو درج شــویو حالاتو کې مرتکب د مرتکبه جرم پر مجازاتو برســېره له شــکنجې څخه د راپیداشوي زیان په جبران هم محکومیږي).([1])

## دریم مطلب: انتحاري حمله

انتحاري حمله یا ځان وژنه چې ځینې علماء کرام یې د اسلام د مبارک دین له نظره ناروا بولي، خو ځینو نورو بیا روایت ورکړی دی د افغانستان په جزا کوډ کې د انتحاري کوونکي لپاره چې په ناحقه سره مسلمانان وژني او هدف یې د مســلمانانو وژل وي، یعنې بل څه هدف نه لري، خو انتحاري کوونکی پخپله هم په دې یقیني وي چې دی هم په دې حمله کې له منځه ځي په لاندې ډول د دغې عمل ترسره کولو لپاره مجازات تاکل شوي دي:

(۱) د انتحارې حملې د جرم مرتکب، د هغه شریک یا معاون له احوالو سره ســم په ۱ درجه دوام حبس یا اعدام محکومیږی.([2])

(۲) د دې مادې د (۱) فقرې په مفهوم، انتحاري حمله عبارت د هغې حملې څخه ده چې په هغې کې حمله کوونکی د یوه یا څو اشخاصو د وژلو یا هغوی د تاسیساتو یا مالونو ته د زیان رسولو قصد ولري، په دې باندې په پوهیدو سره چې پخپله د دې عمل په پایله کې وژل کیږي.([3])

معنا دا که هرڅوک د انتحاري یآ ځان وژنې قصــد او اراده ولري او هدف یې یوازې د مســلمانانو وژل وي یا د مسلمانانو تاسیساتو او مالونو ته زیان رسول وي نو دغه ډول اشخاص مجرمین دي او د دوی کړنې جرمونه دي چې د جرم د مرتکبېدو په صورت کې به په لومړی درجه بند یا اعدام باندې محکومیږي.

## دریم مبحث: جنګی جرمونه

ټول هغه کارونه چې د جګړې د رامنځته کېدو یا د زیاتېدو لامل کېږي د جنګي جرمونو په نامه یادیږي. د اسلام مبارک دین د مســلمانانو په منځ کې د هر ډول جنګي جرایمو څخه منع فرمایلي ده دا یې ویلي دي، چې تاســې په خپل منځ کې سره په جګړې کې مه اخته کېږئ بلکې د حق د کلمې د اوچتولو او د دیني احکامو د پلي کولو او تطبیق کولو لپاره وجنګېږئ ان تر دې چې په یو رنګ کې مو ســاه هم وي، اما د مســلمانانو په ټولنې کې د بې امنیتي او د امنیت او عامه نظم د ګډوډی او تخریب لپاره کار کول یا جنګ ته خلک هڅول او یا جنګ ته لمن وهل د اســلام د مبارک دین او د افغانســتان د جزا کوډ له مخې حرام او ناروا عمل بلل شــوی دی دغه ډول کارونو اجراء کوونکي ته مجرم ویل کېږي چې مرتکب یې په لاندې توګه مجازات کېږي.

---

[1] جزا کوډ، ۴۵۲ نمبر ماده.

[2] جزا کوډ، ۲۶۵ نمبر ماده، لومړی بند.

[3] جزا کوډ، ۲۶۵ نمبر ماده، دویم بند.

## لومړی مطلب: د جنګي جرمونو مرتکب

د افغانستان په جزا کوډ کې هغه ا شخا صو په هکله چې لاندې جرایمو کې لا سوهنه کوي مجرم ګڼل شوي دي دغه ډول جرمونه جنګي جرمونه دي چې په لاندې توګه تشريح شوي دي:

د لاندې اعمالو څخه د يوه ارتکاب چې د ژنيو په کنوانسيون کې د درج شوو حکمونو تر ملاتړ لاندې اشخاصو يا مالونو پر خلاف صورت ومومي، جنګي جرم پيژندل کيږي.

۱- عمد قتل

۲- شکنجه يا غير انساني چلند له جملې بيولوژيکي ازمايښتونه.

۳- د اشخاصو بدن يا سلامت ته د شديد درد او رنځ يا جدي زيان عمدي واردول.

۴ــــ د مالونو پراخ تخريب او ضبط چې نظامي ضرورتونه نه توجيه کوي او په غير قانوني او په خپل سر يې صورت موندلی وي.

۵- په د ښــمنو ځواکونو کې خدمت ته د جنګي اســير يا د ژنيو د کنواســيون په ملاتړ کې د شــاملو نورو اشــخاصــو مجبورول.

٦- د عادلانه او قانوني محاکمې د برخمن کيدو له حق څخه د جنګي ا سير يا تر ملاتړ لاندې نورو ا شخا صو عمدي محرومول.

۷- غير قانوني ايستل يا اخراج يا غير قانوني حبس.

۸- برمته نيول([1])

د دغې جرمونو د ترسره کوونکو هدف دا وي چې د انســانانو ژوند وګواښــي او ټولنه کې نا امني او بې نظمي رامنځته کړي، خو دين اسلام بيا ټولو مسلمانانو او انسانانو ته د اوسېدنې حق ورکړی دی چې په لاندې نصو صو سره اســتدلال شــوی دی د مســلمانانو په ټولنې کې يې د هر ډول جنګي جرمونو د ترسره کولو څخه منع فرمايلې ده او مسلمانانو ته يې خطاب کړی دی چې تا سې د نورو مسلمانانو د وينې، مال او ناموس دا سې خيال ساتئ لکه څنګه چې خپل ســاتئ؛ اما به ټولنه کې يو شــمېر خلک په پرديو کورونو باندې دشــپې لخوا اوړي او په هغوی ظلم کوي د هغوی مال لوټ کوي او وينه ورله توی کوي همدارنګه ناموس ورله بې عزته کوي، چې د اســلام د مبارک دين له مخې دغه ډول خلک مجرمين بلل کېږي، دې ډول مجرمينو ته الله تعالی خطاب کوي چې له خپلو جرمونو څخه لاس واخلئ ځکه ستاسې دغه کار ګناه ده پرېږدئ چې مسلمانان په ازاده توګه په ټولنه کې ژوند وکړي د چا وينه مه توی کوئ، د هغې نه مال مه اخلئ د هغه ناموس ته زيان مه رسوئ دې مطلب ته داسې اشاره کوي:

---

[1] جزا کوډ، ۳۳۷ نمبر ماده.

د ا سلام مبارک دين د او سېدنې حق ټولو انسانانو ته ورکړی دی، د کور له خاوند او مالک پرته هيڅوک دا حق نه لري چې د بل چا کور ته بغير له اجازې ننوزي په قرآن کريم کې الله تعالی فرمايلي دي:

﴿يَا أَيُّهَا الْذِينَ أَمَنُوا لاَ تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتّى تَسْتَأْنِسُوا وَ تُسَلِّمُوا عَلَى أَهْلِهَا ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ لَعَلَكُمْ تَذَكّرُونَ﴾.([1])

ژباړه: ای مومنانو! له خپلو کورونو څخه پرته نورو کورونو ته تر هغه پورې مه ننوځئ چې اجازه ترلاسه نه کړئ او پر کورنی باندې سلام وانه چوئ. دا کړنلاره ستاسې لپاره ډېره ښه ده، ښايي چې تاسې دې ته پاملرنه وکړئ.

په بل ځای کې الله (جل جلاله) فرمايلي دي:

﴿فَإِن لَمْ تَجِدُوا فِيهَا أَحَدًا فَلاَ تَدْخُلُوهَا حَتّى يُوءْذَنَ لَكُمْ وَ اِن قِيلَ لَكُمْ ارْجِعُوا فَارْجِعُوا هُوَ أَزْكَى لَكُمْ وَاللهُ بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ﴾.([2])

ژباړه: نو که هلته مو څوک و نه موندل، مه ننوځئ، تر څو چې تا سې ته اجازه و نه شي او که تا سې ته وويل شي چې بېرته وګرځئ، نو بېرته لاړ شئ دا ستاسې لپاره ډېره پاکه کړنلاره ده او تاسې چې څه کوئ الله ورباندې ښه پوهېږي.

په پورته آيتونو کې د اوسېدنې ځينې اصول لکه پردي کور ته نه ننوتل او همدارنګه د ننوتلو په وخت اجازه اخيستل، سلام اچول او که چيرې څوک له داخل څخه اجازه ور نکړي چې کور ته داخل شئ، نو بېرته ګرځېدل ټول هغه مسايل دي چې د انسانانو د ژوند کولو اصول تشريح کوي، هر کله چې اصول رامنځته شوي؛ نو د اوسېدنې حق هم له همدې آيتونو څخه ښکاره او څرګند دی، يعنې انسانان کولائ شي چې په ټولنه کې خپل ژوند او اوسېدنې د اسلامي او شرعي اصولو اړوند تېره کړي.

## دويم مطلب: د جنګي جرمونو مجازات

هغه اشخاص چې په جنګي جرمونو باندې مبتلا وي يآ نور اشخاص دغې جرمونو ترسره کولو ته هڅوي يا يې رهبري کوي نو دا ډول خلک د قانون په وړاندې مجرمين دي او د هغوی دغه کړنې جرمونه ګڼل کېږي، د افغانستان جزا کوډ دغې جرايمو ترسره کوونکو لپاره لاندې مجازات په پام کې نيولي دي:

د دې قانون په ۳۳۷ ماده کې درج شوو جنګي جرم مرتکب، په لاندې توګه مجازات کيږي:

۱- په ۱ جز کې د درج شوي جرم دارتکاب په صورت کې په اعدام .

۲- په ۲ او ۳ اجزاوو کې له درج شوو جرمونو څخه ديوه دارتکاب په صورت کې، په ۱ درجه دوام حبس.

۳- له ۴ څخه تر ۶ اجزاوو پورې د درج شوو جرمونو څخه د يوه د ارتکاب په صورت کې په ۲ درجه دوام حبس محکوميږي.

---

[1] سورة النور، آية نمبر ۲۷.

[2] سورة النور، آية نمبر ۲۸.

۴- په ۱۷او ۱۸اجزاوو کې له درج شوو جرمونو څخه د یوه ارتکاب په صورت کې په طویل حبس.([1])

معنا دا هر څوک چې جنګي جرایم ترسره کوي یا یې رهبري کوي د جزا کوډ له مخې د لومړی درجه بندي کېدو څخه نیولې ان تر دویمه درجه بندي کېدل یا د اوږدې مودې لپاره په بندي کېدو او ځینې وختونه په اعدام باندې هم محکومېدای شي.

## څلورم مبحث: په دولت باندې تېری کول

په دولت باندې تېری کول داسې ده چې د موجوده نظام خبره نه منل یا د وخت د پاچا او امیرالمومنین خبره نه منل او له هغې نه انکار کول یا له داسې لارې او طریقو نه کار اخیستل چې د دولت خلاف وي او موجوده دولتي نظام ته پکې تاوان او زیان رسېږي همدغه په دولت باندې تېری کول دي که هغه د ګوندونو جوړول دي او که د مشرانو آمیرینو خبره نه منل دي او که د حکومت د قوانینو نه سرغړونه کول دي یا د وخت د حکومتي نظام په مخالفت کې ودرېدل او د دولت په وړاندې د جنګي مخالفو ډلو مشرۍ کول، هغه رهبري کول، تمویلول او د هغې سره مرسته کول ټول په دولت باندې تېري کولو کې راځي ان د نظام په مقابل کې د مظاهرې په لاره اچول هم په دولت باندې تېری ګڼل کېږي.

### لومړی مطلب: د دولت په وړاندې تجاوز کولو جرم

د تجاوز او ظلم کولو او د زیاتي په هکله چې پکې له حد څخه تېری شوی وي الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایلي دي:

**﴿إِنَّمَا جَزَاوءُا الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِى الْأَرْضِ فَسَادًا أَنْ يُقَتَّلُوآ أَوْ يُصَلَّبُوآ أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُمْ مِنْ خِلَافٍ أَوْ يُنْفُوا مِنَ الْأَرْضِ ذَلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ فِى الدُّنْيَا وَلَهُمْ فِى الْءَاخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ﴾**.([2])

ژباړه: کوم خلک چې له الله (جل جلاله) او د هغه له پېغمبر (صلی الله علیه و سلم) سره جنګېږي او په ځمکه کې د دې لپاره منډې تړړې کوي چې فساد راولاړ کړي؛ نو د هغو سزا دا ده چې ووژل شي. یا په دار وځړول شي، یا یې لاسونه او پښې ردو بدلې غوځې کړای شي یا له وطنه وشړل شي. دا ذلت او سپکاوی خو د هغو لپاره په دنیا کې دی او په اخرت کې د هغو لپاره له دې څخه هم لویه سزا ده.

وجه استدلال: الله تعالی د خپلو آمرینو اطاعت لازمي بولي په شرعي کارونو کې که څوک مخالفت کوي دا داسې ده لکه د الله او د الله د رسول مخالفت چې کوي دغه خلک فسادیان دي نو دلته د دې آیت له تفسیر او معنا څخه مقصد او هدف هغه کسان دي چې سیاسي مخالفان بلل کېږي د اسلامي حکومت په وړاندې مبارزه کوي یا هم

[1] جزا کوډ، ۳۳۸ نمبر ماده.

[2] سورة المائده، آیت نمبر ۳۳.

وســلوال اقدام کوي د همدې آيت د اســتدلال له مخې بايد ووژل شي تر څو دولت باندې د تجاوز موقع په لاس ورنشي.

له دې آيت څخه جالبه نقطه چې د پاملرنې وړ ده هغه د آيت تاريخي برداشت او مخينه ده د اسلامي حکومت مشرــان او رهبران دا آيت د خپل حکومت د قوي کولو او قدرت لرلو لپاره د ملاتړ په توگه او د دښــمنانو د له منځه وړلو د دليل په توگه کاروي. مگر هغه څه چې په آيت کې تر بحث لاندې نيول شــوي هغه جگړه د الله تعالی او د هغه د ر سول ( صلی الله عليه و سلم) سره جگړه کول دي يعنې په ځمکه کې فساد رامنځته کول دي ځکه په ځمکه کې ډېرې داســې منبع گانې شــته چې د فســاد او شرارت رامنځته کولو موارد په کې شــته.([1]) د عامه نظم او امنيت په هکله د اهل سنت فقهاوو په کتابونو کې دې ډول خلکو ته چې په عامه لارو کې امنيت گډوډ کوي قطع الطريق ورته ويل شوي دي نو په پورته آيت کې هم امنيت گوا ښل په ا صل کې د لارو نا امنه کول دي او بيا چې به و سلواله توگه شي نو بيا خو حتماً ترې محاربه مراد ده.([2])

په بل ځای کې ورته بغاوت کوونکي يا سرکشانو خطاب شوی دی الله تعالی په قرآن کريم کې فرمايلي دي:

﴿**قَالُوا سُبْحَـٰنَكَ مَا كَانَ يَنۢبَغِى لَنَآ أَن نَّتَّخِذَ مِن دُونِكَ مِنْ أَوْلِيَآءَ وَلَـٰكِن مَّتَّعْتَهُمْ وَءَابَآءَهُمْ حَتَّىٰ نَسُوا ٱلذِّكْرَ وَكَانُوا قَوْمًۢا بُورًا**﴾.([3])

ژباړه: هغوی به عرض وکړي: ســتا ذات پاک دی، زموږ لپاره خو د دې وړتيا هم نه وه چې ســتا څخه پرته کوم بل څوک خپل سرپرست ونيسو، خو تا دوی او د دوی پلرونو، نيکونو ته ښه د ژوند لپاره وسايل ورکړل، آن تر دې چې دوی درس هېر کړ او په هلاکت کې ولوېدل.

په پورتني آيت کې هم د ينبغي کلمه يعنې د مخ گرځولو کلمه راوړل شــوې ده، په اصــطلاح کې بغاوت يا سرکشي کول د مالکيانو په عرف کې عبارت دی له هغې طاعت او بنده گي له منع کولو څخه چې بغير له معصيت او گناه څخه په مبالغې يا دروغو سره د ځان نه تاويل وکړي.([4])

---

[1] سيد قطب، فی ظلال القرآن، دارالشروق، چاپ پانزدهم، بيروت، ۱۹۹۸ميلادی، ج ۲، ص ۸۷۹.

[2] کاشانی، علاءالدين ابی بکر ابن مسعود، بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع، بيروت،موسسة التاريخ العربی، چاپ سوم، ۱۴۲۱هجری قمری، ج ٦، ص ۴۷؛ ابن قدامه، عبدالله ابن احمد، المغنی، بيروت ،دارالکتب العربی، بی تا، ج ۱۰، ص ۳۰۲؛ سرخســی، شــمس الدين، کتاب المبســوط، تحقيق جمعی از علمای بيروت ، درالمعرفة، چاپ اول، قم، ۱۴۰٦، ج ۹، ص ۱۹۵. حصــفکی علاء الدين، حاشــية علی الدر المختار شرح تنوير الابصــار، بيروت، دارالفکر، ۱۴۰۵، ج ۴، ص ۱۸۷ ؛ ابوالبرکات، بی تا، ۲۴۸؛ بهوتی، ۱۴۱۸، ۱۹۰، ابن حمزه سيوطی، الوسيلة الی نيل الفضيلة، تحقيق محمد الحسون، قم ،کتابخانه ای آيت الله مرعشی، چاپ اول، ۱۴۲۱، ۳: ٦۳.

[3] سورة الفرقان، آيت نمبر ۱۸.

[4] حاشية الدسوقي: ۴/ ۳۰۰.

د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په قول سره بغاوت او سرکشي کول د حکومت په وړاندې حرام دي ځکه په دې هکله رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمايلي دي:

**« من نزع يده من طاعة إمامه، فانه يأتي يوم القيامة، ولا حجة له، و من مات وهو مفارق للجماعة، فانه يموت ميتة جاهلية».**([1])

ژباړه: چاچې د امام یا حاکم د متابعت څخه سرکشي ـ وکړه نو د قیامت په ورځ به دغه شـخص بغیر له کوم حجت او دليل څخه راتګ کوي او څوک چې د ډلې یا حکومت څخه جلا شو یعنې بغاوت یې وکړ او په بله لار روان شو یا یې مخالفت کې ودرېده او په دغې مخالفت کې مړ شو نو د دې سړي مرګ د جاهلانو سره دی.

د باغي انسان د جرم سزا په هکله هم د نظر اختلاف شتون لري که چيرې بغاوت کوونکی انسان په يوه لاره کې مسافرين چور او چپاول کړي؛ نو په دغې باندې حد نه واجبيږي ځکه دغه مال اخيستل د بغاوت کوونکي لپاره مباح عمل يعنې کوم ممانعت ورله نشـته، اما که چيرې بغاوت کوونکی په انصـاف سره يو څه مال غلا کړي، نو امام نشيـ کولائ چې د دغې بغاوت کوونکي اړيکه د بغاوت د ځای سره پرېکړي دا خبره الزهري هم کړې ده. او په بله جمله کې دي، د امام ابو حنيفه (رحمه الله) په نظر په بغاوت کوونکي انســان باندې حدود نه قايميږي او نه امام د بغاوت کوونکی انســان د ځای ځمکې او کور ولايت کولائ شي. همداشــان نظر امام مالک او امام احمد بن حنبل (رحمه الله عليهم اجمعين) هم لري دوی ويلي د مال د تلف کولو په سر بغاوت کوونکی انســاد په حربي حالت کې دی د هغه نفس او مال دواړه په تلف کېدو کې دي لاکن حدود به پرې نه شي قايمېدای.([2])

امام شــافعي (رحمه الله) وايي: بغاوت کوونکی انســان به قطع کولی شي، ځکه دې د مســلمانانو مالونو ته زيان رســولی دی ولو که په خپل کور کې هم وي د ده په موجوديت کې هم دغه ډول حدود پرې قايمېدای شي هيڅ ممانعت او کموالی په کې نه راځي لاکن کتل کېږي به چې څومره د ډېرې سزا لايق او مستحق دی او که د کمې جزا مستحق دی. هر کله چې يو بغاوت کوونکی انسان په اسلامي هيواد کې مال غلا کړي نو دی به قطع کولی شي هيڅ ډول اسانتيا به ورسره نه کېږي يعنې څوک به داسې هم نه کوي چې دی د مجازاتو څخه منع کړي.([3])

او په يوځای کې داســې هم راغلي دي د بغاوت کوونکي انســان مجازات د امام شــافعي (رحمه الله) په قول د نفس او مال حد به پرې قايميږي لاکن د حربي مجازات به پرې نه تطبيقيږي او د وخت قاضي به دغه مجازات ورکوي، که چيرې يو بغاوت کوونکی انسان قتل وکړي؛ نو تر ټولو صحيح خبره دا ده چې دی به نه قتل کېږي، بلکې عفوه کول ورته جواز لري دی دې تر هغې پورې زنداني شي چې څو پورې دی خوراک کوي او څښــل کوي او که

[1] راجع جامع الأصول: ۴/ ۲۵٦ ؛ مجمع الزوائد: ۵/ ۲۱۹ ، ۲۲۰، ۲۲۴ ؛ نيل الأوطار: ۷/ ۱۷۱ ، ۱۷۳. ما روي عن أبي ذر و معاوية و أبي الدرداء وغيرهم كثير.

[2] القوانين الفقهية، ص ۳٦۴ ؛ المغني: ۸/ ۱۱۳.

[3] البدايع: ۷/ ۱۴۱ ؛ تحفة الفقهاء: ۳/ ۲۵۲ ؛ المهذب: ۳/ ۲۲۱.

چیرې په کړي عمل باندې پښېمان شو او توبه یې وویستله نو بیا ورته عفوه کولی شي او که پښېمانتیا یې و نه کړه نو بیا به پرې حدود تطبیقیږي.([1])

د افغانستان په جزا کوډ کې هم د دولت پر وړاندې د تجاوز کوونکي او مجرم په هکله په ۳۴۱ ماده کې داسې تشریح راغلې ده:

(۱) د هغه شخص په واسطه چې د یوه دولت سیاسي یا نظامي قدرت رهبري کوي له لاندې اعمالو څخه د یوه ارتکاب او د هغه ماهیت، شدت او پراخوالي ته په کتو سره د ملګرو ملتونو د سازمان د منشور د حریم د صریح، نقض موجب شي، د دولت پر وړاندې د تجاوز جرم پېژندل کېږي:

۱- د یوه دولت د وسله والو ځواکونو حمله یا یرغل د بل دولت پر قلمرو یا هر ډول نظامي اشغالول که څه هم په موقته توګه، چې له دغه شان حملې یا یرغل څخه را پیدا شوي وي یا له زور څخه په استفادې د بل دولت د ځمکې کلي یا جزیي هر ډول الحاق.([2])

۲ – د یوه دولت د وسله والو ځواکونو په واسطه د بل دولت د قلمرو بمباران یا د یوه دولت په وسیله د بل دولت د قلمرو پر ضد له هر ډول وسلې څخه استفاده.([3])

۳ – د بل دولت د وسله والو ځواکونو په واسطه د یوه دولت د بندرونو یا سواحلو محاصره.

۴ – د بل دولت د ځمکنیو، دریایي یا هوایي ځواکونو پر خلاف د یوه دولت د وسله والو ځواکونو حمله.

۵ – د یوه دولت له نظامي ځواک څخه استفاده چې د بل دولت په قلمرو کې واقع دی، د منونکي (پذیرنده) دولت په موافقه په هغه موافقه لیک کې د مقررو شرایطو پر خلاف یا د موافقه لیک د مودې له تېرېدو وروسته په دې قلمرو کې د هغوی د هر ډول حضور تمدید.

٦ – د یوه دولت عمل چې اجازه ورکوي قملرو یې چې د بل دولت په واک (اختیار) ورکړي، د هغه دولت په واسطه د ثالث دولت پر خلاف د تجاوز کارانه عمل لپاره تر استفادې لاندې ونیول شي.

۷ – د یوه دولت لخوا یا د یوه دولت په نوم د وسله والو ټولګیو (دستو)، ډلو، نامنظمو ځواکونو یا وسله والو مزدورانو استول چې د بل دولت پر خلاف، د دې مادې د (۱) فقرې په ۱ څخه تر ٦ اجزاوو کې د درج شویو اعمالو د تشدید په منظور شبه نظامي اقدامات ترسره کوي یا له دغو اقداماتو سره بنسټیزه مرسته کوي.(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې له درج شوو جرمونو څخه د یوه مرتکب په ۱ درجه دوام حبس محکومیږي.(۳) د دولت پر خلاف د تجاوز د

---

[1] المهذب: ۲/ ۲۲۱ ؛ مغني المحتاج: ۴/ ۱۲۹ ، ۲/ ۲۷۷.

[2] جزا کوډ، ماده نمبر ۳۴۱، لومړی بند لومړی شمېره.

[3] پورتنی ماده، لومړی بند، دویمه شمېره.

مرتکب پر خلاف د جزايي دعوې تحریک، د هغه دولت چې د تجاوز مورد گرځېدلی په شــکایت پورې منوط دی.[1]

## دویم مطلب: د دولت په وړاندې د متجاوزینو مجازات

د افغانستان په قوانینو کې دوه ډوله اشخاص د انسانانو یا بشریت په وړاندې د جرمونو مسئول بلل کېږي لومړی نظامي فرمانده یا خبر ورکوونکی او راپور ورکوونکی دی او دویم رهبران یا رهبري کوونکي اشخاص:

نظامي فرمانده یا هغه شـخص چې د جنگ د بشري ضـد جرم او دولت پر خلاف د تجاوز د جرم د ارتکاب په صورت کې، په یوه د لاندې حالاتو کې د جزايي مسؤلیت لرونکی دي، له احوالو سره سم په طویل حبس یا ۲ درجه دوام حبس محکومیږي.

۱- په هغه حالت کې چې تر خپل امر لاندې ځواکونو د جرمي اعمالو له ارتکاب څخه خبروي او له هغو مخنیوی ونکړي .[2]

۲- په هغه حالت کې چې اوضــاع او احوالو ته په کتو سره یې کولی شــواي تشــخیص کړي چې د هغه ځواکونو د جرمونو مرتکب کیږي یا دهغو د ارتکاب قصد لري.[3]

۳- په هغه حالت کې چې د دغو جرمونو له ارتکاب څخه د مخنیوي لپاره لازم تدبیرونه ونه نیسي یا په هغو کې سهل انگاري وگړي.[4]

۴- په هغه حالاتو کې چې موضوع د بررسی او عدلي تعقیب لپاره واکمنو مراجعو ته ارجاع نکړي.[5]

# پنځم مبحث: د عامه نظم او امنیت په وړاندې جرایم

عامه نظم او امنیت په وړاندې جرایم هغه جرایم دي چې د یو یا څو اشـخاصـو له لورې په ټولنه کې د انسـانانو هغه حقوق چې اسلامي شریعت او د افغانستان قوانینو ورته ورکړي وي هغه تر پښو لاندې کړي یا عامه امنیت او نظم گډوډوي همدغې ته د عامه امنیت په وړاندې جرایم ویل کېږي. هر هغه څوک چې په قصــدي توگه حریق رامنځته کوي، منفجره او انفلاقي مواد بغیر د نظام او حکومت له اجازې انتقالوي، عامه لارو کې له خلکو په زوره پیســې او مالونه اخلي یعنې مزاحمت کوي، عامه ځایونه او اماکن تخریبوي، څړځایونه تخریبوي یا یې خپل شخصي ملکیت گڼي او دا سې نور... ټول د عامه نظم او امنیت په وړاندې جرایم بلل کېږي چې مرتکبینو ته یې د ا سلامي شریعت او

---

[1] جزا کوډ، ماده نمبر ۳۴۱.

[2] جزا کوډ، ۳۴۲ نمبر ماده، لومړی بند.

[3] جزا کوډ، ۳۴۲ نمبر ماده، دویم بند.

[4] جزا کوډ، ۳۴۲ نمبر ماده، دریم بند.

[5] جزا کوډ، ۳۴۲ نمبر ماده، څلورم بند.

د افغانستان د جزا کوډ له مخې ببلا ببل مجازات ټاکل شوي دي تر ټولو لومړی يې قصدي يا عمدي حريق شريح شوی او مرتکبينو مجازات هم راوړل شوي دي.

## لومړی مطلب: قصدي(عمدي) حريق

د هغې چلندونو په هکله جرمونه چې عامه امنيت او نظم ته زيان رسوي په اسلامي شريعت، ديني احکامو او فقهي منابعو کې د پاملرنې وړ دي، دغې جرمونو ترسره کوونکو په هکله اسلامي فقهې يو لړ اصولو او احکام راويستلي دي چې د ټولنې اړتياوو ته ځواب ويونکي دي، له دغې جملې څخه يو يې د عامه امنيت او نظم په وړاندې جرمونه دي چې د اسلامي شريعت له نظره د شديدو قوانينو سره مل دي د عامه امنيت او نظم په وړاندې جرمونو په هکله په ټولنه کې د فقهاوو ترمنځ اختلافي نظريات او دلايل شتون لري خو په دې هکله د نظرياتو اختلاف اصل کې په ځمکه کې د فساد کولو او رامنځته کولو په هکله اختلافاتو شتون دی: الله تعالی د سورة مائدې په ۳۳ نمبر آيت کې داسې فرمايلي دي:

ژباړه:(کوم خلک چې له الله او د هغه له پيغمبر سره جنګيږي او په ځمکه کې د دې لپاره منډې ترړې کوي چې فساد راولاړ کړي؛ نو د هغو سزا دا ده چې ووژل شي، يا په دار وځړول شي، يا يې لاسونه او پښې ردو بدل غوڅ کړل شي، يا له وطنه وشړل شي. دا ذلت او سپکاوی خو د هغو لپاره په دُنيا کې دی او په اخرت کې د هغو لپاره له دې څخه هم لويه سزا ده).([1])

په دې خاطر چې قانون جوړونکي زموږ په هيواد کې د اشخاصو د مالکيت په حق، د مالونو حق ته ډېر اهميت ورکولو باندې قايل دي، د مالونو په وړاندې هر ډول تجاوز جرم بلل کيږي او د اسلامي جزايي قانون له مخې ورته سخت مجازات ټاکل شوي دي.

له دغې جملې څخه د خلکو هغه مالونه چې مالک يې ممکن په يو دليل يا د يوې ستونزې له امله حريق شي يا ټول په اور باندې وسوځول شي، نو دغې کار ته عمدي حريق يا قصداً سېځل وايي چې مجازات يې په جزا کوډ کې ټاکل شوي دي:

(۱) هغه شخص چې ځان يا نورو ته د ضرر رسولو په مقصد عمدآ منقول يا غير منقول مال ته اور واچوي له احوالو سره سم، په قصير حبس محکوميږي.

(۲) که چيري ددې مادې ۱ فقره کې درج شوي جرم په مړينه يا جسمي صدمي تمام شي، مرتکب پايلې ته په پام سره، په دې قانون کې درج د مرتکبه جرم په مجازاتو محکوميږي.

(۳) که چيرته اور اچول يو له لاندې ځايونو کې صورت ومومي، مرتکب په ۲ درجه دوام حبس محکوميږي:

[1] سيد قطب، ۱۹۹۸ميلادی، جلد ۲، ص ۸۷۹.

۱- د نظامي ځواکونو اړتیا وړ موادو یا وسلې او د هغو د ملحقاتو فابریکه او ډیپو.
۲- کان، د نفتو یا ګازو څاه.
۳- د سون د موادو یا د احتراق وړ موادو یا چاودیدونکو موادو زیرمتون.
۴- د حرارتي، آبي یا هسته يي بریښنا د تولید دستګاوې.
۵- د اوسپنې د پټلۍ دستګاوې، د اوسپنې د پټلۍ ماشین یا هغه واګون چې د اشخاصو لرونکي وي او یا هوايي ډګر یا الوتکه او یا کښتۍ یا د هغې بندرګاه.
٦- هغه ځایونه چې عامه خلک په هغو کې استوګنه یا تګ راتګ ولري.
۷- هغه ودانۍ چې یوه له دولتي ادارو یا تصدۍ یا عامه مؤسسو څخه هلته قرار ولري.
(۴) که چیرې د دې مادې په ۳ فقره کې د درج شـــوي جرم له ارتکاب څخه موخه د جنایت د ارتکاب اســانول یا د هغه د اثارو له منځه وړل وي، مرتکب د مرتکبه جرم پر جزا برســېره، تر درېو کلونو پورې په متوســط حبس باندې محکومیږي.([1])

**الف: د ځنګلونو قصدي (عمدي) حریق**

د اسلامي شریعت له مخې ځنګلونه یا شنه نیالګي سېځل ښه کار نه دی، ځکه د شین نیالګي یا ونو سېځل یو ډول جرم دی، له دغې جرم څخه د ځان ساتلو په موخه په کار ده چې ټول مسلمانان شرعي احکام په پام کې ونیسي. الله تعالی دغې انســانانو ته ظالمانو خطاب کړی دی، ځکه د ســاینسي ـ علومو له نظره هر نیالګی کولای شي چې په ځمکه کې د بې شـمېره افتونو د راتګ لکه سـیلاب راوتلو یا د هوا د ککړتیا په له منځه وړلو او د هوا په تصـفیه کولو کې رول ولري. همدغې موخې ته په کتو د افغانســتان په قوانینو کې د ځنګل ســاتنې په هکله یو شــمېر موارد شــتون لري، د جزا په کوډ کې ځینې مجازات د ځنګلونو د ســیځونکي لپاره ټاکل شـــوي د همدغې مجازاتو د پلي کېدو هدف او مقصـد همدا دی چې ځنګلونه چې عام المنفعه ځایونه دي باید د اسـلام د دین له نظره یې سـاتنه وشي، که دغه ډول عامه ځایونه وســوځول شي یآ تخریب شي، نو عامه امنیت او نظم له خطر سره مخ کېږي، د ځنګلونو سوځوونکو لپاره لاندې مجازات ټاکل شوي دي:
(۱) هغه شخص چې خصوصي ځنګل ته په عمدي توګه اور واچوي، په متوسط حبس محکومېږي.([2])

په پورتنۍ شـمېره کې د خصـوصي ځنګلونو د سـوځېدو یادونه شـوې ده. په ځینو سـیمو کې ځنګلونه په قومي لحاظ یا په کورنیو باندې ویشــل شــوي وي خو بیا هم عام المنفعه دي یعنې د یو قوم هر وګړی او د یوې کورنۍ هر غړی کولای شي چې د دغې ځنګل له نیالګیو او لرګیو څخه د آبادۍ او ســوخت لپاره اســتفاده وکړي، خو په ټولنه

[1] جزا کوډ، ۳۴۴ نمبر ماده.
[2] جزا کوډ، ۳۴۷ نمبر ماده، لومړی بند.

کې ځینې وران کاري انسانان شتون لري، چې په قصدي توګه ځنګلونو ته اور اچوي دغه ډول ا شخاص د جزا کوډ له مخې مجرمین دي او د دوی دغه تخریبوونکي اعمال جرمونه ګڼل کېږي، د دې جرم مرتکب به په منځنۍ بند باندې محکومیږي.

(۲) هغه شخص چې دولتي ځنکل ته په عمدي توګه اور واچوي، په طویل حبس محکومیږی.(۱)

معنا دا که تخریبوونکي اشخاص د یوې سیمې یا یوې علاقې عام المنفعه ملکیت (ځنګل) ته په قصدي ډول اور واچوي او هغه وسوځي؛ نو دغه ډول اشخاص مجریمین دي او د دوی کړنې جرم دی چې د جزا کوډ له نظره به دغه مرتکبین په اوږدې مودې بند باندې محکومیږي.

## ب: د څړځایونو حریق

پورته د ځنګلونو د حریق په اړه دوه ډوله موارد او حالتونه ذکر شول، لومړی دا چې شخصي ځنګل ته اور اچول د منځنۍ مودې د بند په محکومیدو باندې دلالت کوي او ورپسې عمومي ځنګلونو ته اور اچول او قصداً سوځول بیا هغه جرم و چې مرتکب ته یې د اوږدې مودې د بند سزا ورکول کېږي. دلته په دې ځی کې اوس د علفچر یا څړځآیونو چې دا هم د هیوادوالو لپاره عامه ملکیت دی، په دې معنا چې د ټولنې هر غړی کولائ شي چې خپل مالونه د څرولو لپاره دغې څړځایونو ته یوسي او هلته یې وڅروي، اما ځینې مجرمین شته چې په هیوادوالو باندې یې دغه ملکیت پیرزو نه وي؛ دوی کوښښ کوي، چې څړځای وسوځوي او خلکو ته زیان ورسوي، د دوی دغه کار عامه امنیت او نظم هم ګډوډ کوي، او اعمال یې تخریبوونکي او جرمونه ګڼل کېږي. د افغانستان دجزا کوډ له مخې د علفچر یا څړځای سوځوونکي لپاره چې په قصدي توګه یې سوځولی وي لاندې مجازات ټاکل شوي دي:

(هغه شخص چې څړځای ته اور واچوي له پنځو زرو څخه تر دېرشو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومیږي).(۲)

معنا دا هر هغه څوک چې د علفچر یا څړځای د سوځولو په جرم باندې مرتکب شو؛ نو د افغانستان د جزا کوډ له مخې به د پنځه زرو نه تر دېرشو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا باندې محکومیږي.

## ج: د قصدي حریق د رامنځته کېدو دلایل

په ټوله کې یو شمېر دلایل شته چې د عمدي یا قصدي حریق او سوځېدنې لامل کېږي او له امله یې ودانۍ، ځمکې او عامه ځایونه له منځه ځي، دا علتونه عبارت دي له:

- ❖ فردي بې احتیاطي او نا پاملرنه لکه د سیګریټ روښانه پرېښودل، اُتو یا ایصري بل پرېښودل او داسې نور...
- ❖ د دستګاه ګانو په جوړولو کې د اور اخیستلو ځای یا شکل پرېښودل.
- ❖ قصدي اور اچوونه.

---

[۱] جزا کوډ، ۳۴۷ نمبر ماده، دویم بند.

[۲] جزا کوډ، ۳۴۸ نمبر ماده.

❖ طبيعي پديدې لکه زلزله، برېښنا يا برق.

ټول هغه جرايم دي چې د هغې اغيزې او زيانونه کولای شي په عامه امنيت او نظم باندې تاثير وکړي، پورتني ټول تشريح شويو عوامل د عمدي حريق سبب کېدای شي. دا داسې جرمونه دي چې د ټولنې عامه امنيت او نظم په مســتقيم ډول د ګډوډۍ او تخريب سره مخ کوي، ټولو جرايمو د عامه امن او نظم په داخل کې ځای نيولی دی او د ځانګړي اهميت څخه برخوردار دي. عمدي حريق هغه جرم دی چې د افغانستان په جزا کوډ کې د عامه امن او نظم په برخې پورې تړل شوی دی.

د افغانستان په جزا کوډ کې د عامه امنيت او نظم په هکله کوم تعريف نه دی راغلی، اما د پوليسو په قانون کې بيا د عامه امنيت په هکله تعريف شته چې په لاندې توګه تشريحات لري:

عمومي امنيت هغه حالت دی چې په هغې کې د دولت حقوقي نظام، انســاني کرامت، ازادي، ټولنيزه او مالي روغتيا ساتل شوي وي.

عامه نظم هغه ټولنيز ارامتيا ده چې د قانون سره سم د پوليسو له لورې تأمين کېږي.

لکه څنګه چې ليدل کېږي پورتني دواړه تعريفونه ډېر پراخوالی لري، ان تر دې د دې تعريف په اســاس کولای شو چې د عامه امن او نظم ټول جرمونه په دې برخې کې شامل شي.

اما د يادولو وړ ده چې اړوند تعريفونه او مفاهيم په اکثره حقوقي نظامونو کې د پوهانو له نظره ډېر شــباهت او پراختيا لرونکي دي په هيڅ حقوقي نظام کې دغه تعريفونه له محدوديت څخه برخوردار نه دي. د دوه تنو پوهانو تعريفونه چې د عامه امنيت او نظم په هکله يې کړي دي په لاندې توګه راوړل شوي دي:

کاپيتان چې د فرانسې حقوق پوه دی عامه نظم دا ډول تعريفوي: (( عمومي نظم هغه ټولګه او قوانين دي چې د عمومي چارو د ښه سرته رسوونې په منظور يا د عمومي امنيت او تأمين او د ټولنې دخلکو ترمنځ د اړيکو لپاره ټاکل شوي وي او خلک و نه شي کولای چې د هغې خلاف عقيده رامنځته کړي)).

(( ټول هغه تاســيســات او قواعد چې په يو هېواد کې د عمومي خدمتونو، امنيت او اخلاقي غوره والي لپاره د خلکو ترمنځ د اړيکو په توګه پالل کېږي او له هغې نه سرغړوونه نه کوي د عامه نظم په نامه يادېږي)).

اګر که دا دواړه تعريفونه د مدني حقوقو له نظره وړاندې شوي دي: اما هغه څه چې دغه دواړه تعريفونه د حقوقو په نورو برخو پورې مربوط کوي، هماغه د قوانينو او ترتيبي اصولو موجوديت دی چې د عامه امنيت او نظم په موخه رامنځته شوي يا تعريف شوي دي.

د خبرو د اوږدوالي په منظور ويلی شــم چې د عامه امن او نظم په هکله د پوليســو په قانون کې دغه تعريف هم بس دی چې په دې برخې کې لاندې موارد هم شامیل دي.

د دغې برخې لومړنی جرم عمدي يا قصـدي حريق دی چې په پورته برخه کې پرې بحث وشـو او پاتې برخه يې

په لاندې توګه تشريح شوې ده:

جرم يوه دا سې پديده ده چې په هره ټولنه کې شتون لري، همدغه جرمونه دي چې د هرې ټولنې نظم خرابوي يا يې نا امنه کوي هر جرم له درې برخو څخه جوړ شوى دى چې عبارت دي له د جرم قانوني عنصر، مادي عنصر او رواني عنصر دغه درې عنصرونه چې په يو وخت په يوه ټولنه کې واقع شي نو جرم رامنځته کېږي. مګر مادي جرم بيا د جرم په هکله هغه بهرنى شکل دى چې له بهر څخه د ځينو اثارو درلودونکى وي.[1]

حريق يو له خطرناک ترينو او پخوانيو بلاګانو له جملې څخه دى ځکه په لږ وخت کولائ شي چې د خلکو روغتيا له خطر سره مخ کړي، پر همدې اساس د حريق تعريف هم عبارت دى د هغې موادو له سوځېدو څخه چې په لږ وخت کې اور واخلي او له کنټرول څخه ووځي چې په معمول ډول ورسره اور، لوګى او ګرموالى ملګرى دوي. يا په اور سوځېدل عبارت دي له هغې اور څخه چې د يوې حرارتي منبع له امله له کنټرول څخه ووځي او يوه پېښه رامنځته کړي يا د کنټرول منبع له لاس ووځي يا پرېښودل شوي او په خپلواک ډول اور زياتوالى وکړي نو دغې پراختيا ته اور سوځېدنه وايي.[2]

د کاکسيد ا سيون اور ډېر تېز وي کولاى شي په لږ وخت کې ډېر حرارت رامنځته کړي، يعنې د اور د سوځېدو په تعريف کې دا ماده چې کاکسيد ا سيون نومېږي هم په پام کې نيول شوې ده چې ډېر ژر اور اخلي او د اور اندازه زياتولى شي.

د اور توپير او چاودنه: په سرعت سره د زياتې اندازې انرژي ازاديدل دي چې په پايله کې اکسيد اسيون چټکيږي. چاودنه او سوځېدل د انرژي څخه نه ترلاسه کېږي، بلکې د انرژي د توليد سرعت سره اړيکه لري.

١. ګازونه او بخارونه چې د اور اخيستنې تر ټولو خطرناک ترين وسايل دي ممکن ډېر زيات انساني تلفات هم رامنځته کړي کېداى شي د ډېرو لويو سيمو او ودانيو په سوځېدو کې مهم رول ولوبوي.
٢. زرې: هر هغه څه چې د لوګي په نامه د اور يا سوځېدنې څخه توليديږي په واقعيت کې د سوځېدنې محصول دى چې په عمومي توګه د ناقص يا نميګړي اور په پايله کې دغه ډول زرات رامنځته کېداى شي.
٣. شعله يا لمبه: د اور هغه ليدونکې برخه ده چې د ډېر حرارت او ګرموالي سره تړل شوې او اکسيجن سره تړل شوې ده د سوځېدو رنګ يې هم د سوځېدو ماهيت سره تړل شوى دى.
٤. ګرمايش: د سوځيدو يو له ترلاسه کېدونکو مادو څخه شمېرل کېږي کېداى شي د وخت په تېرېدو سره د اور حرارت نور هم زيات شي يا کم شي، هر څومره چې د سوځېدو ماده زياته وي هماغومره حرارت هم

[1] جزا کوډ، ۲۷ نمبر ماده.

[2] اردبيلي محمدعلي، حقوق جزاى عمومي، جلداول، چاپ پنجم،۱۳۸۲، نشرميزان، ص ۱۸.

زیاتیږي.[1]

**د: د فقهې او قانون له نظره د عمدي حریق مجازات**

حریق د امام ابو حنیفه (رحمه الله) په قول باندې هغې اور ته ویل کېږي چې په قصـــدي او عمدي ډول اچول شوی وي، دا هغه اور ته هم منسوب کېدای شي چې د جسدونو بېلا بېلې برخې په کې سوځول کېږي.[2]

د امام مالک (رحمه الله) په قول به هغه شـخص چې پع عمدي ډول حریق رامنځته کوي باید قصـاص کړل شي ځکه ده په دښمنۍ سره د ملک د غرق کولو اراده کړې ده.[3]

امام شافعي او امام أحمد (رحمه الله) فرمایلي: که یو څوک د اور او د اوبو د شخصي کېدو دعوا کوي نو دواړه شیان شخصي کېدای نه شي او نه یې څوک مالک کېدای شي که چیرې څوک په اور کې وسوځول شول په داسې حال کې چې هغه د ځان خلاصـولو نه عاجزه وي، یا مریض وي او یا هم کمزوری او ضـعیف وي نو د جرم مرتکب لپاره قصاص نشته بلکې دیة به ورکوي دا قول د امام شافعي او امام أحمد دی.[4]

په پورتني عنوان کې د حریق د رامنځته کېدو عوامل او دلایل وڅېړل شـــول، دلته په دې عنوان کې د دغه ډول حریق د قصدي رامنځته کوونکي چې قصداً یو شخص یا یوه ډله د پورته عواملو له مخې یوه ودانۍ، یا نورې وسیلې په اور باندې ســـوځي د هغوی دغه کړنه جرم بلل کېږي او مرتکبین یې مجرمین دي چې د جزا کوډ له مخې ورته لاندې مجازات ټاکل شوي دي:

هغه شخص چې ځان یا نورو ته د ضرر رسولو په مقصد عمدآ منقول یا غیر منقول مال ته، اور واچوي له احوالو سره سم، په قصیر حبس محکومیږي.

(۲)که چیرې ددې مادې په ۱ فقره کې درج شوي جرم په مړینه یا جسمي صدمې تمام شي، مرتکب پایلې ته په پام سره، په دې قانون درج د مرتکبه جرم په مجازاتو محکومیږي.

(۳) که چیرې اور اچول په یوه له لاندې ځایونو کې صورت ومومي، مرتکب په ۲ درجه دوام حبس محکومیږي.

۱- د نظامي ځواکونو د اړتیا وړ توکو یا وسلې او د هغو د ملحقاتو فابریکه او ډیپو.

۲- کان د نفتو ګازو څاه.

۳- د سون د موادو یا د احتراق وړ موادو یا چاودیدونکو موادو زیرمتون.

۴- د حرارتي، آبي یا هسته یي بریښنا د تولید دستګاوې.

[1] آقایین،حسین،تقریرات درسي حقوق جزای اختصاصي،مقطع دکتری۱۳۸٦،ص٢٦ .

[2] الدر المختار ورد المحتار: ٥/ ٣٧٥، ٣٨٦ ؛ نتایج الافکار – تکملة فتح القدیر: ٨/ ٢۴٥.

[3] نتایج الافکار: ٨/ ٢٦٧ ؛ الدر المختار: ٥/ ٣٨٥.

[4] مغني المحتاج: ۴/ ٨ ؛ نهایة المحتاج: ٧/ ١٠ ؛ المهذب : ٢/ ١٧٦، ١٩٢ ؛ المغني: ٧/ ٦۴١ ؛ کشاف القناع: ٥/ ٥٩٠.

۵- د اوسپني پټلۍ دستګاوې، د اوسپنې د پټلۍ ماشين يا هغه واګون چې د اشخاصو لرونکی وي او يا هوايي ډګر يا الوتکه او يا کښتی يا د هغې بندرګاه.

٦- هغه ځايونه چې عام خلک په هغو کې استوګنه يا تګ راتګ ولري.

٧- هغه وادنی چې يوه له دولتي ادارو يا تصدی يا عامه موسسو څخه هلته قرار ولرې.

(۴)که چيرې د دې مادې په ۳ فقره کې د درج شوې جرم له ارتکاب څخه موخه د جنايت د ارتکاب اسانول يا دهغه د آثارو له منځه وړل وي، مرتکب د مرتکبه جرم پر جزا برسېره، تر دريو کلونو پورې په متوسط حبس محکوميږي.[1]

**دويم مطلب: د غير عمدي حريق مجازات**

د افغانستان په قوانينو کې نه يوازې هغه اشخاص چې په قصدي توګه باندې حريق رامنځته کوي يا دولتي او يا هم شخصي مالونه او ځايونه سوځي د هغوی لپاره مجازات ټاکل شوي دي، بلکې هغه اشخاص هم د جزا کوډ په مخې د مجازات وړ دي چې په غير عمدي توګه د حريق رامنځته کېدو لامل کيږي، ځکه نوم ذاتې حريق جرم دی او د دغې جرم مرتکبينو ته بايد قوانينو سره سم مجازات ورکړی شي.

د افغانستان په جزا کوډ کې د غير عمدي حريق رامنځته کوونکي لپاره چې د ټولنې عامه نظم او امنيت ته زيان رسوي لاندې مجازات ټاکل شوي دي:

(۱) که چيرته د شخص د غفلت يا بې احتياطۍ له کبله، د بل چا منقول يا غير منقول مال حريق شي، مرتکب له ديرشو زرو افغانيو څخه تر شپيتو زرو افغانيو پورې په نغدې جزا محکوميږي.[2]

(۲) که چيرته ددې مادې په ۱ فقره کې درج شوي جرم، په مړينه يا جسمي صدمي تمام شي، مرتکب پايلې ته په پام سره، په دې قانون کې درج شوي غير عمدي مرتکبه جرم په مجازاتو هم محکوميږي.[3]

(۳) که چيرې ددې مادې په ۱ فقره کې درج شوي جرم له امله، عمومي مواصلات وځنډيږي او يا مالونو ته ستر ضرر ورسيږي، مرتکب په متوسط حبس محکوميږي.[4]

## دريم مطلب: د واکمنې مرجع له اجازې پرته د منفلقه يا چاودېدونکو موادو جوړول

په نړۍ کې منفلقه يا منفجره مواد په دې خاطر جوړيږي چې سالمه ا ستفاده ترې وشي، تر ټولو ښه مثال يې په سالمه توګه استعمال د ودانيو يا کورونو جوړولو لپاره د لويو ډبرو ماتول يا له غره څخه را ښلول دي، چې يوازينۍ لاره يې همدا کېدای شي. بل ښه مثال يې د معدنونو څخه د قيمتي ډبرو د راويستلو په وخت په داخل کې د ډبرو د

---

[1] جزا کوډ، ۳۴۴ نمبر ماده.

[2] جزا کوډ، ۳۴۵ نمبر ماده، لومړی بند.

[3] جزا کوډ، ۳۴۵ نمبر ماده، دويم بند.

[4] جزا کوډ، ۳۴۵ نمبر ماده، دريم بند.

غوځولو په پار له انفلاقي موادو څخه ګټه پورته کول، يا لکه د ريل ګاړي د پټلۍ او سـړک تېرولو لپاره د انفلاقي موادو څخه په استفادې سره د ډبرو ماتول او ګڼ شمېر نورې لارې هم د سالمې استفادې لپاره لري.

مګر په معاصره زمانه کې انفلاقي مواد اکثره د انسـانيت د تباهۍ او له منځه وړلو لپاره جوړيږي، په نړۍ کې چې کوم نوی توغندی يا ميزائيل او مرمۍ جوړيږي په ټولو کې انفلاقي مواد کارول کېږي، خو ازموينه يې بيا په انســانانو باندې کېږي، تر ټولو ښـــه بېلګه يې د امريکايي ځواکونو له لورې تر ټولو لوی جوړ شـــوي بم اســتعمال و چې د افغانســتان په ننګرهار ولايت کې يې وکاروه. د انفلاقي موادو دغه ډول کارونه چې د انسـانيت د تباهۍ او بربادۍ او نابودۍ لامل کېږي د افغانستان د جزا کوډ له مخې يو ډول جرم بلل شوی د دغې جرم مرتکبينو ته د جزا کوډ له مخې لاندې مجازات ټاکل شوي دي:

(۱) هغه شـــخص چې د واکمنو مقاماتو له اجازې پرته منفلقه يا چاودېدونکي مواد جوړ کړي، وارد يې کړي يا يې وساتي، د موادو پر مصادرې برسېره تر اوو کلونو پورې په طويل حبس محکوميږي.([1])

معنا دا که يو شـــخص يا يوه ډله د انفلاقي موادو کارکوونکي وي خو د دوی د انفلاقي موادو کاروبار لکه ســـاتل، واردول، صـــادرول يا جوړول د وخت د حاکمې ادارې د حاکمانو او مشرـــانو څخه پټ ترسره کېږي نو دغه شـــخص او ډله مجرمين دي او کړنې يې جرم ګڼل کېږي د جزا کوډ له مخې به د غفلت او ناخبرۍ په وجه په اوړده بند باندې محکوميږي.

(۲) هغه ماده چې د منفلقه او چاودېدونکو موادو په ترکيب کې کارول کېږي د اړوند تقنيني سند له حکمونو سره سم ټاکل کېږي.([2])

(۳) هغه سـامان، الات او ادوات چې د هغو په جوړولو يا چاودنه کې اسـتعماليږي، د منفلقه او چاودېدونکو موادو په حکم کې پېژندل کېږي.([3])

د پورتنيو تشرـيحاتو له مخې هر هغه مواد چې د انفلاقي موادو خاصـيت لري د هغې کارول، جوړول، واردول، صادرول او ا ستعمال که د دولتي خلکو او مسولو چارواکو څخه د نه خبرولو په صورت کې د دولتي ارګان له لورې ونيول شول؛ نو ورسره نيول شوي ا شخاص د افغانستان د جزا کوډ له مخې مجرمين دي د جرم په ترسره کولو سره به سم په اوږده بند باندې محکوميږي.

---

[1] جزا کوډ، ۵۳۰ نمبر ماده، لومړی بند.

[2] جزا کوډ، ۵۳۰ نمبر ماده، دويم بند.

[3] جزا کوډ، ۵۳۰ نمبر ماده، دريم بند.

**الف: د منفلقه او چاودېدونکو موادو استعمال**

